bawarketabtoon.com

international relation

# نړیوالې اړیکې

لیکوال: شمشاد حیدري

# سریزه

دا یو څرګند حقیقت دی، چې سیاست یو هنر دی او د هغې لپاره له خدایي ورکړې استداد نه پرته پراخې مطالعې او ورتیا ته اړتیا څکه چې هر هغه بشاري یواځې له دې کبله چې عاقل او بالغ دی، د واکمنی کولو ور نشي بلل کیدای او نه هم په کوځه کې تیرېدونکی سړی دا حق لري، چې پاچا یا واکمن غوره کړي، یو سړی پردې بنسټ چې اولس غوره کړي، د واکمن بلل کیدو حق نه لري پاچا یا واکمن یواځې هغه څوک کیدای شي، چې د هیواد د ساتلو او واک چلولو پوهه ولري. یو ښه سیاست پوه تل د خپل هیواد اړیکي په دوستانه ډول تر سره کولو لپاره تل هڅه او هاند کوي، چې په یوه متقاربه طریقه ترسره کړي؛ نو د دي موخې د ترسره کولو لپاره هغه د هغه طریقو څخه کار اخلي کوم چې د ملي ګټو ساتندوی اوسي، چې دي څخه یو نړیوالي اړیکي دي، چې د هیوادونو ترمینځ د امن او ثبات ساتندوی دي.

نړیوالي اړیکي په نړیواله کچه د خپلواکو او ملي حاکمیت لرونکو دولتونو تر مینځ د منل شویو پرنسیپونو او قواعدو په عمدي توګه، هر اړخیز اقتصادي، سیاسي، کلتوري، سوداګریزي او نوري اړیکي منظموي او له حقوقي اړخه یې اداره کوي، نړیوالي اړیکي د دولتونو تر مینځ موجوده نړیوال عمومي او نړیوال خصوصي اړیکو ته حقوقي بڼه ورکوي نړیوالي اړیکي د نړیوالي سولي او ثبات ضمانت کوي او د هیوادونو ترمینځ د یوي صلح آمیزي فضا رامیځته کولو تضمین کوي.

اوسني درسي کتاب تر کومه مې چې وسه وه، د نويو ماخذونو او سرچينو او معتبرو کتابونو څخه په استفادې سره تهيه شوی دی.
هيله من يم، چې د دغه درسي کتاب په وړاندي کولو مې ذومره کړي وي، چې لږ تر لږه مې هغه خدمت چې يو ليکوال يې تر خپلو ډيرو هيلو څخه لري. دغه شان له لوستونکو څخه هيله کوم چې د کتاب د لوستلو په دوران د کومې تيروتنې سره مخامخ شي؛ نو ليکوال ته يې ښښنه وکړي.
په پای کې د مومند خپرندويې ټولنې مننه کوم، چې زما د دې اثر د خپراوي لپاره يې په پراخه تنده زمينه برابره کړه
په درنښت
شمشاد حيدري (د آريانا پوهنتون) د حقوقو او سياسي علومو د ديپلوماسۍ د څانګې د ۱۳۹۰ کال فارغ التحصيل

## د خپرندویې ټولنې یادښت

مومند خپرندویې ټولنې تل هڅه کړې، چې خپلو هیوادوالو ته علمې کتابونه وړاندې کړي او تر یوه حده په دې کار کې بریالې شوې هم یو او تر دې دمه مو په بېلابېلو برخو کې په سلګونو کتابونه خپاره کړي او که ژوند یارې کوله نور به هم مخ پر وړاندې تګ ته مو ملا تړلې.

موږ تر اوسه ډېره هڅه کوله، چې له نورو ژبو علمې آثار خپلې پښتو ژبې د بډاینې لپاره وژباړو، چې مومند خپرندویې ټولنې تر اوسه تر سلو زیات شمیر ژباړل شوي کتابونه خپاره کړي او له دې وروسته به یې هڅه دا وي، چې لیکوالان او د پوهنتون استادان وهڅوي، چې پخپله علمي اثار ولیکي، چې د بهرنیو هیوادونو د لیکوالانو په څېر دوی هم له خپلو آثارو څخه په دوامداره توګه څه اقتصادي ګټه ترلاسه کړي دا په دې مانا چې موږ په پام کې لرو چې لیکوال ته په دوامداره توګه په بیابیا چاپ کې خپله برخه ورکړو.

په پای کې تاسو لوستونکیو ته ډاډ درکوو چې تر دې وروسته ان شاء الله ستاسو مخې ته د بې خایه ناولونو او بیولالو پر ځای ګټور، سیاسي، ټولنیز او علمي کتابونه وي او په دې کار کې له خپلو ټولو خواږو ملګرو، استادانو نه هیله کوو چې په دې جهاد کې له موږ سره قلمي مرسته وکړي او زموږ حوصلې نوري هم لوړې کړي.

په تلوتلو کې خوان شمشادحیدري ته د دې ګټور کتاب د چاپ مبارکي وایو او همداشان نورو ګټورو اثارو ته یې سترګې په لار یو.

د سر لوړي افغانستان په هیله

مومند خپرندویه ټولنه

## نړیوالي اړیکې

لړلیک | مخ

سریزه

### لومړي څپرکی


لومړی: د نړیوالو اړیکو پېژندنه........................ ۱
۱: د نړیوالو اړیکو تاریخي اسناد........................ ۴
۲: د نړیوالو اړیکو تاریخي پس منظر........................ ۵
۳: منځنۍ پېړۍ او نړیوالې اړیکې........................ ۱۲
۴: ملي دولتونه او نړیوالې اړیکې........................ ۱۴
۵: میرکانتیلیزم
Mercantilism........................ ۱۷
۶: فیزیوکراسي یا د اراضیو حکومت (Physiocracy)........ ۱۸
۷: نړیوالې اړیکې په اوسني وخت کې........ ۲۰
۹: استعماري نظامونه او نړیوالې اړیکې........................ ۲۲
۱۰: دملګرو ملتونو سازمان........................ ۲۸
۱۱: د ناټو تړون........................ ۲۷


### دویم څپرکی


لومړی: د نړیوالو اړیکو ډولونه... ۵۱
۱: خصوصي نړیوالې اړیکې........................ ۵۱
۲: عمومي نړیوالې اړیکې ۵۲
۳: د خصوصي نړیوالې اړیکو او عمومي نړیوالو اړیکو ترمینځ
توپیرونه. ۵۲

## دریم څپرکی


لومړی: د بین المللي روابطو د څیړنو مسایل.............. ۵۴
۱. مداخله یا لاسوهنه ( Intervertionism )............... ۵۵
۲. د بشر حقوق ( Human rights)............................ ۵۷
۴.نړیوال کیدل (Globalization)............................ ۶۰
۵. اجتماعي کیدل یا عصري کېدل ۶۱
۶. د اقتصاد نړیوال کېدل ۶۳
۷. د سیاست نړیوال کېدل ۶۷
۸. د نړیوال کېدلو کلتورونودولونه ۶۸
۹. دین نړیوال کېدل ۷۰
۱۰. نظامي تړونونه ۷۱
۱۱. د سیتو تړون ۷۲
۱۲. غیر سیاسي ترهګري ۷۴
۱۳. چینایي ترهګري ۷۶
۱۴. میکروبي ترهګري ۷۸
۱۵. دسمندر د تل تړون ۸۰
۱۶. ملت پرستي ۸۱
۱۷. ناپیلتوب ۸۲
۱۸. دولتي حاکمیت ۸۹
۱۹. انسانیتساتنه ۹۰


## څلورم څپرکی


۲۰. په اسلام کې نړیوالې اړیکې ۹۲
۲۱. په نړیوالو اړیکو کې د ساینس نمایندهګانوحقوق ۱۰۵
۲۲. په نبوي دور کې ترجمانان ۱۰۸
۲۳. په اسلام کې دسولې تړونونه ۱۱۱

## پینځم څپرکی


۲۴. د نړیوالو اړیکو په اړوند د علماوو نظریات ۱۱۳
۲۵. د نړیوالو اړیکو په اړه دامپریالیزم نظریات ۱۱۵
۲۶. د امپریالیزم اقتصادي اړخ ۱۱۷
۲۷. د امپریالیزم د ایډیالوژۍ اړخ ۱۲۰
۲۸. د تړاو نظریه ۱۲۲


## شپږم څپرکی


۲۹. د نړیوالو اړیکو د مطالعې ارزښت ۱۲۶
۳۰. د تنني نړیوالو حالاتو له حیثه ۱۲۸


اووم څپرکی


۳۱. دملل متحد ځانګړي سازمانونه ۱۳۲
۳۲. د خوړو او کرنې سازمان ۱۳۳
۳۳. د نړیوال اتومي انرژۍ اژانس ۱۳۴
۳۴. د ملګرو ملتونو دصنعتي سازمان ۱۳۸
۳۵. نړیوال بانک ۱۴۰
۳۶. خوړو نړیوال سازمان ۱۴۲
۳۷. د سره صلیب نړیواله کمېټه ۱۴۴


## اتم څپرکی


۳۸. د نړیوالو اړیکو او نړیوال سیاست ترمنځ توپیر ۱۴۶
۳۹. سیاستونه ۱۴۸


## نهم څپرکی


۴۰. په نړیوالو اثر اچوونکي بنیادي عوامل ۱۵۴

۴۱. جغرافیوي موقعیت ۱۵۵
۴۲. د یوهېواد وګړي ۱۵۲
۴۳. قومي ، ژبني او اقتصادي عوامل ۱۲۰
۴۴. حکومتي سیستم او عوامل ۱۲۲

## لسم څپرکی

۴۵. په سوله باندې اختلافاتو حل سوله یزې لارې ۱۲۴
۴۶. لومړی دلاهي د سولې کنفرانس ۱۲۸
۴۷. د جامعه ملل د سازمان تشکیل ۱۷۰
۴۸. د ملګرو ملتونو دسازمان تشکیل ۱۷۳
۴۹. د عضوه هېوادونو تعاهد ۱۷۵
۵۰. د نړیوالو اختلافاتو حل وفصل دحقوقي روشونو پواسطه ۱۷۸
۵۱. مذاکرات ۱۸۰
۵۲. دملګرو ملتونو دسازمان منځګړیتوب ۱۸۲
۵۳. د افریقا دمنځګړیتوب سازمان ۱۸۹
۵۴. دسولې په وخت کې نړیوال روابط داسلام دنظره ۱۹۲
۵۵. دتجاوز په مقابل کې دفاع ۱۹۳

## یوولسم څپرکی

۵۲. سیاست کرنلاره ۱۹۲
۵۷. د پالیسی جوړونې د دوران برخې ۲۰۱
۵۸. سیاست ۲۰۲
۵۹. مشترک بازارنوسانه ۲۰۷
۲۰. د مسلې د پېژندنې مهارتونه ۲۰۸
۲۱. بهرنۍ پالیسي ۲۱۰
۲۲. ماخذونه ۲۱۴

# لومړی څپرکی

## د نړیوالو اړیکو پېژندنه Introduction to international Relations

په ساینس او ټکنالوژۍ کې د هر پرمختګ له کبله د نړۍ ټول هېوادونه یو بل ته ډېر نږدې شوي او نړۍ د یو کلي یانې (Globe village) شکل غوره کړی. دا چې نړۍ د نړیوال کېدو (Globalization) له کبله چې د نړۍ یو هېواد د بل هېواد پرته ژوند نه شي کولای؛ څکه چې (Globalization) د (Robertson) په اند د یو شي عام ګرځولو ته وایي، چې نړۍ سره رانښلوي او د نړۍ متعشروالې د جدیت په کچه بولي او دوکتور محمد عابد الجابري د عربي ژبې کلیمه (العولمه) نړیوال کېدل داسې تعریفوي (العولمه) نړیوال کېدل د فرانسوي کلیمې (Monodialization) چې په نړیواله سطحه د یو څه ګرځولو ته وایي ژباړه ده. په دې مانا چې یو شی د پولو له محدودې او ټاکنې څخه رابهر کول او لامحدودیت اړخ ته بیول دي. نو دا تعریفونه نظر کې نیولو سره نړیوال هېوادونه یو بل سره د اقتصادي، سیاسي، کلتوري، مذهبي او له دې پرته نورو چارو کې د اړیکو ټینګولو لپاره مجبور و مکلف دي نړیوالې اړیکې د هېوادونو ترمنځتنظیمونه، بین المللي غیر دولتي تنظیمونه، غیردولتي تنظیمونه او څو ملیتي شرکتونه شامل دي. نړیوالې اړیکې د (UNESCO) یانې د ملګرو ملتونو د روزنیز علمي او فرهنګي سازمان د کال ۱۹۸۸ د نوم ایښودنې وروسته په رسمي ډول د سیاسي علومو برخه وګرځېده.

همدارنګه الله پاک خپل نعمتونه پر انسانانو په مساوي ډول ویشلي دي؛ نو په همدې اساس ځینې هېوادونه معدنونه او زراعتي مواد ډېر لري او نور

سرشار سیندونه او نور منابع لري؛ نو هېوادونه مجبور مکلف دي، چې هېوادونه یو له بل سره د صادراتو او وارداتو ( Export and import) پروسه په صمیمانه ډول وساتي دا ټول عوامل د دې اساس تشکیلوي، چې هېوادونه یو بل سره اړیکې ټینګې وساتي.

د نړیوالو اړیکو په اړوند ډېر تعریفونه شوي دي، چې ځینې یې موږ په لاندې ډول مطالعې لاندې نیسو.

١. نړیوالې اړیکې چې نړیوال سیاست او بهرنۍ سیاست پکې شامل بولي د ټولو مبادلو راکړې ورکړې تماسونو اطلاعاتو او جریاناتو او د هغې د غبرګونونو له مطالعې څخه عبارت دي کوم چې په عمومي توګه د نړیوالو اړیکو مطالعه له لاندینیو موضوعاتو سره سروکار لري.

٢ :د نړیوالې صحنې لوبغاړي یانې هېوادونه، حکومتونه، مشران، سیاستوال او خلک.

٣: هغه موخې چې لوبغاړي د هغو د لاسته راوړو په لټه کې دي، یانې امنیت، سوکالي، واک او نور.

۴: هغه وسایل چې د دغو موخو د ځیړنو لپاره تري کار اخیستل کیږي یانې دیپلوماسي او د ځواک اعمالول.

١ :د عمل محیط.

٢ : نړیوالې اړیکې هغه علم دی، چې د هغه عواملو او اسبابو څخه بحث کوي کوم چې د خلکو او دولتونو ترمنځ د اړیکو د جوړېدو لامل ګرځي.

٣:نړیوالې اړیکې هغه علم دی، چې له هغو اړیکو څخه بحث کوي، چې هېوادونه یې د دیپلوماسي، فرهنګي او اقتصادي وسایلو کانفرانسونو قراردادونو د بین المللي او منطقوي سازمانونو له لارې مینځ ته راوړي او په دې اړیکو کې د خلکو او حکومتونو علاقمندي منعکس کیږي.

۴: د نړیوالو اړیکو علم عبارت له دغه بحثونو څخه دی، چې موږ د هغې پواسطه د خلکو او دولتونو ترمنځ د اړیکو په اسبابو او عواملو پوهه لاسته راوړو.
۵: نړیوالې اړیکې لکه د داخلي تنظیمونو او سازمانونو په شان د یو متجانسې او متقاربې بین المللي ټولنې د جوړېدو او د هغې د تشکیلاتولپاره هڅه کوي.
په اسلام کې دنړیوالو اړیکو علم له هغو اړیکو څخه بحث کوي، چې اسلامي دولتونه خپلمنځني او یا د نورو نااسلامي دولتونو او افرادو سره د خپل هېواد د اسلامي قوانینو په نظر کې نیولو سره ارتباطات تر سره کړي که چېرې په نااسلامي افرادو او دولتونو کې داسلام د قوانینو ورته والی موجود اوسي؛ نو اسلامي افراد او دولتونه اړیکې ټینګولی شي، چې د دې ثبوت د سورة ال عمران ۶۴ آیت کې د نجران له جرګې څخه څرګندولی شو.

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِۦ شَيْـًٔا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقُولُوا۟ ٱشْهَدُوا۟ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ

ژباړه: ووایه (ای محمد!) چې ای اهل کتابو راځئ تاسې په طرف د یوې کلیمې (خبرې) چې برابره ده په منځ زموږ او ستاسو کې.
د بایبل (bible) په یو کتاب (Gospel) کې ۱۰۰ ځلې راغلي دي، چې په نړۍ کې تیوکراسي (Theocracy) یانې چې الله پاک حکومت کوي (Gospel) غلاطیانو پورې اړه چې په (Galatia) آسیایي صغیر کې اوسېدل.

د هغوی په اند تیوکراسي هغه وخت وجود درلودای شي، چې په کورنیو، مکتبونو، کاروبارونو، نشراتو، قضا، داخلي او خارجي اړیکو، مقننه قوه اجرائیه قوه بانکونو، او داسې نورو ادارو کې د الله پاک آوامر تطبیق، پلي او عملي کړای شي. د Gospel په آند الله پاک ژمنه کړې ده چې کله د هغه آوامر عملي شي؛ نو ټولې عملي کوونکي ټولنې به وبښل شي؛ نو د (Gospel) د دربیم نه تر اتم آیته پورې او سورة آل عمران ۶۴ ایت اړوند مسلمانان او اهل کتاب په یوه خبره چې په دواړه کې برابره وي موافقه کولای شي.

۶. بین المللي اړیکې د دولتونو تر منځاو نورو سیاسي او اقتصادي واحدونو تر منځ اړیکې په بین المللي سیستم کې تر څیړنې لاندې نیسي.

۷. بین المللي اړیکې د هېوادونو خپلمنځني اړیکې او د نورو بین المللي سازمانونو او خاص فرعي ملي سازمانونو لکه (بیروکرسیاني او سیاسي احزاب) سره اړیکې په بر کې نیسي.

**د بین المللي روابطو تاریخي اسناد**

پخوانیو امپراطوریو او ښاري دولتونو یو بل سره مختلف ډول روابط ساتل او دا اړیکې یې د کارونو دعملي والي او ګټې موضوع بلله. هغوی دا اړیکي د میخې لیک استازو او ایلچیانو په وسیله تر سره کول، چې په دې روابطو کې یو له بل سره اتحاد جوړونه موافقتنامو او معاهداتو صورت نیولو بین المللي اړیکو مهم ترین اسناد په El Amayna کې تر لاسه شوی دی. دا اسناد په ځانګړي توګه د استعمال وړ دی؛ ځکه یې دا اسناد په پراخه توګه له بین المللي اړیکو څخه بحث کوي او زیاتره منځني ختیځ روابطو څخه بحث کوي، چې په دې کې له مصر څخه بابل پورې پورتنې

Mesopotamiaپخوانی عراق اوAnatoliaاوسنی ترکیه دا هېوادونه شامل دي. له دې پرته نور اسناد د Hittite اسناد چې په Bogazkoyکې موندل شوي، د Mariلوحې او تختې د Ugaritاسناد او فعلاً پیدا شوي د Eblaاسناد شامل دي. دا اسناد د ډېر ارزښتور دي، چې ۳۰۰۰قبل المیلاد پخوا موجود وو او په لاندې جدول کې د موقعیت او نیټې له مخې څرګندولی شو:

| د کشف نېټه | ځای | نېټه | د اسنادو نوم |
|---|---|---|---|
| ۱۳۸۷ | مصر | ق ، م -۱۲۰۰ ۱۲۰۰ | El Amayna |
| -۱۹۰۷ ۱۹۰۲ | ترکیه | ق ، م- ۱۳۰۰ ۱۲۰۰ | Hittite (Bogazkoy) |
| -۱۹۳۹ ۱۹۳۳ | شام | ق ، م- ۱۷۰۰ ۱۲۰۰ | Mari |
| -۱۹۵۷ ۱۹۵۱ | د شام شمالي ساحل | څخه مخکې ق ، م۱۱۸۰ | Ugarit |
| ۱۹۷۵ | شمالي شام | ۲۳۰۰ ق، م | Ebla |

**د نړیوالو اړیکو تاریخي پس منظر:**

په پخوا وختونو کې مذهب قانون او رسم رواج کې کوم توپیر موجود نه وو او خلکو هماغه شان خپلې چارې پر مخ وړلې څرنګه چې ورته خپل مذهب حکم کړی وو. د بېلابېلو قبیلو له مخې پخوا دوه ډوله قبیلوي حکومت موجود و ، چې یو یې Tribal دی، چې د دولتونو د انکشاف او تاسیسڅخه د مخه د ټولنیزو ډلو په ډول موجود وه او د نسب له پلوه منظم وه او بل یې

ریاست قبیله Chiefdom په نوم یادېده، چې د عدم مساوات او د واک د تمرکز له مخې پیژندل کیدل په انسان پیژندنه Anthropology کې د Chiefdom تر ټولو لنډ تعریفRobert L carneroکړی دی، چې وایي:یو خپلواک سیاسي واحد چې یو تعداد کلي ولري او د یو لوی مشر لخوا په مستقل ډول اداره شي.
په دې قبیلوي سیستمونوکې د قبیلو تر منځ جنګونه چې دې ټولنو د پووند ګلوي شکل درلود یو ځای کې به تر هغه اوسیدل، چې د اړتیا وړ شیان به موجود وو
وخت په تیریدو سره کله چې انسان له زراعت سره اشنا شو؛ نو دې قبیلو په یو ثابت ځای کې وسیدل پیل کړل او هلته یې خپل ځانونه پر کرکیله مشغول کړل، چې له همدې وخت څخه واړه واړه حکومتونه پیلیږي؛ خو بیا هم قبایلو تر منیځ جنګونه روان وو او طاقتورو قبیلو په کمزورو د خپلو یر غلونو لاندې راوستل او غلامول به یې چې له همدې ځای څخه د غلامۍ دوره Bondage پیلېږي د وخت په تیرېدو سره هېوادونه د یو کلي پورې محدود پاتې نه شول، بلکه یو هېواد کې زیات کلي قبایل او ټولنې شاملې شوې دا ټول هېوادونه مرور و زمان سره پراخوالی او انکشاف کول او د دې ترمینځ صلحې، جنګ او تجارتي قراردادونه یو لړ شرایطو په اساس رامنځته کیدل، چې د داسې هېوادونو بېلګې پهلاندې جدول کې د نېټو له مخې څرګندولی شو، چې پخوانیو وختونو کې یې بین المللي اړیکې عملي کړې دي.

| د روابطو بین المللي لومړی عملي کوونکی | دوران |
|---|---|
| سومریه Sumer | ۳۰۰۰-۲۳۷۰ ق، م |
| ایبلا Ebla | ۲۷۰۰-۲۲۴۰ ق، م |
| اکاد Akkad | ۲۳۷۰-۲۲۰۰ ق، م |
| د سومریانو بیا راپورته کیدنه او Ur د کورنۍ حکومت | ۲۱۵۰-۲۰۰۰ ق، م |
| بابل او Amorite پاچاهان | ۱۵۷۰-۱۰۸۵ ق، م |
| مصري امپراطوري (اتم پړاو) | ۱۸۹۴-۱۲۰۰ ق، م |
| Hittite امپراطوري | ۱۴۲۰-۱۲۰۰ ق، م |
| چین د زو Zhou کورنۍ | ۱۱۲۲-۲۵۶ ق، م |
| اتور اسیریا Assyria | ۱۱۰۰-۷۰۰ ق، م |
| فارس: سا پرس Medes او فارسیانو پاچا | ۵۵۳-۵۳۰ ق، م |
| فارسداریــــــــخمکنی حاکمیــــت امپراطورپوري محدود کړ. | ۵۲۲-۴۸۶ ق، م |
| فارسیان په هند کې | ۵۲۰-۳۲۷ ق، م |
| یونان | ۵۰۰-۱۰۰ ق، م |
| هند: ماوري امپراطوري | ۳۲۲-۲۳۱ ق، م |

د نړۍ د هېوادونو ترمنځ نړیوالې اړیکې په مختلفو مراحلو کې رامنځته شول چې څنې څېړنې لاندې نیسو.

**د بین المللي اړیکو پیل**

کله چې انسانانو په ځمکه ژوند اختیار کړ؛ نو یو له بل سره یې اړیکې نه درلودې او هر چا به خانته د ښکار له لارې رزق برابرولو او خلکو به د غه وخت کې په غارونو کې ژوند کاوه، چې ته د عصر حجر Stone age زمانه وایي ورو ورو خلکو د سیندو او ویالو خواته مخه کړه، چې له دې سره جوښت چې زراعت او مالداري هم پیدا کړه او د زراعتي محصولاتو د لاسته راوړلو نه وروسته په دې فکر کې شول، چې د خپل زراعتي محصلات پر چا وپلوري، چې د ژوند نور ضرورتونه پرې لاسته راوړي. چې دې د مال د تبادلې یا Banitary system هم وایي له د سره جوښت تجارت رامنځته شو همدا تجارت د دې باعث شو، چې د کلیو او ښارونو ترمنځ روابط رامنځته شول، چې د همدې ځای څخه د نړیوالې اړیکې پیلېږي

**بین المللي اړیکې په پخواني یونان کې**

پخوانی یونان د کوچنیو وړو ښارونو ځای وو کوچنی او واړه بې شمیره منطقوي دولتونه لکه سسلي، سپارتا، اتن، رژینا، کورنټ، ستاګه ایروس، اګینه او ارکادیا په کې موجود وو، چې د د غه ټولو ښاري دولتونو رسم و رواج سره شریک وو او ټول یو نژاد خلک وو او په یو ژبه یې خبرې کولې او هم د ژوند کولو طریقې او دودونه شریک وو د ضرورت په وخت کې به دوی د بهرنې دښمن په مقابل کې په ګډه د یو قرارداد په اساس دفاع کوله؛ خو دوې به هم همیشه خپلمنځي جنګونه کول چې په دغې کې اتن او سپارت ډېر مشهور وو او نومړو دولتونو به یو له بل سره سخت جنګونه کول او ډېر زیات خپل منځي اختلافات یې درلودل او دواړو به کوښښ کاوه، چې یونان د نورو ښاري دولتونو مشري او قیادت وکړي د دې مشهور جګړو څخه دوه په لاندې ډول دي:

**۱: دپیلوپونیز جګړه Peloponnesian war**
د یونان په ښاري دولتونه کې د حکومت کولو درې بېلابېل نظامونه ۱: پاچاهي ۲: ځانګړې حکومت ۳: ولسواکي دود وه په سپارتا کې ځانګړې حکومت په اتن کې ولسواکي او په پاتې وړو وړو دولتونو کې زورواکي یا پاچاهي وه په اتن ولسواکي پیژندل شوې سیاستپوه سولون اولس د بېلابېلو طبقو د حقوقو د سندونو په تیارولو سره په ۸۰۰ ق م کې د اتن اوسپارتا ترمنځ سیاسي مشرتابه پرسر درز رامنځته شو او بیا د پیلیوپونیز په نامه اوږده جګړه وشوه.

**۲: د سسلي جنګ:**
په کال ۴۵۷ ق م کې پر سلې برید وشو اتن تر لس کلنې جګړې وروسته ۴۰۴ ق م کال کې پریکنده ماته وخوړه دسپارتا په اشاره جوړ شوی زورواکه حکومت یواځې درې میاشتې پاتې شو او بیا له وسله والو هلو ځلو وروسته اتن دویم وار د ولسواکۍ پر لاره ګامونه کېښودل.

**بین المللي اړیکې په پخواني روم کې:**
رومي تهذیب بین المللي اړیکو ته یو ازرزښت ورکوونکی او اضافه کوونکی ترکه ده، چې په ناڅاپي ډول راپورته شو او ډېر په چټکتیا سره یې انکشاف وکړ. روم لومړی یو وړوکی ښاري دولت وو؛ خو رومیانو د خپلو ګاونډیانو سره جنګونه وکړل او هغوی یې له ماتې سره مخامخ کړل او دوی وکولی شول، چې ډېرې منطقې تر خپل کنترول لاندې راولي.
چې بلاخره د ایتالیا او غربي اروپا له فتحې څخه وروسته د افریقا شمالي سیمې او د اسیا ځینو برخو ته ورسیدل او د رومیانو د اغیز لاندې ډېر قومونه او ملتونه راغلل او همدارنګه د نړۍ له نورو دولتونو سره یې هم خپلې اړیکې جوړې کړې. ولایتي والیانو به بین المللي اړیکې له نورو

ګاونډیانو سره د اړیکو ټینګولو لپاره استعمالول د خارجي هیئت بـه پـه رومکې ډېره زیاتـه میلمـه پالنـه کیـده پـه ۲۲۴ قبـل المیلاد کې روم ۱۵۰ بېلابېل تړونونه له نورو دولتونو سره وکړل پـه همدې اساس د روم حقوقو ډېر انکشاف وکړ او د قانون حاکمیت رامنځته شو.

**سومریه Sumer**

سومریه لومړی خپلواک ښاري ټولنه وه، چې یـو مرکب اقتصادي، ټولنیزه او سیاسي بڼه یې درلـوده او ۳۰۰۰ قبـل المـیلاد پخـواني تـاریخ لـري، د پخواني عراقMesopotamiaپه شمال برخه کې یې موقعیت درلود.
پـه دې کې لـوی ښـاري دولتونـه Uruk, Lagash, Urاو Kish وو، د دوی ترمنځ به مختلفې شخړې رامنځ تـه کیـدې او د بهرنیـو اړیکـو پـه وسیله بـه حـل کیـدې د سـومریه سیاسي نظم او نړیـوالې اړیکې هغـه وخت پـای تـه ورسیدې؛ کلـه چې د Akkad باچاSargon پـه ۲۳۷۰قبـل المـیلاد کـې د یرغل لاندې ونیول شو.

**ایبلا Ebla**

د نړیوالو اړیکو بل شیرازه کوونکی ذریعـه د ایبلا ښاري دولت وو، چې د شـام پـه شـمالي برخـه کې یې موقعیـت درلـود پـه ۲۲۴۰ ـ ۲۲۰۰ قبـل المـیلاد کې ایـبلا شـمالي شـام لبنـان جنـوبي شـرقي ترکیـه او د پخـواني عراقشمالي برخې تسلط لاندې راوستلې وو، له مصر ایران او سومریه سره یې بهرنۍ اړیکې تجارت په بنسټ ساستلې دي پر سومریه حملې وروسته ایبلا په ۲۲۴۰ق م کې د اکادیانو لخوا ویجاړه شوه.

**اکاد Akkad**

Sargon پـه ۲۳۷۰ قبـل المـیلاد کـې پـه پخـواني عـراق کـې لـومړی نظامیامپراطوري رامنځته شوه، هغه ټول سومري ښاري دولتونه فتح کړل

او Akkad يې د دې تولو مرکز وټاکلو Sargon پر تولو سيمو د فوځ او نماينده ګانو په وسيله تسلط ساتلی وو، څرنګه چې Sargon يو نظامي باچا وو او پوځ ته يې ترجيح ورکوله؛ خو د داخلي اړتياوو پوره کولو لپاره يې بهرنۍ اړيکې حتمي بللې، چې له کبله يې اکاډيايي ژبه ديپلوماتيکه ژبه وبلل شوه؛ کله چې د Gutians او بربريانو لخوا په ۲۲۰۰ ق م کې د جلې د سيند د شرقي غرونو له لارې پرې يرغل وشو؛ خو دا امپراطوري ډېره زر زوال پذيره شوه

**بيزانس Byzantine**

د شرقي روم امپراطوري چې په ۱۴۵۳- ۳۳۰ قبل الميلاد کې رامنځته شوه او پايتخت يې د قسطنطيني Castantinople ښار وو بيزانس د بهرنيو اړيکو لپاره اړين آلات رامنځته کړل او مختلفو هېوادونو سره يې ارتباطات درلودل.

بيزانس لومړی امپراطوري وه، چېږه حکومت کې يې د نړيوالو اړيکو لپاره يې يوه ځانګړې برخه درلود، چې مسلکي کسان به په کې روزل کيدل د دې لپاره چې وروسته ديپلومات دنده ترسره کړي.

**پخواني هند AncientIndia**

۲۹۸-۳۲۲ قبل الميلاد د ماوري پاچا چندره ګوپتا Chandragubta په دوره کې د هند يو کس چې کاتوليه Kautilya نوميده يو مشهور پوهن ليک چې ارتاشسترس Arthashastras ياني د اداري او سياست علوم نوميده وليکو کاتوليه د هېوادونو ترمنځ شخړې مطالعې کړې او د هېوادونو ترمنځ د سوله ايزې فضا جوړولو لپاره يې په ديپلوماسۍ او نړيوالو اړيکو ډېر ټينګار کوو.

**منځنۍ پیړۍ او نړیوالې اړیکې:**

د مسیحیت په پیل سره په سیاسي نظریاتو کې نوي تحولات پیښ شول، د خلکو افکار یوې نوي عقیدې ته چې د حضرت عیسی (ع) شریعت دی متوجه کیږي نوی شریعت د انسانانو د بیا ژوندي کیدو زېرى راوړي. چې دغه نوی زېرى د یونانیانو او رومیانو په نظریاتو او ټولنیزو قضاوتونو او حکمونو کې اغیزې غورځوي، د حضرت عیسی(ع) د رسالت د تبلیغاتو له اغیزې د خلکو افکارو د دوی اصولو ته متوجه کیږي، چې یو د دنیایي ژوند د اړتیاوو تنظیم او بل د اخرت لپاره د نیکیو توښه برابرول وه، په سیاسي افکارو کې هم بدلون پېښیږي، ځکه د عیسی د تعلیماتو او تبلیغاتو لپاره کلیساګانې جوړې شوې او هغوی د خلکو د دنیا او اخرت د چارو د اجراء وظیفې خپل ځان ته اختصاصولې اما له بلې خوا د دولتو پاچاهانو او د قدرت څښتنانو نه غوښتل چې د دوی صلاحیتونه او قدرتونه محدود کړای شي او د کلیساګانو د امرونو تابع وګرځي په اروپا کې د کلیساګانو د واک او د دولت د چارواکو ترمنځ اختلافاتو او شخړو څو پیړۍ پایښت وکړ.

د منځنیو پیړیو یوه دوره چې ۴۷۲ څخه پیل او تر ۱۴۵۰ پورې دوام کوي؛ نو په دې عصر کې رومیانو د مسیحت مذهب قبول کړی وو او کلیسا او د دین سیاست یې د دولتونو له سیاست څخه بېل ګڼل او غوښتل یې چې کلیسا یواځې د انسانانو د اخرت چارې اجرا کاندي اوپه دنیایي سیاست او چارو کې لاسوهنه ونکړي د دې ټولو افکارو په پایله کې د ټولنو خلک هم پر بېلو ډلو وویشتل شول ځینو د کلیسا د دواړو جهانو د بشپړ واک او د اړه لرونکو چارو د اجرا طرفداري کوله او بلې ډلې د دنیایي چارو اجرات د دولتونو اساسي وظیفې ګڼلې.

د منځني پیړیو یوه دوره د اروپا لپاره د تیارو او ګډوډیو یوه دوره وه، چې د هغې لامل د رومي کاتولیک کلیسا او پاچا ترمنځ جنګ وو هم تر ډېرهحده پورې قدرت حاصل کړ، چې په دې وخت کې په منځني ختیځ شرق او غرب کې مضبوط اسلامي حکومتي نظام جوړ شوی وو او د اسلام د مبارک دین له ظهور څخه وروسته نړیوالو اړیکو ډېر سعت پیدا کړ او په نړۍ کې هر مسلمان د بل مسلمان ورور وګڼل شو او همدا لامل وو، چې مسلمان ملت د همدغه تړون او وفادارۍ له امله رامنځته شو او دغه وروروالي د کوم خاص جغرافیوي سرحد پورې تړلی نه وه، بلکې نړۍ شموله وه.

له (۱۰۰۰) څخه (۱۵۰۰) پورې نړۍ د اقتصادي او سیاسي پلوه ډېره پرمختګ وکړ؛ خو په دې عصر کې هم د پاچا او کلیسا ترمنځ جنګ دوام درلود او د باچا او د کلیسا ترمنځ هم شخړې پیدا او زیاتې شوې؛ ځکه چې مسیحي باچاهانو خپل ځانونه د حضرت عیسی خلیفه ګڼل او د خدای سایې بللې او خپل واک یې د خدای له لوري ورکړلشوي باله په دې نسبت یې د کلیسا له واک او لاربښونو څخه سرغړاوی کاوه او غوښتل یې چې د کلیسا څواک هم په خپل لاس کې ولري.

چې دغه جنګونو او کشمکشو نو د باچا او پاپ دواړو قدرتونه تر یوېکچې پورې محدود کړه پاپ قدرت د ایټالیا په واړه ښاري دولت، چېواتیکانVatican city وو محدود شو او هم باچا ته د دې اړتیا نه وه، چې د تاج پوشۍ لپاره پاپ یا کلیسا ته مراجعه وکړي، چې په همدې اساس د روم امپراطوري هم د یونان د امپراطورۍ په شان په وړو وړو ښاري دولتونو وویشل شوه، چې په هغې کې هم سیاسي او تجارتي اړیکې یو له بل سره موجودي وي.

**ملي دولتونه او نړیوالې اړیکې**

د قوي ملي دولتونو پیل له (۱۵۰۰) څخه وروسته په انګلستان او فرانسه وشو او د دغه قوي ملي دولتونو تصور د فرانسې او انګلستان ترمنځ د جنګونو له امله وو، چې دې جنګونو تقریباً یوه پیړۍ دوام وکړ (۱۴۵۳-۱۳۳۷) او په دغه دوران کې ملي دولتونو ډېر تقویت حاصل کړ، له دې جنګ څخه وروسته د انګلستان، فرانسې او هسپانیې قوي دولتونه رامنځته شول.

همدارنګه د روم د امپراطورۍ له ماتې څخه وروسته درې دولتونه رامنځ ته شول.

۱. جرمني لوی شاهي حکومت (German Grand Monarchy)
۲. لهستان فیوډالي لاردان ( Feudal lords in Poland)
۳. په روسیه کې د زار یا تزاري کورنۍ حکومت Tzarism د ۱۲۴۸ کال د ( The treaty of Westphalia ) له مخې دا پریکړه وشوه، چې د تزاري کورنۍ سلطه اوحکومت چې په خوا د اروپایي دولتونو وو، له منځه لاړ او له دې څخه وروسته اروپایي باچاهانو دپاپایي سلطنت Paparchy د اوامرو څخه انکار وکړ مقصد داچې له دې معاهدې څخه وروسته په ازوپا کې د نوي دولتي رژیم لاندې د دولتونوترمنځ اړیکې رامنځته شوې.

باید ووایو چې نړیوالې اړیکې په نننۍ بڼه د وستفالي له تړونونو څخه وروسته د منلو وړ وګرځیدل، چې پر لاندې دوه اصولو مثبتې دي.

۱. د مستقلو هېوادونو رامنځ ته کیدل.
۲. په بین المللي صحنه کې دهېوادونو د مساوي د اصل قبلول

په المان کې د لومړي ځل لپاره په ۱۶۱۸ کال جنګ د مذهبي اختلافاتو په بنسټ پیل او په قراره قراره یې د اروپا اکثره سیاسي واحدونو ته انتشار وکړ، چې د جګړې دواړه خواوې د عیسوي مذهب دوه بېلابېلې ډلې (کاتلولیک او پروتستانت) وي، چې یادونه یې لاندې شوې ده.

۱. **کاتلولیک** Catholic: د عیسوي دین پیرویان مزد (په تیره د رومن کاتولیک مذهب، چې مشر یې پاپ دی.

۲. **پروتستانت** Protestant: د عیسویانو د مذهب هغه ډله، چې د لوتر په مشرۍ او لارښوونه د زړې کلیسا او د رومن د کلیسا د مذهب پر ضد یې اعتراض درلود او سمون غوښتونکي وو.

د دوی د دېرش کلن جنګ له موخو څخه یوه دا وه، چې د روم امپراطوري او پاپ ته چې د کاتولیک مذهب پیروان وو نوره اجازه ور نکړل شي، چې د اروپا د اقتصادي او سیاسي واحدونو په کورنیو او بهرنیو چارو کې لاسوهنه وکړي، چې نوموړی جنګ له دېرش کلونو څخه وروسته د وستفالې د مصروفو تړونونو او د اروپا د سیاسي واحدونو په رسمیت پیژندلو سره پای ته ورسیده د وستفالې تړونونه دوه مشهور تړونونه دي چې یو یې د اوزنابورک Osnabruk او بل یې د مونستر Munsterپه نوم یادېږي.

د اروپا ټولو سیاسي واحدونو پرته له انګلستان او پولینډ څخه چې په دې تړونونو کې یې ګډون نه و کړی ګډون کوونکو هېوادونو له دې تړونونو څخه موخه دا وه، چې زړو سنتو (عرف اد عادات) ماتول او د نړیوالو اړیکو د یو نوي نظام جوړول وه.

د Westphaliaد تړونونو ارزښت په نړیوالو اړیکو او بین المللي حقوقو کې د هر زیات وو تر دې چې نوموړي تړونونه د بین المللي حقوقو مبدا او

نړیوالو اړیکو لپاره د فرانسې تر انقلاب اساس ګڼل کېږي ځینې مهم اثرات او بدلونونه چې له نوموړي تړونونو څخه په نړیوالو مسایلو کې لیدل کیږي په لاندې ډول دي.

- د عیسویت د دوه فرقو (کاتولیک او پروتستانو) تر مینځ روغه وشوه.
- د سویس او هالینډ هېوادونو استقلال په رسمیت وپیژندل شو.
- د فرانسې هسپانیې او پرتګال هېوادونه په رسمیت وپیژندل شو او د پاپ د مداخله چې (هغه په دې عقیده و، چې الله تعالی په کلیسا او خپلو بندګانو کې حلول کړی دی (Avatar) او حضرت عیسی د خدای جل جلاله زوی بولي (العیاذ بالله) او پاپ د حضرتعیسی نایب دی) د دوی په داخلي او خارجي چارو کې ممنوع اعلان شوه.
- هېوادونه پرته د پاپ او د روم د امپراطور له مداخلې څخه تړونونه منعقد کولی شي.
- سیاسي او مذهبي آزادي Politico-religious freedom او په بین المللي صحنه کې د حقوقو تساوي Monism اصل او په بهرنو اړیکو کې استقلال د لومړي ځل لپاره په رسمیت وپیژندل شو.

د فرانسې د (۱۷۸۹) کال له لوی انقلاب څخه مخکې تقریباً ټولو دولتونو کې شاهي رژیمونه وو او د باچا واک به الهي ډالۍ او عنایت Charisma ګڼل کیدها و باچا ځان یواځې خدای پر وړاندې مسول ګڼلو، چې دغه نظریه باچاهانو ته خدای ورکړي دا د دوی حق بلل کیده، چې ورسته (the theory of Darien Rights of Kings)

په دغه دوره کې د ملتونو د ثروت او شتمنۍ اندازه د هغوی د طلا او نقرې یانې Mercantalism له مخې ټاکل کیده، چې د دېنظرېې تفصیل په لاندې ډول دی.

---

**میرکانټلیزم Mercantilism**

د میرکانټلیزم فلسفه او سیاست اساساً پردې پیل شوی وو، چې د یوه هېواد اقتصادي سیاست او طریقه باید د یوه انفرادي سړي د اقتصادي طریقې او فعالتیونو سره مشابه وي هغه شی چې یو تاجر د خپلې ګټې د جلب لپاره هڅه کوي دولتونه هم باید هغه ډول تکتیک او فعالیت اختیار کړي. د امریکا د کولمبیا د پوهنتون د تاریخ د استادانو تالیف، چې Western Civilization، نومیږي.

میرکانټلیزم داسې تعریف کړی دی: میرکانټلیزم د یو شمیر نظریاتو، سیاستونو او فعالیتونو څخه عبارت دی، چې دولت هغه د محیط د ایجاباتو پر اساس منځ ته راوړی او د دولت د واک د تقویې او د ټولنې د افرادو د همکارۍ او ملي اتحاد په غرض په اقتصادپوهان او فلاسفه نه بلکې د هغه وخت سیاست مداران او غټ تجاران او یا دولتي مشران وو. دغه مکتب او طریقه یو فعال روش و، چې د عمل په ساحه کې شامل شوی و. د میرکانټلیزم پوهان د خپل اقتصادي طریقې په تعقیب مجبوره وو، چې له دې پوښتنو سره مخامخ شي، چې ثروت څه شی دی او د هغه ماهیت څه دی؟ پیسو او ثروت ترمنځ څه اړیکه موجوده ده؟

آیا د یو دولت د بډاینې لپاره ټول تولیدات مساوي دي که نه.

او که مساوي دي د کومو ډولو تولیداتو ارزښت ډېر دی، چې له هغې څخه کار واخیستل شي؟ قیمتونه څرنګه پیدا کیږي پر ملي عایداتو ربح او سود څه اغیز لري؟ آیا ځینې موسسات د تولیداتو په ډېرولو کې مرسته کوي که نه؟

د اروپا په اکثرو لويو هېوادونو کې د ميرکانتليزم مرحلې مخصوصاً چې خارجي تجارت او يا مستعمرات يې درلودل راغلي دي په هسپانيه کې چې د امريکايي مستعمراتو له خوا څخه سپين زراو سره زر ننوتل او له هغو څخه يوه برخه د اروپا او نورو سيمو ته ورسيدل، په دې وخت کې اروپايي مشران په دې فکر کې شول، چې سره زر او سپين زر را ټولول يواځې د ثروت مندي نښه نه ده، بلکې هغه په خپل ذات کې ثروت دی ځکه نو په اروپا خصوصاًپه هسپانيه کې د سرو او سپينو زرو وتل بند شول چې په داخل کې سره او سپين زر لږ نه شي او د قراردادو بيلانس يې مېنځ ته راوست.

دغه بيلانس پر دې متکي و، چې د هسپانيې دولت کولای شي، چې له بهر څخه مالونه رانيسي؛ خو دغه د رانيول شوو مالونو اندازه بايد تر هغه مالونو چې بهرنې هېوادونه يې له هسپانيې څخه رانيسي ډېر نه شي مطلب دا دی چې د مالونو واردات دمالونو پر صادراتو ډېروالی ونه کړي. د دغه فکر پيدا ښت د دې فکر د مخالفينو لخوا څخه وضع شوی دی مطلب دا دی، چې د ميرکانتليزم نوم د فريوکراتانو له خوا څخه راوتی، چې اوس به يې يادونه وشي.

**فيزيوکراسي يا د اراضيو حکومت ( Physiocracy)**

د ډاکټر فرانسوا کيني اقتصادي فلسفه پر ځمکه او کرهڼې ولاړه ده، چې ځمکه يې د ثروت علت بلل، کرهنه او د معادنو استخراج يې د دولتونو د ثروت چينې بللې. (دوپن) د ده له نامتو شاگردانو څخه دغه مسلک فيزيوکراسی يا د ارضيوحکومت او د هغه پيروان يې فيزيو کراتان وبلل، د فزيوکراتانو له عقيدې سره سم انسانان د ځمکې او اړه لرونکې شيانو پرته ژوند نشي کولای. دوی وايي چې انسانان د خوراک کاليو، معدنونو،

لرګیو او ډبرو څخه پرته ژوند نشي کولای؛ نو څرنګه د ده شیانو په نه شتون کې شتمنې پیدا کیدلای شي؟ څکه نو بزګران یواځې حقیقي تولید کوونکي دي.

د صنعتکاران او تجاران او نور اهل کسبه ټول نامولد دي مطلب دا دی، چې له بزګرانو څخه چې دوی په کرهنه اخته دي پرته نور ټول خلک چې دغه مسلک او کسب نه لري نامولدین جوړوي او دي د ځمکو او کرهنو او له هغو څخه د ښې ګټې لپاره مسولیتونه پرغاړه اخیستي دي. محصول ښبتنان او د هغه د توزیع مسولین دي همداسې په طبعي نظام کې د فیزیوکراسی له اصولو سره سم د محصول د ښبتنانو مسولیت ډیر ارزښت او حتی د اهمیت له رویه لومړی درجه لري، څکه چې دوی یواځې هغه ډله ده، چې د ځمکو د مالکانو ډیره خوښه شوه او په تاید کې یې د چهغې پورته کړي، چې دغه اواز د میرکانتلیستانو په مخالفت واقع شو او تجاران له دې چیغي څخه خوابدي شول او خپل مخالفت یې ښکاره کړ. میرکانتلیزم د خپل دوکتورینو او عقایدو پراساس د ملت دوستی حس تقویه کاوه او په دغه لاره کې یې کلک ګامونه اخستل او خپل د هیواد اقتصادي او صناعي یې د هغه د سیاسي واک او نفوذ لپاره اداره کاوه، چې مطلب یې هم د هیواد عظمت او قدرت وو. فیزیوکراتان هم د ملی قدرت او نفوذ مخالف نه وو، اما فردي ازادی ته یې ډیر ارزښت ورکړ او غوښته یې چې د ټولنې هر غړی باید په خپله اقتصادي ساحه کې ازاد وي او په خپله خوښه اقتصادي فعالیتونو ته پاینښت ورکړي.

د میرکانتلیزم یانې طلا او نقري جمع کولو حرص له کبله نړیوالو ته د غلامولو او استعمارولو مفکوره پیداشوه، چې په همدې اساس له (۱۵۰۰ ) څخه تر (۱۷۸۹) پورې د سیاسي واک د زیاتوالې لپاره مقابله روانه وه،

چې پدې مقابله کې هسپانیه، فرانسه او انګلستان تر ټولو مخکې وو او همدارنګه باید و وایو، چې همدې دور کې په ځانګړې توګه له (۱۷۸۳) ځخه وروسته د عثمانی امپراطورۍ زوال پیل شو او د هغې ډیرې اروپا چې برخې په روسیه کې شاملې شوې او په همدې دور کې د روسیې د تزارې کورنې د حاکمانو (peter I and Catherine II) د نور پرمختیایې پروګرامونو له کبله روسیې د شرقې اروپا د لوی قدرت په توګه د تبارز وکړ.

**نړیوالې اړیکې په نوي عصر کې**

نوی عصر چې له ۱۴۵۳ ځخه پیل کیږي او د فرانسې د لوی انقلاب (۱۷۸۹) پورې دوام کوي – نوموړی عصر د سیاسي او اقتصادي اړخ ډیر اهمیت لري ځکه دولتونه د انکشاف په حالت کې وو او جمهوري نظامونه ورځ په ورځ زیاتیدل او دسرمایه دارۍ نظام پرځای سوسیالتې نظریات مخ په زیاتیدو وو.

د (بنتام انګلیسې او ګروشیوس هالنډی)عالمانو د نظریاتو او لیکونو له امله د بین المللی اړیکو نظر ډیر قدرت او قوت حاصل کړ او د دیپلوماتیکو اړیکو په ساحه کې نړیوالو حقوقو ډیر اهم کردار ادا کړ،ځکه چې پدې ډول دولتې منازعاتو د حل وفصل لپاره یو ځه قواعد او مقررات وضع شول.

همدارنګه پدې عصر کې د ویانا کنګره هم رامنځته شوه، چې په۱۸۱۴ کال کې پیل او تر ۱۸۱۵ کال پورې یې دوام وکړ، چې د اروپایې دولتونو لومړنی تولنیزه غونډه وه، پدې کنګره کې ټول اروپایې دولتونو ګډون درلود کوم چې د هغه وخت په جنګونو کې شامل وو. پدې کنګره کې د سفارتې او دیپلوماتیکو نمایندګانو او آزادو ابحارو ځخه د بحري

جهازونو د تګ راتګ قواعد او اصول وټاکل شو او پریکړه وشوه، چې دیموکراتیک نظامونو د راتګ مخنیوی به کوي.
د امن د ثبات او قایمیدو لپاره روسیه، انګلستان، پروس او اطرایش یو تړون لاسلیک کړ، چې د کارډ ریت ( Cuard Rupt ) په نوم یادیده، چې په ۱۸۱۸ کې فرانسې هم د دغه اتحادې عضویت حاصل کړ دغه اتحادیه پوره ۳۰ کاله (۱۸۴۸ ) پورې د دیموکراتیک نظامونو تحریک ناکام کړی وو.
په انګلستان او فرانسه کې په پراخه پیمانه د انتخاباتي لړۍ پیل کیدل د امریکا د داخلي جنګونو د جرمنې، ایټالیه او جاپان د پرمختګ او د عثماني امپراطورۍ د زوال له امله دا وشو، چې واړه واړه جمهوري غوښتونکي ازاد دولتونه رامنځته شول.
د روسیه، هنګري، اطریش او انګلستان ترمینځ چې کوم اختلافات وو، هغه په ۱۸۷۸ کال د برلین په کانفرانس کې وڅیړل شو او پریکړه وشوه، چې د بالکان یو څه سېمه باید ترکیه ته ورکړل شي او په نورو برخو کې نوي واړه واړه دولتونه رامینځته شول، چې په هغې کې رومانیه، بلغاریه، مانتي نیکرو، البانیه او یونان شامل وو، چې د لویو قدرتو د ناسمو بهرنیو پالیسو له امله وو، چې په دوه هېوادونو کې به د یو نسل او یو نژاد او یوې ژبې خبري کوونکي وو او یوه به د عوه کوله، چې دا زموږ په نسل او نژاد کې دي او بل هم دا قسم دعوه کوله او لویو قدرتونو دا غوښتل چې واړه واړه دولتونه رامنیځته کړي، چې په اسانۍ یې استعمار او تر خپل کنترول لاندې راولې.

**استعماري نظامونه او نړيوالې اړيکې**

له صنعتي انقلاب څخه وروسته د خامو موادو د مارکيټ ارزښت ډېر زيات شو او همدارنګه لويو استعماري ځواکونو دا هڅه کوله، چې زيات نه زيات هغه سيمه چې هلته پانګې اچونې څخه ډېره ګټه ترلاسه کيدای شي تر خپل استعمار او قبضې لاندې راولې، چې د همدې موخې د حصول لپاره د اسيا لوې وچې، افريقا او بحرالکاهل سيمې‌ونيول شوې او په افريقا کې انګلستان او فرانسې ډېر مستعمري لرلې، چې وروسته پکې ايټاليا او جرمنى هم ځينې سيمې تر خپل استعمار لاندې راوستلې؛ خو انګستان، هندوستان، برما او ماليزيا ونيول. چين د امريکا، انګلستان، روسيې، جرمنى او جاپان د ګډو ګټو د تاثيراتو په دايره کې وو .

همدارنګه د همدغه لويو قدرتونو خپلمنځني اختلافات هم د دغه مستعمراتو په خوښې کولو پيل شول، ځکه دغه مستعمره کوونکو هېوادونو پراخه مرکزونه درلودل، چې خورا زيات اهميت لرې او د همدغو مهمو عناصرو د شتون له کبله د لويو قدرتونو ترمنځ اختلافات پراخه او زيات شول.قيصر ويليم غوښتل چې زرتر زره له المان څخه يو لوى قدرت جوړ کړ او د همدغه اختلافاتو له امله په ۱۹۹۰ (Ottovon Bismarck ) مجبور شو، چې له خپلې دندې څخه مستعفې شې – په همدې وخت کې د دولتونو ترمنځ ګروپ او ايتلافونه پيل شوې وو .

د المان په مقابل کې يو قوې درې ګونى ايتلاف چې (TripleCoalition ) په نوم ياد شو جوړ کړ او انګلستان، روسيه او فرانسې په دغه ايتلاف کې برخه درلوده.

پداسې حال کې چې له ۱۹۰۰ څخه مخکې د دې دولتونو ترمنځ شوي دي اختلافات موجود وو، همدارنګه د دغه ایتلاف په مقابل کې د جرمنی، ایټالیا او اطریش لخوا یو تړون د دریګونې اتحاد په نوم رامنځته شو.

شلم قرن پیلیدونکی وو، چې د تزارې روسیې صدر دویم نکولاتس د هڅو له امله په ۱۸۹۹ کال په هاګ کې کانفرانس وشو او بیا په ۱۹۰۷ کال کې د هاګ دویم کانفرانس وشو، چې د دغه کنفرانسونو موخه د بین المللې اړیکو لپاره د یوې قانونې لارې لټول وو، چې نړیوالې شخړې او منازعات په سوله ایزې او مصالحت امیزو وسایل په ذریعه حل وفصل شی او پدې اړه یو نړیواله محکمه د دریمې غړیتوب لپاره جوړه شې ولی بل طرف ته د ۱۹۰۸ څخه تر ۱۹۱۴ کال پورې د جرمنی او اتحادی ملکونو ترمنځ مسلسل کشمکش دوام درلود.

د پروفیسور شومېټ په قول په ۱۹۰۷ کال محورې او اتحادې هېوادونه یو له بل سره په مقابله کې وو، چې بالاخره په ۱۹۱۹ کال کې سره ونښتل او د لومړی نړیوال جنګ پیل وشو له لومړي نړیوال جنګ څخه وروسته د جامعه ملل سازمان یا (league of nations) جوړ شو د دغه سازمان مرکز د سویس د جینوا په ښار کې وو.

دورسلیز (Versailles) د تړون په اساس چې د امریکا د جمهوررئیس ولسن لخوا یو څوارلس فقریزه معاهده پیشنهاد شوه، چې په څوارلسمه فقره کې یې د جامعه ملل سازمان د پشنهاد شوي وو، چې د نوموړی تړون په لاندې ډول دی:

۱. د سولې تړون باید ښکاره وي، چې په راتلونکې کې یې د سري او پټو تړونونو له عقد څخه مخنیوی کاوه.

۲. په دریابونو کې په ازاد ډول د کشتیو چلول.

۳. تر امکان پورې د اقتصادي موانعو له مینځه وړل او ټول ملتونو لپاره د تجارتي مساوات زمینه برابرول .

۴.د ملي مسلحاتو لپاره یو حد باید تعین او له طرفینو څخه باید ضمانتونه واخستل شي.

۵. په منصفانه ډول د مستعمرو مسایل حل شي او د هغوی اصلي اوسیدونکو ته پاملرنه وشي او د دولتونو منصفانه غوښتنې په نظر کې ونیول شي .

۶. د روس د ټولو ځمکو تخلیه کول او داسې مقررات تنظیم شي، چې روس ته مجال ورکړي، چې په پوره سیاسي استقلال کې د خپلې خوښې حکومت جوړ کړي

۷. د بلژیک د خاورې تخلیه او د هغې دوباره احیاء کول بې له دې چې د هغې ملي حاکمیت محدود کړي.

۸. د فرانسې اشغال شوې ځمکې تخلیه او احیاء شي.

۹. د ایټالیې د سرحدونو ټاکل د ملتونو د حددود اړوند کوم چې په واضح ډول معلوم دي.

۱۰. د هنګري، اتریش دولتونو د استقلال تامین.

۱۱. د رومانیاء، صبرسیتان او مونتې نیګرو تخلیه او احیاء او داسې څه وشي، چې صبرستان بحر کې صلاحیت ولري.

۱۲. د عثماني امپراطورۍ د ټولو دولتونو د استقلال تامین.

۱۳. د پولنډیانو پر اوسیدونکو ځمکو د پولینډ د دولت دوباره تشکیلول او پر بحر د هغو تسلط ضمانت

۱۴.د یوې عمومي جامعې جوړول چې موخه یې د ټولو وړو او لویو ملتونو لپاره د سیاسيّ استقلال او ارضي حاکمیت ضمانت ولري .

هماغه وو چې ملل سازمان رامنځته شو او عملاً یې په ۱۹۲۰ کال د جنوري د میاشتې په لسمه نېټه خپله رسمي پرانستنه وکړه لومړنی سرمنشي یې د انګلستان د هېواد څخه وو چې (سر جیمس ارک ډرمنډ) لزمیده.
د دغه سازمان منشور په ۲۲ مادو او دوه ضمیمو سره مشتمل وو په اداري تشکیل کې یې څلور ارګانونه درلودل چې عبارت وو له.

۱. **عمومي اسامبله** (General Assembly)

د مللو د جامعې ټول هغه هېوادونه چې په دې ټولنه کې یې ګډون منلی وو. خپل استازي واستول او عمومي اسامبله یې جوړه کړه. نوموړې اسامبلې په کال کې یو وار اجلاس کاوه او د جهان پر مهمو مسایلو او پیښو سره غږېدل او نظریات یې ورکول، په فوق العاده پیښو او چارو کې به د مللو جامعې عمومي اسامبلې، فوق العاده غونډې هم دایروالای شوای – څرنګه چې عمومي اسامبلې د تصمیمو د عملي کولو قدرت نه درلود یواځې یې سپارښتونه کولای شوای.

۲. **د امنیت شورای** (Security council):

د مللو د جامعې عامل هیت د انګلستان او فرانسې له لورې ټاکل کېدل- په دې توګه چې د نوموړي هېوادونو د دایمي استازو پرته، نورو هېوادونو څخه به د دوو کلونو لپاره نماینده ګان د نوموړې څانګې لپاره انتخابیدل- د دې څانګې مهمې دندې د مللو د جامعې د سیاسي چارو د پرمختګ او د اقلیتونو او د قیمومیت لاندې هېوادونو د کنټرول لپاره اختصاص شوي وې.

**۳. دارالانشاء (Secretariat) :**
نوموړې ځانګه د مللو د جامعې اساسي دفتر وو، چې په راز کې یې سرمنشي درلود- د دارالانشاء مامورین د ډیپلوماسي امتیازاتو څخه برخمن وو.

**د مللو د جامعې غړي**

د مللو جامعې له درې ډولو غړیو څخه عبارت وه:
لومړی: اصلي غړي.
دویم: بلل شوي غړي
دریم: منل شوي غړي
لومړی: اصلي غړي: هغه هېوادونه چې په لومړنۍ نړیوال جنګ کې یې بری ترلاسه کړی وو، لکه: انګلستان، فرانسه، ایټالیا، جاپان او نور.
دویم: بلل شوي غړي: دا هغه ناپیلي هېوادونه وو، چې د جنګ په وخت کې بې طرفه پاتې شوي وو. دې هېوادونو ته د جامعې د اصلي غړو له لورې بلنه ورکړل شوه، چې په جامعه کې ګډون وکړي او د هسپانې، سوډان، ناروې، هالینډ، سویس، ډینمارک، ایران، مکسیکو او نور چې شمیر یې یوولسو هېوادونو ته رسیدلی عبارت وو.
دریم: منل شوي غړي: له هغو هېوادونو څخه عبارت دي، چې په لومړۍ نړیواله جګړه کې یې ماتې خوړلې وه، لکه: المان، استرلیا، هنګري، روسیه، ترکیه او بلغاریه له مللو جامعې څخه په شلو کلونو کې یو شمیر هېوادونه داخل او یو شمیر بهر کړل شول؛ کله چې روسیه په۱۹۳۹ کال کې د پرفینلینډ حمله وکړه، له نوموړې جامعې څخه بهر کړل شوه، جاپان پرمنچوریا حمله وکړه، په ۱۹۳۳ کال کې بهر کړل

شو، ایټالیا په ۱۹۳۶ کال کې پر حبشې حمله وکړه له نوموړې جامعې څخه ووتل، چې وروسته د مللو د جامعې له اصلي غړو څخه یوازې انګستان او فرانسه پاتې شول.

له همدې خایه څخه د دویم نړیوال جنګ پیل وشو پدې جنګ کې ټول بین المللي اصول او حقوق تر پښو لاندې شول د انسانیت او بشریت په مقابل کې د ډیر زیات ظلم او بربریت څخه کار واخستل شو کوم چې نه یوازې د انسانانو بلکې د حیواناتو، مرغانو او ماهیانو د تباهی لامل هم وګرځیده.

پدې جنګ کې نړی په دوه برخو ویشل شوي وه، چې یو یې محوري کیمپ وو، چې جرمنی، جاپان او ایټالیا پکې شامل وو.

دویم اړخ ته اتحادي کیمپ وو، چې انګلستان، فرانسه، روس، امریکا متحده ایالات او نور دولتونه پکې شامل وو او د دې جنګ عمده علت ناانصافي وه، چې له لومړي نړیوال جنګ څخه وروسته متحدینو د ولتونو له جرمنی سره کوله او د ورسلیز د سولې تړون چې په حقیقت کې د دویم نړیوال جنګ لپاره مقدمه وه، د جرمنی په دولت په زور او جبر منل شوي وه. بلاخره د دویم نړیوال جنګ په ۱۹۴۵ کې پای ته ورسید او د جنګ له ختمیدو څخه وروسته د ملګرو ملتونو سازمان (United Nations Organization) په ۲۴ اکتوبر ۱۹۴۵ کې رامنځته شو او مرکز یې د متحده ایالاتو د نیو یارک ښار ومنل شو، چې د دې سازمان یادونه په لاندې ډول کولای شو.

**دملګرو ملتونو سازمان**

ملل متحد له بین المللي لویو او مهمو سازمانونو څخه شمیرل کیږي. د دویم نړیوال جنګ په دوران کې د امفکوره مینځ ته راغله، چې جامعه ملل ونه شوای کولای، چې د نړۍ د هیوادونو تر مینځ سوله ټینګه کړي ځکه نو بیا نوموړې جامعه بشپړه له مینځه ووخي یا دا چې اساسی بدلونونه پکې راشي څو وکولای شي، چې په نړۍ کې سوله ټینګه او د بشر حقوقو ملاتړ وکړي- د امریکا د متحده ایالاتو د هغې زماني رئیس «فرانکلن» ډی٠ روزولټ د ملل متحد د تاسیس وړاندیز وکړ، چې د جامعه ملل ناکام سازمان دې بشپړه له منځه لاړ شي او په بدل کې دې نړیواله ټولنه. ملل متحد سازمان جوړ شي، په ۱۹۴۵ کال د اکتوبر د میاشتې په۲۴ تاریخ د امریکا د متحده ایالاتو د ولایت (California) San Francisco په ښار کې نوموړی سازمان افتتاح شو د روزولټ میرمنې (( Elinor )) روزولټ هم د نوموړي سازمان د تاسیس او مثبتوفعالیتونو لپاره ډیر زیار ویست، د ملل متحد نړۍ له دوو ډلو څخه عبارت وه.

**۱: اصلي غړي:** هغه هیوادونه چې په دویم نړیوال جنګ کې یې بری ترلاسه کړی وو.

**۲: منل شوي غړي:** له هغو هیوادونو څخه عبارت وو، چې په دویم نړیوال جنګ کې ناپیلي پاتې شوي وو یا دا چې د مغلوبې لوري پلویان وو، په لومړي سرک د نړۍ د اکثرو هیوادونو ګډون په نوموړي سازمان کې مشکلات درلودل اما وروسته ډیر هیوادونو د دې موقع ومونده، چې په نوموړي سازمان کې شامل شي اوس د نړۍ د ټولو خپلواکو هیوادونو استازي په ملل متحد کې ګډون لري

**د ملل متحد حقوقي پېژندنه**

د ملل متحد ټولنه د ټولو شامل شوو هېوادونو د تړون له اثره رامنځته شوي ده، ځکه نو ټول ګډونوال هېوادونه د دې سازمان د «اساس نامې» په اجرا چې دوی په خپله هم لاسلیک کړې ده مکلفیت لري او هغه هېوادونه چې د نوموړې ټولنې غړي نه وي، د ملل متحد د «اساس نامې» په اجرا مکلفیت نه لري، اما یوه موضوع چې هغې سازمان څرګنده کړې ده دا ده چې د سازمان غړې دولتونه باید د هغو دولتونو چې د ملل متحد غړیتوب یې نه وي منلی د سیاسي او اجتماعي چارو او فعالیتونو څار وکاندي، چې د هغو اعمال د ملل متحد د اصولو پر ضد نه وي او د مخالفت په صورت کې پر هغوی فشار واچول شي، چې د نوموړې سازمان «اساس نامې» ته متوجه شي او مخالفت پرېږدي، له ملل متحد څخه هیڅ هېواد نه شي کولای، چې په خپله خوښه له هغې سازمان څخه خارج شي، یواځې اخراج صورت نیولای شي، یانې هېوادونه لکه د امریکا متحده ایالاتو، انګلستان، فرانسې، چین او روسیه نه شي وتلای؛ ځکه چې دوی د امنیت د مجلس دایمي غړي دي او د ویټو «veto » یانې د ردولو حق لري.

**د ملل متحد د سازمان څانګې:**

١. عمومي اسامبله (The General Assembly)
٢. د امنیت مجلس (The security council)
٣. دارالانشاء (The Secretariat)
۴. اقتصادي او اجتماعي مجلس (The economic and social council)
۵. د قیمومیت مجلس (The trusteeship)

۷. د هاګ بين المللي محکمه ( Hague the international court of justice)

۱. **عمومي اسامبله** ( The General Assembly) :

عمومي اسامبله د ملل متحد له ډيرو لويو او مهمو څانګو څخه شميرل کيږي، په هغه اسامبله کې د ملل متحد د ټولو غړو هيوادونو استازي ګډون کوي. هر هيواد کولای شي، چې د نوموړې اسامبلې ته پنځه استازي وليږي؛ خو د پنځو استازو ليږل داماناته ورکوي، چې هر هيواد په اسامبله کې پنځه رايې لري، بلکې پنځه واړه استازي د يوې رايې حق لري عموماً لوی هيوادونه د عمومي اسامبلې ته پنځه استازی ليږي، چې په حقيقت کې تمثيلي بڼه لري بنايي د دغو استازو څخه يو سياست پوه بل اقتصاد پوه، بل حقوق پوه لږ استازي دي مجلس ته استوي. عمومي اسامبله هر کال د اکتوبر په ۲۴ تاريخ اجلاس کوي. البته که ضرورت پيښ شي فوق العاده غونډه هم دايروالای شي، د فوق العاده غونډې د اجلاس غوښتنه د «سرمنشي» يا د عمومي اسامبلې له لورې کيږي، مثلاً عمومي اسامبله تصميم ونيسي، چې په فلانې وخت کې به فوق العاده غونډه جوړه وو.

**د عمومي اسمبلې دندې**

عمومي اسامبله دوه ډوله دندې لري :

الف: مهمې چارې .

ب : عادي چارې

الف : د عمومي اسامبلې مهمې چارې په دې ډول دي:

۱. د امنيت د مجلس د غيردايمي غړو ټاکل .

۲. د ملل متحد د بوديجې چارې

۳. د اقتصادي او اجتماعي غړو تاکل .
۴. د قیمومیت د مجلس د غړو تاکل .
۵. د متخاصمو دولتونو ته د سولې د تامین سپارښت یانې که ددوو یازیاتو هېوادونو ترمنځ شخړي او مخالفتونه پیدا شي، عمومي اسامبله د نزاع د ټولو خواوو ته د صلح وړاندیزکوي، چې جنګ پیښ نه شي .
ب:د عمومي اسامبلې عادې چاري په دې ډول دي:
۱. د هاګ د بین المللې محکمې د دایمې قاضیانو تاکل .
۲. د عمومي اسامبلی د چارو د جریان طرز .
۳. نور وارده مسایل .
دعمومي اسامبلې د عمده او مهمو چارو د تصمیم او پریکړو لپاره د هغې اسامبلې فوق العاده اکثریت یانې په درې برخو کې دوه برخې راځې لازمي دي. څو وار دې موضوعاتو قطعیت پیداکړي، خو د عادې او غیر مهمو مسایلو لپاره د مجلس ساده او بسیط اکثریت بسنه کوي.
۲. امنیت مجلس .
د امنیت مجلس د ملل متحد عامل یا مدیره هیت دی او ډیر صلاحیت لري، څرنګه چې له نامه څخه یې څرګنده ده د نړۍ د صلحی دنده پر غاړه ده، نوموړی مجلس دوه ډوله غړي لري.
الف: دایمي غړي .
ب: موقتي غړي .

۱. پنځه هېوادونه لکه: د امریکا، انګلستان، فرانسه، چین او روسیه د امنیت د مجلس دايمي غړي دي او دوی د ویټو veto یانې د پرېکړو او تصمیمو د ردولو حق هم لري.

۲. د امنیت د مجلس د موقتي غړو شمېر شپږ هېوادونه دي، چې هر هېواد د دوو کلونو لپاره د عمومي اسامبلې د فوق العاده اکثریت یانې له درې برخو څخه د دوو برخو رایو په اکثریت ټاکل کېږي، چې پدې حساب د امنیت د مجلس د غړو شمېر یوولس هېوادونو ته رسېږي د یوې موضوع د فیصلې لپاره باید د ټولنې اووه غړي، چې پنځه یې دايمي اتفاق وکاندي که د لویو هېوادو له ډلوه یو هېواد هم کومه موضوع رد (ویټو) کړي نو موږې موضوع نه حل کېږي. که د امنیت د مجلس شپږ غړي دايمي غړي په متحد ډول سره یو موضوع رد کړي دايمي پنځه غړي که څه هم د ویټو حق لري نه شي کولای موضوع پرېکړه کړي او په اړه یې تصمیم ونیسي، ځکه چې یې د موضوع د فیصلې او تصمیم نیولو لپاره د اوو غړو چې پنځه دايمي غړي هم پکې داخل وي لازم دي. اما عموماً داسې نه پېښېږي؛ ځکه چې غیر دايمي غړي تل د لویو هېوادونو د نظریاتو ملاتړ کوي. که د یوې موضوع د حل لپاره د پنځو لویو هېوادونو څخه یو غړي حاضر نه وو، دا ډول غیبت د «ویټو» یا دا مانا نه ورکوي.

۳. دارالانشاء

دارالانشاء د ملل متحد اداري چارې اجرا کوي او سرمنشي ډېر واک لري، چې له هغې واک څخه یو هم په مربوطه چارو کې د وړاندیز حق لري او د عمومي اسامبلې د فوق العاده غونډې د دایرېدو غوښتنه هم کولای شي، د سرمنشي ټاکل په لومړي سر کې د امنیت د مجلس په

متفقو رایو سره په عمل راځي او وروسته د عمومي اسامبلې د منلو لپاره د هغه اسامبلې ته پیشنهادیږي - سرمنشي پر ذکر شوو صلاحیتو سربیره د امنیت د مجلس او عمومي اسامبلې د تحریراتو او پروتوکولو «مقاوله لیک» مراقبت هم کوي، څرنګه چې سرمنشي ټولې چارې په ځانګړې ډول نه شي ترسره کولای، څو مرستیالان لري هغه ټرونونه چې د ملل متحد د غړو ترمنځ کیږي د سرمنشي له لورې، ټبټیږي سرمنشي له سیاسي امتیازاتو څخه تل برخمن وي او لکه سفیر مصئون وي - خو د دارالانشاء نور غړي دایمې سیاسي امتیازات نه لري کوم وخت چې دوی د خپل مرکز دارالانشاء څخه بهر د دندو د اجرا لپاره ځي، موقتي مصونیتاو سیاسي امتیازات یې ختمیږي په دارالانشاء کې دوه اداري موجودې دي:

الف: انظباطي کمیسون

ب: اداري محکمه

نوموړي اداري د دارالانشاء دننه کې د چارو د تنظیم ترتیب او کنټرول دندې پر غاړه لري - سرمنشی کولای شي د ملل متحد مامورین برطرف او مقرر کړي.

۴. اقتصادي او اجتماعي مجلس

د ملل متحد بله لویه څانګه اقتصادي او اجتماعي مجلس دی او یوولس غړي لري. د دې څانګې غړي د عمومي اسامبلې له لورې په فوق العاده اکثریت یانې، له دری برخو څخه د دوو برخو په رایو سره ټاکل کیږي - نوموړي څانګه موظیفه ده، چې په ټولنیزو چارو کې لکه، د روغتیا، تعلیم و تربیه او پهاقتصادي چارو کې د سیلابونو، زلزلو، قحطیو او نورو آفاتو مغیبت خپلو سره مرسته وکاندې او د

کارګرو د کار وخت وټاکې همداسې د نړۍ نورې اقتصادي اړتیاوې تر نظر لاندې ونیسي او ډیرې څانګې لرې چې ځینې یې په دې ډول دي .

(ILO) د بین المللی کارګرو سازمان

(FAO) د غذا او کرهنې سازمان

(UNESCO ) د ملل متحد ، تعلیمي، علمي او کلتورې سازمان

(WB) بین المللې بانک

(IBRD) د بیا جوړولو او پراختیا بین المللې بانک

(IDA ) د بین المللې پراختیا سازمان

( IFC) بین المللې مالې سازمان

(IMF) بین المللې پولې صندوق

( ICDO) د هېوادونو بین المللی سازمان وغیره دي .

**۵. د قیمومیت مجلس :**

د لومړنې نړیوال جنګ په پای کې د عثمانې «اوسنې ترکیې» او المان ټول تر لاس لاندې سیمې «مقبوضات» یا مستعمرې د جامعې ملل ځینو هېوادونو ته وسپارل شول، چې د هغونظارت او قیمومیت وکاندې ـ د بېلګې په توګه د مصر پرته نور ټول عربي سیمې د عثمانې د امپراطورۍ څخه بیلې او تر نظارت او قیمومیت لاندې راغلل، همداسې، د المان مقبوضات په افریقا کې«توګو» او «کیمرون» د جامع ملل د قیمومیت یانې سر پرستۍ وکمیسون ته وسپارل شول .

انګلستان، امریکا متحده ایالات، بلجیم، استرالیا ، فرانسه، جنوبي افریقا او ایټالیا هغه هېوادونه او سېمې د هغو تر نظارت او قیمومیت لاندې راغلل، خو د دویم نړیوال جنګ وروسته تر قیمومیت او نظارت

لاندې اکثره هېوادونه خپلواک شول او د متحده مللو د غړو په حیث ومنل شول، چې اوس د هغې سازمان د شاملو شوو هېوادونو شمیر نږدې د دو سوو ته رسیږي.

۲. د متحده مللو بین المللې محکمه:

د ملل متحد بین المللې محکمه له پنځه لسو قاضیانو څخه جوړه شوې محکمه ده، نوموړي قاضیان له شپږو حقوقي نظامونو څخه چې د اسلام حقوقي نظام هم پکې داخل دی. د نهو کلونو لپاره انتخابیږي. د هغو ټاکنه د امنیت د مجلس او عمومي اسامبلې له لورې صورت نیسي، قاضیان باید په خپلو هېوادونو کې د تکړه قضایي شخصیت درلودونکي، یا دا چې د بین الدول د عمومي حقوقو عالم وي، قاضي باید سپیڅلی شخصیت ولري او په کوم جرم متهم شوی نه وي، کوم دولتونه چې په خپلو مینځو کې اختلافات لري، دهغو د حل لپاره په خپله خوښه نوموړې محکمې ته راتلای شي. که یو دولت وغواړي چې محکمې ته حاضر نه شي، بین المللې محکمه هغه دولت دې ته نشي مجبوروالای چې محکمې ته حاضر شي، دې محکمې ته یواځې دولتونه کولای شي، چې د خپلو شخړو د حل لپاره ورشي، خصوصیافراد خپلې دعوې نوموړې محکمې ته نه شي مطرح کولای- د ملل متحد د محکمې مرکز د هالینډ په لوی ښار ((هاګHague)) کې واقع دی.

د ملل متحد رسمي مرکزژبې او بودیجه:

په ملل متحد کې د نړۍ د ډیرو ژبو خلک او استازي موجود دي، چې په ټولو ژبو د (( اساس لیک )) لیکل او تفسیر ناشوني کار دی، ځکه نو د ملل متحد رسمي ژبې اختصاراً (( عربي )) ((انګلیسي، فرانسوي، هسپانوي، چینایي او روسي )) منل شوې او ملل متحد اساس نامې هم په نوموړو ژبو

لیکل شوي؛ خو په لومړي سر کې اساس نامه په انګلیسي ژبه لیکل شوې وه، څکه نو د کومې «مادې» تفسیر که لازم شي د انګلیسي ژبې د اساس نامې متن ته مراجعه کیږي.

د ملل متحد مرکز د امریکا، متحدا یالاتو« نیویارک New York» ښار دی، د ملل متحد بودیجه د هغې سازمان د شاملو هېوادونو له لورې تهیه کیږي، چې د دولتونو په خوښه څینې بډای هېوادونه د کال ډیر او نور متناسبه ونډه اخلي، د امریکا متحده ایالاتو تر ټولو نورو هېوادونو څخه زیات په نوموړې بودیجه کې برخه اخیستې وه.

د دغه سازمان د منشور یا (charter) له مخې تیری او تجاوز غیرقانوني عمل وشمیرل شو او همدارنګه د دغه منشور له مندرجه موادو څخه د عضو هېوادونو لخوا د قوي او تهدید استعمال منع شو. د ملل متحد منشور پریکړه هم د نړۍ د هېوادونو د بل حقوق، شان وشوکت، مساوات، متقابل احترام، انصاف او دانسانانو د ژوند د پرمختګ لپاره غوره معیارونه په آزاد ډول تاکل او اجتماعي ژوند ته وده ورکولو څخه بحث کوي.

کله چې په ۱۹۴۹ کې دویم نړیوال جنګ پای ته ورسید، د جرمنې، جاپان او ایټالیا ماتې وخوړه او متحدین دمحوري دولتونو په مقابل کې بریالي شول په بین المللي سیاست کې یوه ستره او مهمه پېښه وشوه او هغه دا چې روسیه او امریکا د نړۍ د سترو قدرتونو (super powers) په توګه تجاوز وکړو. روسیه په سیاسي او اقتصادي برخه کې د استبدادي او سوسیالتي نظام درلودونکې وه. حال داچې امریکا د دیموکراسی او سرمایه داری نظام څخه یې پیروي کوله.

دوارو هېوادنو د خپلو اغېزو د حلقې د زياتوالي لپاره هڅې کولې او روسيې د شرقي اروپا ساحه دخپلو اغېزو لاندې راوسته او وروسته يې په ۱۹۴۹ کال کې د لومړي ځل لپاره اتومي چاودنه وکړه او ځان يې په نظامي برخه کې د امريکا متحدايالاتو سره برابر کړ.

که څه هم امريکا مخکې د ترومن له پروګرام سره سم د جورج مارشل چې د امريکا د متحده ايالاتو بهرنيو چارو وزير وو، په پلان کار کاوه؛ خو د روسي د اتومي چاودنې په ځواب کې او د خپل دفاعي حالت د ټينګښت لپاره د (۱۹۴۹) کال د اپريل په مياشت کې د ناټو ( North Atlantic Treaty Organization) يانې د شمالي اتلانتک نظامي تړون جوړ کړ، چې لاندې يې په تفصيل سره يادونه کوو.

**د شمالي‌اتلانتيک سازمان نظامي تړون**

**North Atlantic Treaty Organization**

ناټو يو بين الحکومتي سازمان دی، چې (۲۷) غړي هېوادونه يې خپلې بشپړې ملي واکمنۍ لري، د ناټو ټولې پريکړې د غړيو هېوادونو ترمينځ د ګډ نظر او ګډ لرليد پر بنسټ په ګډه سره رامنځته کيږي، دغه سازمان دريځ او بنسټيزه دنده د تړون له مندرجو موادو سره سم دا ده، چې د سياسي او پوځي وسايلو په کارولو سره د خپلو غړيو هېوادونو د ازادۍ او د امنيت ساتل د يو منظم پلان له مخې د دندو په سرليک کې درج کړي او ترکار لاندې ونيسي.

ناټو د ډيموکراسۍ، شخصي ازاديو، د قانون د واکمنۍ او د شخړو سوليزه حل په اړه د غړيو هېوادونو د ارزښتونو ساتنه کوي او د اروپا او اتلانتيک په ټوله سيمه کې دغه ارزښتونه پياوړي کوي.

د ناټو د پریکړو یو تر ټوله مهمه مرجع او مقام د اتلانتیک شورا ده، چې د سفیرانو، وزیرانو او یا د دولتي او حکومتي مشرانو په کچه د ۲۲ متحده هېوادونو استازي په کې ګډون لري.
(NATO) یو واکمن پوځي تړون دی، چې د جوړېښت فلسفه یې د هغه عکس العمل په پایله کې رامنځته شوه، چې هغه ته یې د پخواني شوروي اتحاد له خوا تهدید وایه (NATO) څلور مخفف توری یاني (North Atlantic TreatyOrganization) دي چې اوسمهال د شمالي امریکا او د اروپا له هېوادنو څخه د ۲۲ هېوادونه د دې نظامي تړون غړیتوب لري.
د ناټو (NATO) د نظامي سازمان غړي د هسپانیا، استونیا، اسلوواکی، اسلوونی، ایتالیا، ایسلینډ، المان، امریکا، بیلجیم، بلغاریه، پرتګال، ترکیه، چک جمهوریت، ډنمارک، رومانیا، فرانسه، کاناډا، لتوانیا، لوګزامبورک، پولینډ، لیتوانیا، مجارستان، هانګري، ناروی، هالینډ او د یونان له هېوادونو څخه عبارت دي.
(NATO) هغه نظامي سازمان دی، چې وروسته د دویمې نړیوالې جګړې څخه د شمالي اتلانتیک د تړون د نظامي دندو د ترسره کولو لپاره په (۱۹۴۹) میلادي کال کې جوړ او رامنځته شو- د دویمې نړیوالې جګړې وروسته په لومړیو کالونو کې په ختیځ او مرکزي اروپايي هېوادونو کې د پخواني شوروي اتحاد د پراختیا غوښتنې په وړاندې د (۱۹۴۸) میلادي کال مارچ په میاشت کې د پنځو هېوادونو انګلیس، فرانسې، بیلجیم، هالینډ او د لوګزامبورګ په ګډون او بغړیتوب سره د بروکسیل د تړون په لاسلیک کولو سره د تولنیزي دفاع اتحادیه جوړه او رامنځته شوه.
وروسته له هغې نه دغه غړي هېوادونه د ډنمارک، ایسلنډ، ایتالیا، ناروی او د پرتګال له هېوادونو څخه هم دې نظامي سازمان ته د ګډون او غړیتوب

لپاره بلنه ورکړه او دغه هیوادونه یې ومنل، بل خل بیا له دوو میاشتو نه وروسته د کاناډا او د امریکا هیوادونه هم د دې نظامي تړون غړیتوب یې ترلاسه کړ او د ټولو هیوادونو په ګډون سره د ۱۹۴۹ میلادي کال د اپریل په میاشت کې د شمالي اتلانتیک تړون په واشنګټن کې لاسلیک شو او د NATO نظامي سازمان جوړ او رامنځته شو.

د ناټو پوځي جوړښت د ګډ هیوادیز ځواکونو پلانول سازمان ورکولو او د قوماندې نظام دی، دغه جوړښت د ناټو د ستراتیژیستو قوماندانانو قوماندې لاندې په ګډه د پلان جوړولو، روزنې، تمرینونو او عملیاتو زمینه برابر وي.

د (NATO) لومړی د کار ځای او د قوماندې مرکز په فرانسه کې وو او وروسته له هغې څخه په ۱۹۶۶ میلادي کال کې کله چې جنرال دوګول پر دې نظامي تړون د امریکا واکدارې ولیده له دې تړون څخه ووته او د دې تړون د کار ځای او د قوماندې مرکز د بیلجیم د پلازمینې بروکسیل ته انتقال شو.

د دې دفاعي تړون غړیو هیوادونه لاندنې ګټې له خانه سره لري.

۱: د دفاعي تړون په رامنځته کولو سره کولای شي، چې د هیواد واکمنې په خپله خوښه په مسلکي او انجینري توګه سره د هیواد په امنیتې فضا کې پراختیا ورکړي.

۲. د دفاعي تړون په رامنځته کولو سره کولای شي: د(ګواښ په شرایطو کې)د هیواد د امنیتي کیدو او خانله کیدو څخه مخنیوی وکړي.

۳. د دفاعي تړون په رامنځته کولو سره کولای شي (د ګواښ په شرایطو کې)د نورو هیوادونو د ځواکونو د راټولیدو او ایتلافونو له جوړلو څخه د یرغل لپاره پر بل هیواد د مخنیوي لامل وګرځي.

۴. واک د لویو قدرتونو او سترو هېوادونو هر موخې غوښتنې او یو اړخیزه خواکمن کېدو پر وړاندې پراختیا ومومي.
۵. د دفاعي تړون په رامنځته کولو سره کولای شي، چې د یو هېواد د خواکونو واک د لویو قدرتونو او سترو هېوادونو د هژمونۍ غوښتنې او یو اړخیز ځواکمن کېدو په وړاندې پراختیا ومومي.
۶. د دفاعي تړون په رامنځته کولو سره کولای شي، چې د خپلې واکمنۍ په شرایطو کې د خپل نظامي لوړتیا ته په ګټوره توګه سره پراختیا ورکړي او لوړ یې بوزي.
۷. د دفاعي تړون په رامنځته کولو سره کولای شي، چې له فرصتونو څخه په کار اخیستنې سره د ظرفیتونو په پاملرنې سره د ګواښونو په وړاندې ودرېږي او هغه ته پراختیا ورکړي.
۷. د دفاعي تړون په رامنځته کولو سره کولای شي اړوند هېواد خپل امنیت په څو اړخونو او بعدونو سره مطرح کړي او په همدې ډول سره اقتصادي سیاستونه کولای شي، چې د اقتصاد له پلوه هم مثبت او ګټور اغېزه د غړي هېواد لپاره له ځان سره ولري.
د شمالي اتلانتیک د نظامي سازمان جوړښتونه.
د NATOجوړښتونه عبارت له دریو ۳ اصلي برخو څخه دي:
۱: د NATOشورا
۲: مشرتابه (رئیس)
۳: نظامي کمیټه

**دNATOشورا**

د NATOیو بنسټیزه اصلي برخه ده او ټول غړي هېوادونه په دې شورا کې استازي لري او درايو د مساوي او برابر حق درلودونکي دي .دNATOپه شورا کې د پرېکړو نیول د ټولو غړیو د رایو پر بنسټ رامنځته کیږي او هر هېواد یواځې د رایې حق لري. دغه شورا په دوه سطحه کې جلسې کوي.

۱: د وزیرانو شورا

۲: د دایمې استازو شورا .

**د وزیرانو د شورا جلسې**

د وزیرانو د شورا جلسې په کال کې دوه تر دریو ځلو پرانستل کیږي او دا جلسې د شورا کارونواو دندو پورې تړلې دي .

یو یا څو وزیران د غړي هېواد په استازیتوب سره په هغې کې ګډون کوي او د دي شورا هري جلسې پرمخ بیول د غړیو هېوادونو د یو وزیر پر غاړه ده او نوموړی وزیر د پلان مطابق جلسه پرمخ وړي – په همدي ډول سره د وزیرانو شورا مسؤلیت لري، چې د دې سازمان ټولنیزه کرښلاره او ملی چاري او مسایل همدارنګه د نظامي لوړو چارواکو او غیرنظامی لوړو چارواکو ترمنځ د اړیکو د تامینول او رامنځته کول په غاړه لري .

د استازو د شورا جلسې هم تل د هېوادونو د دایمې استازو په سطح کې چې تل په بروکسیل کې شتون لري جلسې ترسره کیږي دغه ډول جلسې د ترتیب شوي پلان له مخې په اونۍ کې یو ځل یا دوه ځلې صورت ومومي. د دایمی استازو د شورا دندې، د یو لړ چارو د وړاندیزونو څیړنه او مطالعه ده، چې د هغوی په هکله د وزیرانو د شورا د استازو لخوا پریکړه او تصمیم پري نیول کیږي او همدارنګه د شورا استازي تل د شورا په سطح کې چې دې سازمان د رامنځته شوو پریکړو او سیاستونو څخه څارنه وکړي او هغه

تر خپل نظر لاندې ولري او تطبیق او عملي کولو مسوولیت پر خپله غاړه لري .

**د NATO کمیټې، تخصصي موسسات اوډلې :**

د NATO د دغه شورا برسیره دوه نوري شوراګانې هم شته، چې یو شمیر نوري کمیټې او ډلې یې جوړې کړې او رامنځته کړې دي، چې ډول ډول مسایل لکه سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او نور اړین مسایل چې د غړو هېوادونو په اړه دغو کمیټو او ډلو لخوا وړاندې کیږي تر مطالعې او څیړنې لاندې ونیول شي، د دغو کمیټوله جملې څخه ډیرې مهمې کمیټې: د سیاسي مشاورینو کمیټه، د اقتصادي مشاورینو کمیټه، د څیړنې، مطالعې، ترفیق او د کلنۍ بر رسیو کمیټه، د تسلیماتواو وسلو کمیټه، د نظامي بودیجې کمیټه او نورې دغسې کمیټې دي .

دغه کمیټې خپلې څارنې د توصې او وړاندیزونو په چوکاټ کې د ناټو د شورا په واک کې یې ورکوي او برسیره پر دغې کمیټې د NATO شورا تخصصي موسسې لکه د(NATO دفاعي کالج) د ( پراختیا لپاره د مشاورینو ډلې) د(فضایي څیړنو ډلې ) تر اوبو او تر سمندر لاندې د کښتیو د څیړنو مرکز اود ( اړیکو سازمان ) هم دي .

**د NATO مشرتابه**

د NATO یوه تر ټولو ډیره مهمه څانګه د دې سازمان مشرتابه او ریاست دی، چې د هغه په راز کې عمومي ریس قرار لري، عمومي ریس د استازو په وسیله ټاکل کیږي او عمومي ریس څخه د ټولو چارو په سمون او تر سره کولو کې کار اخیستل کیږي .

د NATO عمومي ریس د استازو د دایمې شورا ریس او د شورا د استازو د جلساتو ریاست او د مشرتابه د اداري چارو او د شورا او نورو مختلفو

چارو مسولیت او ریاست پر غاړه لري. عمومي ریس په همدې ډول سره راز راز مسایل د لړلیدونو او نظریاتو د راکړې ورکړې لپاره شورا ته وړاندې کوي، عمومي ریس کله چې د غړیو هېوادونو تر مینځ د یوې مسلې په سر د نظر او لړ لید اختلافات رامنځته کیږي. مسوولیت لري، چې په دې هکله د اختلافاتو د مینځته وړلو لپاره اړین پیل او کټور وړاندیزونه تر سره کړي( NATO) د سیاسي او پوځیلارو په ذریعه د خپلو غړو خوندي ساتلو ژمن دي دا سازمان او په ځانګړې توګه د هغه مشرتابه له هغو هېوادونو سره تړلو پراخو مسایلو په اړه لکه دفاعي اصلاحات او سوله ساتنه، سلا مشورې او مرستې ته هڅوي .

**نظامي کمیټه**

د ناټو د ډیرو مهمو ارګانونو له جملې څخه یو یې هم نظامي کمیټه ده، چې د ناټو د مالي او لوړو نظامي ارګانونو په توګه پیژندل کیږي، نظامې کمیټه د وزیرانو شورا له خوا څخه تاکل کیږي او په دې نظامې کمیټه کې د ټولو غړیو هېوادونو څخه د هر هېواد لوی درستیز، د دې نظامې کمیټې غړي دي او نومړې شورا ته مسولیت لري او د شورا په وړاندې ځواب ورکوونکې دي.

د نظامې کمیټې جلسې تل او دایمې نه دې، خو څه ناڅه په کال کې دوه ځله او یا د وخت او زمان د اړتیا په صورت کې کوم وخت چې اړین او مهم موضاعات رامنځته کیږي.

د دغه کمیټې جلسې هم جوړیږي، د نظامي کمیټې بنسټیزې دندې د NATO شورا ته. د نظامې مسایلو د معقولو او مناسبو چارو د حل د لارود وړاندیزونو د وړاندی کولو څخه عبارت دې. د دې نظامې کمیټې د ریاست کولو چاري د یوې جلسې نه تر بلې جلسې پورې هر ځل په وار سره د

یو غړي پر غاړه دې او د بلې جلسې ریاست او پر مخ بیول بیا د بل غړي پر غاړه په دوراني توګه دې، چارو سمبالول چې د دې کمیټې د جوړښتونو او نظامې کړنو څخه عبارت دې، چې (تل پاتې او دایمې ډله نومیږي) او پورتنې مسایل پر خپله غاړه لري.

په ۱۹۵۲ میلادي کال کې د لزبن یوه کمیټه چې (د نظامي استازو د کمیټې) په نوم جوړه او رامینځ ته شوه یو دایمې او تلپاتې ارګان دی دغه ارګان د دایمې ډلو او غړیو هېوادونو له استازو څخه عبارت دې او د کار ځای یې په واشنګټن کې دی.

د (نظامي استازو کمیټه)، د اړینو خبرونو او اطلاعاتو په ورکولو سره د نورو نظامي کمیټو په همدې ډول سره مرسته او خپلې چارې ترسره کوي. د دې نظامې کمیټې تر څارنې لاندې، یو شمیر نور سازمانونه هم خپلې چارې تر سره کوي، چې د هغو له جملې نه لاندې ارګانونه: لکه (د نظامي معیارونو آژانس) د قضایې څیړنو د پراختیا او د مشاورینو ډله (او د NATO له فاعې کالج)څخه عبارت دي.

څو نظامې عالي قومندانې له ډیرو مهمو سازمانونو څخه جوړه شوي ده چې د نظامې کمیټې تر لارښوونې او څارنې لاندې کار او فعالیت کوي.

د NATO په هره کمیټه کې ټولې پریکړې د نظر په لوړالې سره رامنځته کیږي، څکه نو د ناټو پریکړه د ټولو غړیو د کډې ارادی څرګندونه ده.

**دNATOعالي نظامي قومنداني**

ناټو په خپله ډیر لږ شمیر دایمې ځواکونه لري، کله چې د شمالی اتلانتیک شورا پر یو عملیات موافقه وکړي. غړي هېوادونه په خپله خوښه ځواکونه ورکوي د دندې ترسره کیدو وروسته بیا دغه ځواکونه بیرته خپلو هېوادونو

ته ورستنیږي د دغو عملیاتو د همغږي کولو او ترسره کولو دنده د ناټو د پوځي قوماندانۍ د جوړښت پر غاړه ده او په دغه جوړښت کې قرارگاه او په بیلابیلو هېوادونو کې پرتې هډې شاملې دي.

د ناټو ورځنۍ فعالیتونه مسلکي پوځي جوړښتونه او د امنیتي پالګونې پروګرامونه له ګډو بودیجو څخه تمویلیږي، چې د لګښت د شریکولو په اړه یوه منل شوی فورمول له مخې د ټلوالې غړي حکومتونه پکې برخه اخلي

د ناټو د تړون د غړیو هېوادونو نظامي ځواکونه پر دریو برخو په لاندې ډول سره ویشل شوي دي.

لومړی: هغه ځواکونه چې د NATO تر مستقیمې قوماندې لاندې دي،

دویم: هغه ځواکونه چې غړي هېوادونو منلې دي، چې د جګړې د رامنځته کیدو په وخت کې په ټولیز راغونډیدلو او راټولیدلو سره د NATO په واک کې دې ورکول کیږي.

دریم: هغه ځواکونه چې د ناټو د تړون د غړیو هېوادونو تر ملي قوماندې لاندې وي.

NATO قومندانې د سیاسي او جغرافیوي له لړلیدنه پر درې قومندانیو او پر یو د طرحو او وړاندیزونو پر حاجیوی ډلې ویشل شوي ده.

هر یوه قومندانۍ د واک او دصلاحیتونو حد او اندازه د رامنځته شویو عواملو په پاملرنې سره، د هغې له جملې نه جګړه او وسله کې توپیر کوي.

الف: د اروپا عالي قومنداني: د دې قومندانۍ تر نظر لاندې د قوماندې سیمې د دماغه له شمالي څخه بیا مدیترانې پور د اطلس له اوقیانوس څخه د ترکیې تر ختیځ پورې دې دغه قومندانۍ تر خپل واک لاندې په دغه ځایونو او سیمو کې نورې قوماندانۍ هم لري:

لومړی: د شمالي اروپا قومندانی.
دویم : د مرکزي اروپا قومندانی.
دریم: د سویلي اروپا قومندانی.
ب: اوقیانوس اطلس د سیمې د اتلانتیک حوزې قومندانې: د دې قومندانی تر نظر لاندې د قوماندې سیمې له شمالي قطب څخه بیا د مداررراس السرطان د شمالي امریکا له ساحلي اوبو څخه بیا د اروپا او افریقا تر ساحلي اوبو او پرتګال پورې واټن او اوږدوالی لري. دغه قومنداني تر خپل واک لاندې په دغه ځایونو کې نورې مادونې قومندانی په دې ډول سره لري.
١. لومړی د اوقیانوس اطلس لویدیزه قوماندانې
٢.دویم . د اوقیانوس اطلس ختیځه قومندانې
٣.دریم: د اوقیانوس اطلس د سمندري کښتیو د روانولو( د دښمن د کښتیو ضد ) قومندانې .
ج: د مانش د کانال قومندانې : د دې قومندانی تر واک لاند سیمې د مانش له کانال څخه بیا د شمالي سمندر د اوبو تر سویلي برخو پورې دې.
د ۱۹۹۰ کلنو په لسیزه کې کله چې د شوروي اتحاد د ونړیدې او ورشو یا وارسا تړون (Warsaw pact ) نظامي تړون هم د منځه ولاړ او د ناټو په جوړښت کې هم بدلون راغلی او ډیر زیات بدلون د نظامي عالي قومندانی په برخه کې وو. د دغه بدلونونو له یادونې نه مخکی د (Warsaw pact) یادونه کوو.

**دوارسا تړون ( Warsaw pact)**

د دې تړون اصلي نوم ((د ختیځې اروپا د هېوادونو شل کلن متقابله مرسته ده، دا تړون د ۱۹۵۵ کال د می د میاشتې په ۱۴مه نېټه د پولینډ په مرکز

Warsaw کې د شوروي اتحاد، پولینډ، چکسلواکیا، رومانیا، هنګري، بلغاریا، البانیا او مجارستان د نماینده ګانو تر منځ لاسلیک شو. دا تړون د غربي بلاک په مقابل کې تاسیس شوی او رهبري یې د شوروي په لاس کې ده، د دې تړون د عضو هېوادونو مسلح قواوو د رهبرۍ لپاره واحده نظامي قومنداني وټاکل شوه، د دې تړون له موخو څخه یوه دا ده، که چېرې په یوغړي هېواد کومه بهرنۍ نظامي حمله وشي، باید نور غړي هېوادونه یې په ګډه دفاع وکړي.

د وارسا لمنځه تللو وروسته دغه بدلونونه هم رامنځته شول:

۱. د مانش د مالي قومندانۍ منحلیدل او د منځه وړل صورت ومومند.

۲. د اروپا څلور قومندانۍ دریو قوماندانیو ته راټیټه شوه او یوه یې له مینځه یوړل شوه، په دې ډول سره د انګلستان د سهمي او د اروپا شمالي قومنداني یو له بل سره ګډه شوه او یوې قومنداني د شمال لویدیځ قومندانۍ په نوم واړول شوه او بدلون یې ومومند، چې مسوولیت یې د ناروی، انګلستان د بالتیک د سمندر د مانش او د شمالي سمندر د سیمو قوماَنده د دې قومندانۍ پر غاړه واخیستل شوه او د شمالي سمنډر د سیمو قومانده د دې قومندانۍ پر غاړه واخیستل شوه او د دې قومندانۍ اډه او مرکز په انګلستان کې ځای پر ځای او وټاکل شو.

د ناټو د جوړیدو وروسته د روس او امریکا ترمنځ د سوړ جنګ (cold war) پیل وشو په ۱۹۵۰ کال کې د Korea د منازعې له امله سوړجنګ نور هم شدت اختیار کړ.

او دغه سوړ جنګ د اروپا له سرحداتو څخه د اسیا برآعظم (لوي وچې) ته هم سرایت وکړ؛ خو په ۱۹۵۵ کال کې د جینوا کنفرانس کې د امریکا، روسي او انګستان نماینده ګانو له ګډو مذاکراتو څخه وروسته داسې پریکړه

وکړه، چې د سولیزه پالیسي به عملي کوي، چې دا تګلاره د (policy of peace existence) په نوم یادیده؛ خو کله چې د چین اولسي جمهوریت د یو نړیوال قدرت په توګه راښکاره شو؛ نو دغه دوه قطبه په دري قطبه سیاست بدل شو او چین هم د خپلو اختیاراتو د دایرې د پراخولو لپاره هڅې پیل کړې او چین په ۱۹۷۰ کال کې د امریکا له متحده ایالاتو سره د تفاهم لار ونیوله پداسې حال کې چې د (۱۹۵۳) کاله پورې د روسیې او چین ډیرې ښې اړیکې موجودې وې؛ خو کله چې خروشیف په ۱۹۵۳ کال کې قدرت ته ورسید او تر ۱۹۲۴ پورې په قدرت کې پاتې شو؛ نو په پیل کې یې له چین سره اړیکې خرابې شوې او یو لړ سیاسي اختلافات رامینځته شول او تر ډیره وخته یې دوام وکړ.

پدې اواخرو کې دغه دري قطبه سیاست په څو قطبه سیاست بدل شو او اروپا د درېیم غړیتوب پالیسي اختیار کړه او ځینې نورو قطبونو لکه د درېیمې نړۍ هېوادونه، د ناپیلو دولتونو سازمان، د اسلامي هېوادونو کانفراس، افریقایي هېوادونو اتحادیه او نور.....دي، چې دا هر یو خاته یو قطب یا طرف جوړ شوی وو؛ خو کله چې دا سوړ جنګ په افغانستان کې د روسانو له خوا په تود جنګ بدل شو او په ۱۹۷۹ کال کې روسانو ټول بین المللي معیارونه او اصول تر پښو لاندې کړل او افغانستان یې تر خپل نظامي یرغل لاندې راوست؛ نو غرب هم پدې پوهه شو، چې دا به د دې ورستی چانس وي، چې خپل حریف هم دلته په درولو سره مات او شاتګ ته مجبور کړي؛ نو ځکه یې په بې دریغه ډول د روسانو سوړ انقلاب د مخنیوي لپاره د مرستي لاسونه افغانانو ته را اوږده کړل؛ خو افغانانو د خپل اسلامي او افغاني رسالت له مخې خپله دنده وپیژندله او د جهاد لار

بې ونیوله او بالاخره د دوی د غه قربانیو رنګ راوړ او روسان په نړیواله سطحه له ماتې سره مخامخ شول.

په ۱۹۸۸ کال کې روسیه خپل ټول عسکر د افغانستان له خاورې څخه وویستل او په ۱۹۹۰ کال کې د وارسا نظامي تړون عضوه هېوادونو دفاع او بهرنیو چارو وزیرانو یو کنفرانس د هنګرۍ د بوډاپیسټ ( buda pest ) په ښار کې جوړ کړ او دغه سازمان د رسمې انحلال اعلان یې وکړ او په همدغه ۱۹۹۰ لسیزه کې د پخوانې شوروي ډیر ایالتونو خپل استقلال او ازادۍ ته ورسیدل او د نړۍ د جغرافیوي نقشې پر مخ یې، د آزادو او مستقلو هېوادونو په توګه رسمیت تر لاسه کړ او په دې توګه دغه سوسیالستې ضد انساني قطب خپله ماتې ولیده نړۍ یو قطب سیاسي شکل اختیار کړ او اوس فعلاً دغه بین المللې اړیکې د خپل تاریخ په نظر کې نیولو سره ډیر وسیع، پیچلې او مغلق شوی او یو ځانګړی شکل یې غوره کړی دی او د کوم خاص قطب نوم ورته نه شو ورکولی؛ ځکه چې ننني نړۍ د یو کلې حیثیت غوره کړی دی او په یو کلې کې هیڅ کور هم نه شي کولی چې له نورو ګاونډیانو سره اړیکو درلودلو څخه پرته ژوند پر مخ بوځي.

## دویم څپرکی

### دنړیوالو اړیکو ډولونه Kinds of International Relations

نړیوالې اړیکې عموماً په دوه ډوله دي.

۱. خصوصي بین المللې اړیکې Private International Relations

۲. عمومي بین المللې اړیکې Public International Relations

**خصوصي نړیوالې اړیکې**

له هغو اړیکو څخه عبارت دي، چې د دوه یا زیاتو دولتونو د خصوصي افرادو ترمنځ اړیکې او یا هم د دوه یا څو دولتونو د خصوصې سازمانونو او ادارو ترمنځ جوړېږي یا دا اړیکې د عمومي قوانیو یوه برخه ده، چې موضوع یې د بهرنیو کسانو د تابعیت ټاکل، د هېواد په دننه کې د هغوی حقوق او په هېواد کې د میشتو بهرنیانو په برخه د بیلابیلو بهرنیو او کورنیو قوانینو د ټکر له امله رامینځته شویو اختلافاتو حل کول دي.

دا اړیکې د خللکو فرهنګي، اقتصادي، تجارتې، صنعتې، علمې او فنې چارو په هکله کیدای شي او دا خصوصي اړیکې پر ملې اړیکو مستقیمه اغیز لري او دا بیا د دولتونو په بهرني سیاست ژور اغیز لري

**عمومي نړیوالې اړیکې.**

دوه یا څو دولتونو او بین المللې سازمانونو که هغه دولتونه وي یا غیر دولتي یا څو ملتي شرکتونو ترمنځ چې کوم اړیکې په نړیواله سطحه موجودي وي هغه د عمومي بین المللې اړیکو په نوم یادیږي.

یا د دولتونو او بین المللې سازمانونو تر مینځ د اړیکو ترتیب او تنظیم د عمومي بین المللې د سولې د اړیکو د بحث موضوع ده او پدې اړیکو کې لکه بین المللي سوله او امنیت، دفاعې یا نظامې تړونونه، بین المللې

تجارت، جنګ، بهرنۍ پالیسۍ، ډیپلوماتیکې اړیکې، بین المللي مواصلات، نړیوال سازمانونه، غیرملکي یا بهرنۍ تبلیغات او پروپاګندې او داسې نور مسایل ... تر څیړنې لاندې نیسي.

**د عمومي نړیوالو اړیکو او خصوصي نړیوالو اړیکو ترمنځ توپیرونه**

**Destination between Private International Relations and Public International Relations**

۱. عمومي نړیوالو اړیکو زیاتره برخه له دولتونو څخه بحث کوي او ډیره کمه برخه یې د افرادو پورې اړه لري او خصوصي نړیوالې اړیکې یواځې له افرادو څخه بحث کوي او مسایل یې د څیړنې لاندې نیسي.

۲. خصوصي نړیوالې اړیکې د ښاروالۍ قانون برخه ده، خو تل له عمومي نړیوالو اړیکو سره بې مسله او قضیه نده تړلې.

۳. د عمومي نړیوالو اړیکو مقررات (تقریباً عمومي اجرات او تقاضات) د ټولو دولتونو لپاره یو شان دي؛ خو د خصوصي نړیوالو اړیکو مقررات په مختلفو هېوادونو کې په مختلف شکل قرار لري.

٤. خصوصي نړیوالې اړیکې دا پریکړه کوي، چې د بهرنۍ عنصر لرونکې قضیه به کوم قانون عملي کیږي او عمومي نړیوالو اړیکو کې دا ستونزه نشته.

٥. خصوصي نړیوالې اړیکې هغه قضایي هیئت یا محکمه مشخصوي کومه چې قضایي صلاحیت لري، چې راپورته شوي او بحث لاندې موضوع پریکړه صادره کړي، چې پدې اړه عمومي نړیوالې اړیکې له دې سره توپیر لري.

۶. Robert Phillimore وايي هغه حقوق چې له عمومي نړیوالو اړیکو څخه پورته کیږي قاطع دي او د حقوقو او قانون ماتونه (Cacus belli د جګړې لامل) تشکیلوي، د کیلوګ براینډ د تړون (kellog brand pact) او د ملل متحد د منشوررله مخې دا نظر سم ندی او جنګ منحل بولي د خوصوصې نړیوالې اړیکې کاملاً مطلق حقوق نه منظوروي.

۷. عمومي نړیوالو اړیکو کې هغه مقررات شامل دي، چې د دولتونو لخوا له یو بل سره د اړیکو د ټینګولو لپاره پیژندل شوي دي او دا مقرارت زیاتره د بین المللي دودونو او تړونونو څخه راپورته شوي دي؛ خو د خصوصي نړیوالو اړیکو مقرارت د دولت د مقننه هیت لخوا جوړ شوي وي او دولت د قضایاتو لخوا انکشاف ورکول شوي وي.

# دریم څپرکی

## د بین المللي اړیکو د څېړنې مسایل

د بین امللي اړیکو د څیړنې مسایل په لاندې ډول په تفصیل سره بیانوو.

۱. لاسوهنه ( Interventionism )

Oppenheim وایې چې لاسوهنه په اصل کې د یو دولت لخوا د بل دولت په چارو کې امرانه مداخله کول دي، چې د خپلو اتباعو او منافعو صحیح ساتنه وشي.

بل تعریف دا دی چې لاسوهنه دې ته وایې، چې یو یا څو حکومتونه (یا نړیوال سازمانونه) د خپل هوډ د ترسره کولو او یا د موجوده حالت د پاتې او دوامداره ساتلو او یا په هغه کې د تغیر راوستلو په موخه د یو بل خپلواک هیواد په کورنیو یا بهرنیو چارو کې په داسې حال کې چې په جګړه کې هم ورسره ښکیل نه وي، په یوه نه یوه بڼه لاسوهنه کوي.

Jack C. Plano او Roy Olton وایې چې د یو هېواد او یا یوه ډله هېوادونو تحمیلي لاسوهنه کول د بل هېواد په چارو کې چې د هغه هېواد کورنۍ یا بهرنۍ پالیسۍ اغیزمنه کړای شي د بین المللي حقوقو د محتوا په اساس لاسوهنه په قانوني شکل توجیه کیدای شي نظر لاندنیو ټکو ته:

۱. که چېرې یو دولت د یوې موافقتنامې چې د متحده سیاست (پالیسۍ) پرېکړو په بنسټ رامنځ ته شوې وي څخه سرغړونه وکړي.

۲. که چېرې اړینه وي، چې له ځان څخه دفاع وشي.

۳. که چېرې لاسوهنه اړینه وي، چې د دولت د اتباعو ساتنه وشي.

۴. که چیرې لاسوهونکې هېواد ته دا حق د یو تړون په اساس ورکړل شوی وي.

۵. که چیرې یو دولت له بین المللي حقوقو او قانون څخه سرغړونه وکړي.

۶. د ملل متحد او جامعه ملل دواړو د منشورونو پر اساس لاسوهنه توجیه کېدلی شي، کله چې نړیواله ټولنه د یو هېواد پر ضد چې سولې ته خطر راجع کړي او یا یرغل ترسره کوي په چارو کې لاسوهنه وکړي؛

۷. که چیرې یو دولت قیمومیت وکړي؛ نو هغه حق لري، چې تر ملاتړ لاندې هېواد په چارو کې لاسوهنه وکړي.

دد لاسوهنې ډولونه: لاسوهنه درې ډولونه لري.

**۱. کورنۍ لاسوهنه Internal intervention**

د یو هېواد لاسوهنه د بل هېواد په شخړه کې چې د دوه فرقو تر منځ صورت نیولی وي، لاسوهنه د دې لپاره وي، چې د قانوني حکومت ساتنه وشي او یا به مداخله کوونکی هېواد دې موخې لپاره لاسوهنه کوي، چې د بغاوت کوونکې ملکرتیا وکړي کوم چې له دوی سره جوړ وي.

**۲. بهرنۍ لاسوهنه Foreign or external intervention**

د هېواد د بل هېواد په بهرنیو چارو کې لاسوهنې ته وایي.

دا لاسوهنه په اصل کې د لاسوهونکې هېواد لپاره یو دښمنانه لاسوهنه ده

**۳. جزایي لاسوهنه Punitive intervention**

دا یو جزایي اندازه گیري ده، چې د جنگ له امله راپورته کیږي او یو دولت له بل دولت څخه پکې زیان لیدلی وي؛ نو نور دولتونه ډیره درانده جریمه او مالیات په دې دولت وضع کوي. د بېلگې په توگه د لومړۍ نړیوالې جگړې څخه وروسته جرمني ۲ میلیونه ډالره د جنگ د خساره جبران وضع شوي وه.

**ډیپلوماتیکې اړیکې ( Diplomatic Relations )**

ډیپلوماتیکو اړیکو په سنتي چوکاټ کې یواځې سیاسي سیاسي موخې درلودې چې دغه سیاسي موخې به د سنتي ډیپلوماسۍ د ځانګړیو تکتیکونو په واسطه تر لاسه کیدلې، هغو کسانو چې په دغه فعالیتونو کې به یې ګډون کاوه. معمولاً به غوره ډیپلوماتان ول، په دغه ډول اړیکو کې، چې له اړتیا څخه رازیږیدلې وې، د ډیپلوماسۍ عرف او روسومو ریښه پیدا کړه او ورو ورو یې د کلي او عمومي قواعدو یوه ریښه رامنځته کړه، چې سنتې ډیپلوماتیکې حقوق یې تشکیل کړل.

دغه حقوق، له هغو بدلونونو چې د وخت په تیریدو سره په کې رامنځته شول او په ځو بین المللي کنګرو او کنفرانسونو کې تر تدوین وروسته د یو بشپړه حقوقي بنسټ بڼه یې خپله کړه، اوس اوس د خپلو لرغونو موخو ترڅنګ د ډیرو پراخو مقاصدو ناظر هم ګڼل کیږي او اوسنی نوې بین المللي اړیکې یې هم پر بنسټ ولاړي دې همدارنګه د دغو حقوقو د اجراء عوامل د لرغوني چوکاټ له حدودو څخه وتلي او یو زیات شمیر اشخاص او مقامات په بېلابېلو سطحو کې، په بېلابېلو بڼو په ځان کې رانغاړي.

په اوسنۍ نوې نړۍ کې چې د دولتونه په هر لحاظ سره تړلې دي. د ډیپلوماسۍ موخه نور یواځې په سیاست پورې تړلای نشي پاتې کیدای اوسمبال په اقتصادي، کلتوري، پوهنیزو، هنري او نورو برخو کې د همکارۍ اړتیا د داسې یوې نوې ډیپلوماسۍ غوښتنه کوي، چې د یو سنتي چې د پورتنیو بېلابېلو ځانګو ډول ډول مسایل د ډیپلوماسۍ د محرمانه پردې تر شا حل شي، بلکې د دغو مسایلو څیړلو ته په هره ځانګه کې ګڼ شمیر کارپوهان د ډیپلوماسۍ د یوې اړیکې د دواړو خواوو ترمنځ مازې د رابط ورکوونکي عامل په توګه او د نورو ټولو هغو مسایلو

لپاره چې نوې بین المللي اړیکې یې مطرح کوي او په بېلابېلو بین المللي ټولنو کې د کاروبارونو په وسیله حل وفصل کېږي ځای لري.

پر همدې بنسټ د سنتي ډیپلوماسۍ ترڅنګ چې پر خپل ځای خپل رول لري، د ډیپلوماسۍ ځینې نور ډولونه هم په جریان کې دي، چې یو د بل بشپړونکې ګڼل کېږي - د هېوادونو د مشرانو تر منځ لیدنې د وزیرانو او نورو مقاماتو په سطحه وړې او لوې غونډې، عمومي او سیمه ایز کنفرانسونه او بین المللي سازمانونه، دا ټول د ډیپلوماسۍ نوې ډولونه جوړوي، چې په دغه ټولو کې هغه کسان ډېر رول لري، چې د ډیپلوماتان نه وي. د ډیپلوماسۍ دغو ډولونو هم ځینې قواعد رامنځته کړي دي، چې د ډیپلوماتیکو حقوقو ته یې له نورو اړخونو څخه یو دولت د بهرنۍ سیاست لوړو اهدافو لپاره پراختیا ورکړې ده.

**حقوق بشر Human Rights**

له هغه زمانې نه چې انسان د خلقت په ډګر کې هستي پیدا کړه، د پاک پروردګار له خوا د ځمکې پر مخ خلافت له ده سره ملګری وو- له مانوي لوړتیا نه برخمن وو او له ټولو مخلوقاتو څخه فضلیت او کرامت د ده په تندي خلا کوله، د پاک پروردګار له خوا متفکره ماغزه ده ته ډالۍ شوي وو چې په ژوره توګه فکر وکړي په سازماندهۍ لاس پورې کړي- د یووالي روحیه د ژوندانه مضمون وګرځوي- د کورنې بنسټ کېږدي او انساني ټولنې ته سمون ورکړي، د ژوندون انګازې هر خواته خورې کړي، له تیتو پرګنو څخه ملت مېنځته راوړي او له هغه ځایه د انسانیت خوږه نغمه په ټوله نړۍ کې خوره وره کړي.

افلاتون د خپلو فکري لیکنو په رڼا کې د یوې انساني لوړ پوړې ټولنې د جوړښت لپاره په خپل «جمهوریت» کتاب کې یوه په زړه پورې طرحه جوړه

کړه! چې انسانان یو د بل پخوا راټول شي او په یوې ګډې انساني کورنۍ کې سره ژوند وکړي، د ټولنې ټول غړي یو ملت شي- پوهان د علمي پړاونو له وښولو وروسته د علم او اخلاقو په پلوشو کې د خلکو او ټولنې لارښوونکي شي، چې له زړه بګنونې یو د بل په څنګ کې سره ژوند وکړي.
چوشي: چیني فیلسوف کله چې د سنکیانګ ایالت په ټاکنو کې بریالي شو د انساني هیلو د پوره کولو لپاره، د انساني حقوقو پرینسټ ولاړ حکومت لپاره یې پوهان، عالمان او د پوهې مینه وال یې په حاکمیت کې وټاکل، چې انساني حقوقو ته درناوی وشي.
ارسطو هم پر حقوقو پراخې لیکنې کړي دي او دې حقوقو ته یې د (برحقه غوښتنه Todikaion) نوم ورکړی دی.
د اسلام د مبین دین پیغمبر حضرت محمد (ص) ترڅو بشري اختلافات او توپیرونه له منځه یوسي یو پر بل برترې ونه لري او ټول انسانان سره برابر وګڼل شي، اوچتوالې یواځې او یواځې تقوا پورې اړه ولري. اسلامي تفکر دا په ډاګه کړه، چې ټول انسانان د سرښت او پیدایښت په لحاظ د یوه خدایي جوهر خاوندان دي په معنویت کې هیڅ توپیر نلري، له دې کبله د اسلامي ارزښتونو پر وړاندې د رنګ، جنس، نژاد، ژبې، منطقې، قومیت په وړاندې ټول یو له بل سره مساوي او برابر دي.
همدارنګه د تاریخ په اوږدو کې د بشري حقوقو د پلي کولو لپاره د بامسولیته انسانانو له خوا له هیلو ډک کوښښونه سرته رسیدلي دي دا کوښښونه او مبارزي چې د زړورو، ازاد پلو، د مدني ټولنو او پرګنو خوځښتونو له خوا سرته رسیدلي دي. دا هڅې او خوځښتونه ملګري ملتونه دې ته اړباسل، چې د ۱۹۴۸ کال د دسمبر په ۱۰ یوه اعلامیه یې تردې سرلیک لاندې (د بشری حقوقو نړیواله اعلامیه) طرحه او تصویب کړه

چې له هغه وخت تر اوسه پورې ۵۲ کاله تیرېږي، چې په حقیقت کې د دې کار سرته رسونکې په رښتیا سره د درناوې او احترام وړ دې.
نن چې د بشري حقوقو دغه خوځښتونه مخ پر وړاندې درومي د هغه چا هیلې پلې کوي، چې د دې ارزښتونو بنسټ ایښوونکې دې.
په اوسنې وخت کې معلوماتي صنعت او تکنالوژۍ چې ډېره پرمخ تللې ده نه یوازې له ارزښته ډکه دنده د نشراتو په اړه لري، بلکې هغه اوسپنیز دیوالونه چې د ځیني هېوادونو له خوا چاپیر شوې دي هغه نړوي او نړیوالې نشراتې او اصلاحي خپرونو د ښه سمون لپاره، د منطقوې او نړیوالو نشراتو د یو ځای کېدو او راټولیدلو لپاره ښه فرصتونه منځته راوړل، څرنګه چې رسنیو، خپرونو او اطلاعاتي وسایلو پراختیا، د عامه خدماتو کې ژور بدلونونه راویستي دې.
د ټولو بشري ټولنو لپاره مدني وو، سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او فرهنګې حقوقو په برابره توګه د ښه او سرلوړې ژوندانه لپاره ضروري هیڅ کله د یو حق د لاسته راوړلو لپاره نشي کیدای، چې د بل چا حق تر پښو لاندې شي.
مدنې، سیاسي، حقوق د لاسته راوړلو یا د هغې د ودې او پراختیا لپاره له نورو هېوادونو سره بین المللې اړیکې ساتل لازم و ملزوم دې.
د اسلامې سیاست چې د قران عظیم او د حضرت محمد ص د حدیث او سنتو د احکامو او ارشاداتو پرېنا د اسلامې دولت د کړنلارې لوی جز دی د بشر د معنوې او مادې ژوند بهتر کیدو، تنظیم او عدالت د برقرارۍ او د قوانینو د ساتندوی دې- اسلام د خپل اصلی ماهیت له نظره نه یوازې د مسلمانانو لپاره بلکې د نامسلمانانو لپاره هم قوانین او اصول لري، چې د هغو ژوند –حیثیت، مال او دین په خوندې شي.

**نړیوال کیدل Globalization**

دا چې نن سبا د هر چا له خولې اوریدل کیږي، چې نړۍ د نړیوال کیدو ( Globalization) طرف روانه ده؛ نو لومړی موږ لپاره اړینه ده، چې د(globalization) په مفهوم، دا چې نړیوالی اړیکې د ( globalization) د رامنځته ته کیدو عوامل کوم دي په تفصیل سره د څیړنې لاندې نیسو.

د نړیوال کیدو او مفهوم د اسلام له نقطه نظره (العولمه) اود غرب له نقطی نظره ( Globalization ) :

نړیوال کیدل یو له هغو صطلاحاتو نه ده چې په وروستیو کلنو کې زموږ په مینځ کې رواج شوې، لکه څنګه چې مدرنیزم او داسې نور زموږ په ژبو نوېتعبیرونه دې، چې دا(Modernism) په اصل کې د لاندې عناصرو درلودونکې دي.

۱. **سیاسي عصري کیدل (Political moderation)** :

پدې کې د مهمو او سیاسي موسسو انکشاف صورت نیسي، لکه سیاسي ګوندونه، پارلمانونونه ، داریې حق او د پټې رایې (پانه) کوم چې برخه ایزه تصمیم نیونه تقویه کوي.

۲. **کلتوري عصري کیدل ( Cultural modernization )** :

دا عصري کیدل په نمویې ډول دین او دنیا بیلوونه (Secularization) ته تولید ورکوي او د ملت پرست مفکورو طرفداري کوي.

۳. **اقتصادي عصري کیدل (Economic modernization )** :

اقتصادي عصري کیدل له ضنعتګرۍ (industrialization ) سره توپیر لري او د شدید اقتصادي تغیراتو سره تړاو لري. نور دا د روزګار د ویش د اداري تخنیکونو استعمال، انکشافي تیکنالوجي او سوداګریزو اسانتیاوو پوري مربوطه دي.

**۴:۱ اجتماعي عصري کیدل (social modernization)** :

دا د سواد، ښاریتوب او دودیز واک د تنزل له کمیدو څخه بحث کوي. په اصل کې عولمه (نړیوال کیدل) مصدر دی، د (فوعلة) په وزن چې له عالم نه مستق دې لکه (قولبه) چې د قالب نه مشتق دې دا تغیر له لغوي اړخه سم دی؛ خو د هغه مفهوم او مانه پاتې کیږي، چې باید پري وپوهیږو او پري حکم وکړو لکه له پخوا نه د منطقوي عالمان وایي، چې پر یو څه حکم کول د هغه له تصور نه سرچینه اخلي.

نړیوال کیدل (العولمه) د ځینو په اند د ملتونو، کلتورونو او هیوادونو ترمینځ د پولو رانغښتلو او ختمولو ته ویل کیږي او له دې لارې نه ټول یوې نړیوالې کلتورې او فرهنګي کورنۍ ته سره نږدې کیږي او ځینې بیا د دنیا په یو نړیوال کلي بدلیدل تري اخلي، ځینې نور بیا د (الکونتة) چې له (اکون) نه اخیستل شوې او د عالم په مانا ده کاروې او ځینې بیا کوکبه کاروي، چې له کوکب نه اخیستل شوې، چې اشاره هغه ستورې یا ځمکې ته ده، چې موږ یې پرمخ ژوند کوو؛ خو کومه کلمه چې اوس شهرت ته رسیدلي همدا (العولمه) نړیوال کیدل دي.

د مشهور او نومیالې اقتصاد پوه دوکتور جلال امین په اند د (العولمه) د لفظ په پدیده که څه هم نوی ښکاري؛ خو په حقیقت کې دا یوه پخوانۍ پدیده ده هغه وایي:

کله چې موږ (عولمه) نړیوال کیدل د انساني ټولنې تر مینځ واټونونه د مینځه وړلو په مانا واخلو، بیا څه توپیر نشته که هغه لیږدونه او انتقال ترمالونو، تو کرونو پوري تړاو ولري او یا تروګړیو، فکرونو او معلوماتو پوري وي د پورتنیو تورو په رڼا کې موږ د (عولمه) نړیوال کیدلو په مانا پوه شو او اسلامي تمدن له پیل څخه په همدې بنسټ تینګار کوي.

له پورتنۍ پیژندنې او تعریف څخه ښکاریږي، چې دوکتور امین د(تعولم) نړیوال کیدل په اړوند غریږی نه د (العولمه) څکه چې (تعولم) نړیوال کیدل اثر د (العولمه) دي یا په بله مانا د فعل مصدر مبني پر مجهول (العولمة) دي لکه د تعلیم (زده کول) د فعل مجهول مصدر(تعلیم) (ورزده کول) دي.

نو هغه څه چې ډاکترامین ویلې او نړیوال کیدل یې د واټونونو له مینځه وړل ښودلي، په حقیقت کې هغه د(العولمه) نړیوال کیدو اثر او نښانه ده او (العولمه) نړیوال کیدل هماغه مهم اثر کوونکې لامل دی، چې نن ورځ د هغې چارچاپیره خبري اترې کیږي.

نو ویلای شو پورتنۍ تعریف د ځینې تورو په اضافه کولو سره لکه د واټونو د مینځه وړلو هڅه کول او داسې نورو سره تصحیح کړو.

دوکتور محمد عابدالجابري(العولمه) نړیوال کیدل داسې تعریفوي (العولمه) نړیوال کیدل د فرانسوي کلیمې( monodialization) چې په نړیواله سطحه د یو څه کرڅولو ته وایي ژباړه ده په دې مانا چې یو شي د پولو له محدودې او تاکني څخه رابهر کول او لامحدودیت اړخ ته بول، چې هیڅ څار نه او مراقبت پرې نه وي محدود او ټاکل شوې په بنسټیزه توګه دلته هماغه ملي هیواد دی، چې په جغرافیوې پولو سره ټاکل شوې او حرکاتو په ساحه کې په بشپړه توګه څارل کیږي او له خپلو اصولو سره سم د جنسونو لیږدونه او راوړل ترسره کیږي، هغه که تر اقتصادې چارو پورې تړاو لري او که تر سیاسي او کلتوري پورې یو شان ته کړنه ورسره کیږي او مقصود له دې چې هیڅ پوله او برید نه لري، د څمکی تولو کره ده بناء پردې نړیوال کیدل په دې مانا چې په اقتصادي، مالې او تجارت چارو کې د هیواد پولې له مینځه وړلو ته ویل کیږي، چې بیا د دې برخې په چارو کې په نړیواله سطحه خوځښت راځې، چې له همدې ځایه د نړیوال شوي ملې

هېواد سرنوشت ټاکل کېږي، پرته له دې نوموړې فرانسوي کلیمه د انګلیسي کلیمې ژباړه ده، چې په لومړي ځل د امریکا په متحده ایالاتو کې (Globalization) کې کارول شوې، چې د یو شي د بشپړ کولو او شاملولو مانا تري اخیستل کېږي.

Roberston د Globalization کلیمه داسې تعریفوي نړیوال کېدل له نړۍ سره رانښلولو او د نړۍ مستعشروالي د جدیت په بولل او په کلکه توګه د نړۍ د هېوادونو پر یو بل تکیه کولو ته وایي.

د نړیوال کېدو د پدیدو او پېښو ډولونه او د هغې خطرونه

**۱. د اقتصاد نړیوال کېدل(Ecomomc Globalization)**

اقتصادي نړیوال کېدل دا دي چې پانګه او سرمایه داري په کلي ډول د نړۍ هر برخې ته انتقال ومومي. پدې نظام کې خصوصي ملکیت او د تولید وسایل د ټولنې د یو څو کسانو په لاس کې وي او زحمتکښان او د هغوی د متو قوت لکه د کالیو د عرضه او تقاضا په څېر پلورل کېږي. پانګه او سرمایه داري چې غیر عادلانه او لوې افت دی تر چتر لاندې دنیاوال روان کړي. د دې غیر اخلاقي اقتصاد په وسیله د کمزورو او ضعیفو خلکو خوارې د دې لپاره استعمال شي، چې د مالدارو او واکمنونو د حقوقو ساتنه وشي.

د کار کوونکو او زیاکښو په حقوقو د نړیوال اقتصاد ظلم او تیری.

د کارکوونکو او زیارکښو په حقوقو تیری او ظلم کول د نړیوال اقتصاد له تر ټولو خطرناکو پایلو څخه شمیرل کېږي، چې ټول څېړونکې په دې اړوند یوه خوله دي، هغه کارکوونکې چې د اقتصاد ماشین د دوې په لاسونو څرخیږي او دوې په خوله تولیدات رامنځ ته کېږي؛ خو په میلیونونو پیسې او ډالر بیا د پانګوالو جیبونو او زیر متونونو ته تحویل کېږي.

د نړیوال کیدو اقتصاد د یو شمیر مرصناکو او لږو پانګوالو په ګټه تمامیږي، چې خرما دوی خوري او زړي یې بیا کار کوونکو ته وربښکاره کوي، د هغوی لاس ته راوړنې لاتدې او کم ارزښته ښکاره کوي او ګټې یې دوی خوري.

تر ټولو ښکاره دا چې کله اسیايي بابریانو په خپله خمکه د پرمختګ یو لوي انقلاب راوستی او نړۍ ورته حیران وه ان تردې چې (اسیایې معجزه) ونمول شوه؛ خو څیړونکې بیا ټینګار کوي، چې همدې انقلاب له خان سره ډیر منفی تکې هم درلودل د (فخ العولمه) نومې کتاب دوو المانې لیکوالانو په دې اړوند بحث کړی دی او داسې وایې د اقتصاد هغه پرمختګ، چې د رشوت، تیرې، سیاسي ظلم، د چاپیریال ککړتیا او د کارکوونکو په حقوقو او په خانګړي ډول د ښځو د حقوقو له مینځه وړلو یې خان سره لرل. په دې کتاب کې راغلې دي، چې دNikeشرکت چې سپورت قیمتې بوټان جوړوي، هغه بوټان چې د امریکا په متحدایالاتو کې یې بیه ۱۵۰ ډالره ده، چې ۱۲۰ زرو کسانو په شاوخوا کې نرینه او ښځینه پکې کار کوي. دا کار کوونکو د شرکت له خاوندانو سره تر دریو ډالرو په کمو پیسو د ورځې مزدوري کوي. چې کارکوونکو په ډیر کړاو سره خپل ژوندپري تیروي، نظامې حکومت چې Sohartoceد یکتاتور یې رهبري کوي د مزدورانو د مزدوری د لوړولو بشپړه مخنیوی کوي د بېلګه په ډول چې کلهTongri Sitamorangد نایک د شرکت ۲۲ کلن مزدور، خپل ملګري اعتصاب کولو ته رابلل؛ نو امنیتې پولیسو پرته له کوم ډاره ونیوه او د کارخانې په یو زیرمتون کې یې د ۸ ورځو لپاره په بند کې وساته او د دې وخت په اوږدو کې یې ورځخه پوښتنې کولې او بخت یې ورسره یاری وکړه له بند نه ازاد او له کاره ګوښه شو او په همدې یې بسنه وکړه.دوو نورو

کسانو (Sugiariti) او (Marsinah) چې د کارکوونکو د ټولنې دوه نومیالي غړي وو، خپل ژوند د خپلې زړورتیا قرباني کړ او د کارکوونکو د حقوقو لپاره یې اعتصاب کړی وو، چې وروسته د دواړو جسدونه د کارخانې په کثافت دانۍ کې پداسې حال کې وموندل شول، چې د ډېرو وهلو او ټکولو په وسیله مسخه شوي وو او د پېژندلو هم نه وو.
همدارنګه په مالیزیا او اندونیزیا کې همدا حال دی یواځې فني کارکوونکې چې نسبتًا ښه معاشونه لري او له دوی پرته نور بیا د یوه نه تغیرېدونکې ناوړه حالت سره مخ دي.
همدا حقیقت د (Siemens) په نړیواله کمپنۍ کې هم تر سترګو کېږي، چې د کمپیوټري وسایل د فني کارکوونکو تنخواه په داسې حال کې ښه ده، چې په اندونیزیا کې یې د ۲۰۰ زرو نورو ښځینه کارکوونکو سره د مینځو او بندیانو په شان کړنه ترسره کوي، دا کارکوونکې په اونۍ ۲ بلکې ۷ ورځې د میاشتې په ۳۵۰ مارک کار کوي او په هغو ودانیو کې ژوند کوي، چې تر کارخانې پورې ځانګړې دي او د بندیانو په شان دروازې وریپسې بندې وي –پرته له دې نه د کارخانې مدیر دې لپاره چې دا کارکوونکې د دریو کالونو له قرارداده مخکې ونه تښتي د هغوی پاسپورټونه هم اخلې او له ځان سره یې ساتې.
د کارکوونکو له حقوقو تر ټولو ناوړه ګټه د چین هېواد په ۱۵۰ زره کارخانو کې ترسره کیږي، چې د بهرنیانو په پانګونې سره چینایان هم په کې ګډون لري، د دې کارکوونکو ډېر وګړي ښځینه دي، چې په شپه ورځ کې اړ دي ۱۵ ساعته او که اړتیا وي تردې زیات کار وکړي او له دې پرته دوی مجبور دي، چې د کار د لومړیو څو میاشتو حقوق د ضمانت په ډول کېږدي او که د کارخانو د چارواکو له اجازې پرته کار پرېږدي؛ نو بیا دا ورته نه ورکول

کيږي او د شپې لخوا په تنګو خايونو کې اوسيږي، چې د اورلګيدنې په صورت کې په مرګ تماميږي تر دې چې د پيکن حکومت په خپله اعتراف کوي او وايي چې : د کارخانو خاوندان د کارقوانين او اصول نه مراعات کوي، په کال ۱۹۹۳کې خينې واقعات پيښ شول، چې د ۲ مياشتو په اوږدو کې د کارخانو ۱۱ زرو کارکوونکو خپل ژوند په کې له لاسه ورکړ.
او همداراز ۲۸ ځلې اورلګيدنې پکې تکرار شوي – له دې سره سره چې په چين کې د زيار کښو د ډلې په نوم چارواکې حکومت کوي؛ خو بيا د کارکوونکو هر ډول مقاومت چې د دې د حقوقو په بشپړتوب کې مرسته کوې منعه کوي د syndicaد نړيوالې ازاد اتحاد چې په وينا (هر هغه څوک چې ناخوښه وي، شکايت وکړي او يا د کارکوونکو ټولنه او اتحاديه جوړه کړي د ۳ کالونو په بند سره په سختو فزيکي کارونو، محکوميږي)
په هيښوونکې توګه لويديځ هېوادونه خپل ناوړه چلندغوارې د اسيا د ختيځو سهيلې هېوادونو بازار د خپلو توليداتواو عايداتو بازار وګرځوې، ترسره کوي او دا قتصادي تجاهل په وروستې ځل د لويديځو اروپايي هېوادونو مشرانو په هغه علاميه کې ښکاره کړه، چې د ۱۹۹۲ کال د مارچ په مياشت کې خپره شوه او دا هغه وخت و، چې خپل اته ګونې اسيايې هېوادونه يې د اقتصادي اړيکو د ټينګښت لپاره Bankokeته بللې وو په دې مهال چې کله د خانه جوړې شوې خبرې د ملتونو د يو ځای والی په نامه اوروليې، تر ۱۰۰ له زياتو ټولنو او سازمانونو نماينده ګانو د هغوی په ضد بل کنفرانس پرانيست، چې په اسيايې هېوادونو کې يې د شرکتونو په غير انسانې کړونو او قوانينونو کې کولې او هغه يې محکموول.
او په همدې وخت کې لسګونه زره تايليندیان د جمهور رئيس د استوګنځې په وړاندې راټول شول او دشتو او مالونو په غيرعادلانه ويشلو يې نيوکې

کوليږ او هغه يې غندلي؛ د دې پر ضد ټولو اروپايي مېلمنو له دې ټولو سره سره يوه کليمه هم په دې اړوند ونه ويله او د دې په ځای الماني استازي او د برطانيې لومړي وزير د قراردادونو د ترلاسه کولو لپاره د هغو موسساتو پهستايني او چاپلوسی، خبرې کولې، چې پواځې په نامه الماني يا برطانوي نوموړ کيدل په عين حال کې د dElms موسسې مشر juergen sherempp اعلان وکړ، چې، المان بايد له اسيا زده کړه وکړي او له بل طرفه الماني تجارتي اطاقونو اعلان وکړ، چې د اندونيزيا هغه سياسي استقرار بنه ګڼه اخيستنه چې د يکتاتور لخوا اداره کيږي ستايي له شک پرته داسې ناوړه کاروڼه کول او دا ځيزونه له نظره غورځول ټول هغه څه دي چې ډيرې خطرناکې پايلې له ځانه سره لري.

**۲: دسیاست نړیوال کیدل :( Political globalization )**

د دوو نړيوالو قطبونو شتون چې د پاچاهي، نظامي او اقتصادي چارو په سر سره جګړه پيلوي: کوچنيو او کمزوريو قونونو ته فرصت او موقع په لاس ورکوي، چې يو له دوارو څخه خوښ کړي او يايې د دوارو ترمنځ يوه لاره غوره کړي، چې د بې طرفه بلاک هېوادونو په دې اړوند ګام پورته کړي څواکمن خپل زور او قدرت په نورو سيمو او شتمنيو کنترول ساتلو لپاره کاروي او هغوی دا ټول د بيروکراسی، پوليسو او نظاميانو په واسطه تر سره کوي او ټولې خپلې سياسي کړنې او طرحې پر هغوي تحميلوي.

**۳: کلتور نړیوال کیدل (Culture globalization )**

د ټولنيز ترتيب په واسطه اصول و تاثيرات، معنويات، عقايد ارزښتونه او سليقې انتقالولو ته وايي، چې د ټولنيزو او د توليداتو او اشياوو د تبادلې په ذريعه ترسره کيږي – د آرام خوب، د زړه سکون او دادمن ژوند څخه يې انسانان نن ورځ خلاص کړي دي، د کورنيو او راتلونکي نسل لپاره يو لوی

خطر دی، د دې لپاره مخکښانو رسنۍ په بیعه اخیستي دي او اوس رسنۍ د یو رنګمال رول لوبوي که هغوی د سپین دیوال لپاره تور وایي او تور لپاره سپین، رسنۍ د یو غلام کار کوونکي په توګه هغه ترسره کوي.

**د نړیوال کیدلو کلتورونو ډولونه.**

نړیوال کیدل غواړي چې په اسلامي نړۍ او نورو ټولو هېوادونو کې د تولیداتو، خوړو، څکلو، اغوستلو او دسورلیو وسایلو مصرف ټول امریکایي دود کړي – نړیوال کیدل غواړي یو خپل سري او بې پولې کلتور دود کړي، چې د الله ج حلال حرام کړي او حرام یې حلال کړي او د الله ج ټول منعه کړي شوي شیان مباح او روا وګرځوي او د ټولو اسماني دینونه، ارزښتونه او بنسټونه له خاورو سره خاوري کړي، هغه نړیوال کیدل چې مطلق لغړتوب مباح او د لوڅو لغړو لپاره رسمي کلبونه پرانیزي هغه نړیوال کیدل چې جنسي لارې چارې په بشپړه ازادي، نرینه له نرینه سره ښځه له ښځې سره، پرته له هیڅ راز پولې ترسره کړي او پرته له هیڅ وهم او ډار نه خپله شهواني تنده پرې ماته کړي او په بل عبارت زنا چې یو ډیر ناوړه کار دی په تمامه مانا دود کړي. کاشکې دوې پر دې بسنه کړې وه، بلکې دوی د نرینه له نرینه او د ښځې له ښځې سره واده کول رواجوي او په دې اړوند په خپلو لویو کنفرانسونو کې تبلیغات کوي او خلک ورته رابولي.

له شک پرته دا یو بې باکه او بې بندوباره کلتور دی، چې خینې لویدیځو هېوادونو ورته اجازه ورکړي او پارلمانونو یې توصیب کړی دا د سقط جنین (د مور له خیټې څخه د ماشوم لیرې کول) کلتور دې چې ماشوم د مور د بدن جز ګڼي او هغه واکداره ده، چې په خپل بدن څه کول غواړي کولی شي او دا یې هیر کړي، چې دا ماشوم او جنین د الله ج یو مخلوق او روح خاوند دی

مور و پلار یې د وژلو حق نه لري او دا هغه د جاهلیت ژوندي ښخول دي چې یو ځل بیا راوګرځیدل. دا هغه موهوم او مزخرف کلتور دی، چې غواړي اسرایلپه ساحه کې سره له خپل نظامي ځواک سره یواځینی قوت وي او د امریکا په بشپړه ملاتړ سره د همدوی هیله او ګټې خوندي او وژغوري په داګه سره ویلی شو، چې د لودیځ کلتور، د عادې او عادتې کولو( د اسرایلو او عربو) کلتور دی یا د تسلیمۍ کلتور دی، چې امریکا، اسرایل یا اسرایل امریکایي غوښتنونکې دي.

دا کلتور او فرهنګ غواړي، چې طبعي چاري غیرطبعي او غیرطبعي چارې، طبعي ښکاره کړي او اسلامي نړۍ او پاتې هېوادونه د هغه څه تابع کړي، چې زماني په اوږدو کې یې رد کړي او هغه یې خیانت، ظلم، جفا او کفر بللی. غواړي چې د اسرایلو غاصب او تیری کوونکی رژیم راباندې ومني او هغه څه ته د مشروعیت بڼه ورکړي، چې د عامه وینې تویونه او مرمیو په ویشتلو یې ترلاسه کړي او د عربو خاورې چې په زور زیاتې یې نیولې لکه، صیفاء، یافا، عکا، رما، اللد، رمله او الخلیل ان تر قدس پورې د خان ملکیت او حق وګرځوي او موږ عرب ورته رسمي سند ورکړو چې دا ټولې خمکې، کورونه د همدوی حق دی او هغوی ته دا حق ورکړو چې هر عربي هېواد ورته د نه خواب ورکوي د هغه د ړنګلو او ورسره د دښمنۍ حق لري. هره ډله چې د دوی بدماشي او پاچاهي ونه مني او د دوی پر وړاندې دخپل ملت دفاع وکړي؛ نو هغه به تروریست وي حال دا چې موږ خپل ذهن او خاطر محوه کړو، خپل تاریخ نالیدلی وګورو او تردې دوی یو شمیر داعیانو غوښتنه کړي، چې د هغو آیتنو په اړوند به بحث ونشي کوم چې د یهودیانو او اسرایلو بدې بیانوي او یا له هغوی سره د مقابلې خبرې په کې ترسره شوې وي او باید دا په خبرې رسنیو کې بیان نه کړای شي او

باید خپل دزده کړې لارې او طریقې بدلې کړو، دوی غواړي هر هغه څه چې په اسلامي امت کې خوځښت او مقاومت راپیدا کوي، بیان او یاد نشي لکه د حطین جنګ، د هغه مشر صلاح الدین ایوبي او دې ته ورته نور ټول ځیزونه باید د هیرې په تاخچو کې واچوو، تر دې چې د جنګونو یادونه هم چېرته ونشي او د خلکو په مینځ کې باید د داسې جنګونو شوق او مینه را ونه پارو: ځکه چې دوی د صلحې او آرامۍ له کلتور سره سمون خوري.

**دین نړیوال کیدل (Religious Globalization)**

د دین نړیوال کیدل دا مانا لري، چې هر دین که وي د ډیرو فعالیتونو له کبله په نړیواله سطحه شهرت حاصل کړي او خپور شي خو لوید یځوالو تر خپله حده هڅه کړې، چې د صهینونیزم په چوپړ کې نړۍ مسیحي او سیکولر کړي – دوی د نړۍ نوی نسل په فریب ونیزنګ او خپلو غلامانو په واسطه: چې تر کومه حده یې اقتصاد ته ضربه رسیږي خپل دین ته راړوي او بیا یې د خپل امر تابع وګرځوي.

## نظامي تړونونه Defensive pacts

### ۱. د وارسا تړون Warsaw pact

د دې تړون اصلي نوم «د ختیځې اروپا د هېوادونو متقابله مرسته ده» دا تړون د ۱۹۵۵ کال د مې د میاشتې په څوارلسمه نېټه د پولینډ په مرکز وارسا کې د شوروي، پولینډ، چکسلواکیا، رومانیا، هنګري، بلغاریا، البانیا او مجارستان د نماینده ګانو ترمینځ لاسلیک شو، دا تړون د غربي بلاک په مقابل کې تاسیس شوی او رهبري یې د شوروي په لاس کې ده. د دې تړون د عضو هېوادونو مسلح قواوو رهبري لپاره واحده نظامي قوماندانۍ وټاکل شوه.

سو سیال امپریالیزم د خپلو استعماري موخو د تامین لپاره د خپلو اقمارو د مسلحو قواوو د رهبرۍ هم د دې تړون په واسطه ګوتو ته راوړ. له دې قواوو څخه په وروسته پاتې هېوادونو کې د یوې ضربه دارې او وینې تویونکې قوې په حیث د خپلو شومو اعمالو د حاصلولو لپاره کار اخلې، د دې تړون له موخو څخه یوه موخه دا ده، که چېرې په یو غړي هېواد کومه خارجي نظامي حمله وشي باید نور غړي هېوادونه یې په ګډه دفاع وکړي.

### ۲. د بغداد تړون Baghdad Treaty

په ۱۹۵۵ کال کې د لومړي ځل لپاره د ترکیې او عراق ترمینځ لاسلیک وشو او په همدې کال کې ایران، پاکستان او انګستان هم پکې شامل شول- عراق په ۱۹۵۹ کال له دې تړون څخه ووته، د عراق له وتلو څخه وروسته د دې تړون مرکز انقرې ته منتقل شو او سنتو په نامه تړون یې مینځ ته راوړ- د دې تړون غړي هېوادونه( ایران، پاکستان، ترکیه او انګستان) وو، متحده اصلاح د دې تړون غړي نه وو؛ خو څارنه یې کوله، دا تړون د شوروي اتحاد په مقابل کې جوړشوی وو.

**۳. د سیټو تړون**

دا تړون چې د مانیل تړون په نامه هم یادیږي په (۱۹۵۴) کال کې د استرالیا، امریکا، انګستان، تایلینډ، فرانسې، فلیپین، نوې زیلینډ له خوا په مانیلا (د فلیپین په مرکز) کې لاسلیک شو او د جنوب شرقي آسیا تړون (سیټو) مینځ ته راغی. د نوموړي تړون مرکز بینکاک ژتاکل شو. دا تړون د چین په مقابل کې جوړ شوی وو.

**۴ د ناټو تړون Nato Treaty**

دا تړون په ۱۹۴۹ کې وشو، امریکا، کاناډا، ډینمارک، آیسلینډ، ایټالیا، پرتګال، فرانسه، لګزامبورګ، هالینډ، انګلستان یکې ګډون وکړ المان غرب، ترکیه او یونان هم وروسته پدې تړون کې ورګډ شول. دا تړون اصلاً یو نظامي تړون دی او ډیر قوي نظامي تړون بلل کیږي، چې اصلي موخه یې د شوروي په مشرۍ د وارسا د تړون د غړو هیوادونو مخنیوی دی.

**ترهګري Terrorism**

د ترور کلیمه له لاطیني ژبې کلیمې «Terrere» څخه اخیستل شوې ده چې مانا یې «ډاراچول» ده د سیستماتیک ترور په واسطه پر چا فشار او زور واردولو ته وایي.

د ډاکټر ذاکر نایک په کتاب «اسلام او ترهګري» کې ترهګري داسې تعریف شوې ده. ترهګر هغه څوک چې هر څوک ترې ډاریږي او ډارخپور کړي لکه غل چې کله پولیس ګوري ترینه ډاریږي؛ نو د غل لپاره پولیس ترهګر دی، همدغه راز باید هر مسلمان د بشریت او شرافت د دښمنانو لپاره ترهګر وي.

یانې غل او بدمعاش او د خلکو د ناموس او عزت لوټ کوونکی چې کله مسلمان وويني؛ نو باید د مسلمان نه په ډار او ترهه کې وي او باید په لړزان وي

دا خبره ربنتيا ده، چې نن ترهگر هغه چاته ويلی شي، چې په خپلو کړنو سره په خلکو کې ډار او ترهه خپره کړي وي بالعکس د عامو خلکو لپاره د (امن) تحفظاو رحمت لامل شي

Haffmanتروریزم د نورو جرمونو په پرتله سره داسې توصیفوی.

- په توخو او اهدافو کې غیرقابل مقاومت سیاسي شکل لري.
- شدید او دنارمی او خشونتخپرونکی.
- د متضرر هدف نه پرته داسې طرحه شوي وي، چې پراخ روحي انعکاس ولري.
- د یو تنظیم لخوا د یوې منظمې قوماندي او ساختمان په اساس اداره شوي وي.
- د نارسمي او نادولتي ډلي لخوا لاس پرې پوري شوی وي.

دTask force لخوا په۱۹۷۵ کې د ترهگرۍ لاندې اقسام بیان کړي دي.

- مدنې بې نظمۍ( Civildisorder)

دا د گډ خشونت او نارآمی شکل دی، چې امنیت، صلح او د ټولنې عامه نظم ته صدمه رسوي.

- **سیاسي ترهگري** (Political terrorism )

جنايي لارې چارې لومړی طرحه کيږي، چې په ټولنه کې ډار واچوي، د دې لپاره چې سیاسي اهداف ترلاسه شي.

- غیر سیاسي ترهګري (Non-political terrorism)

هغه ترهګري چې د سیاسي اهدافو لپاره نه وي او د دې لپاره طرحه کیږي، چې شخصي ګټې په مشترک ډول ترلاسه شي.

- نیمه ترهګري (Quasi Terrorism)

د دې ترهګرۍ موخه دا نه وي، چې ترور رامینځته کړي، د دې د کیفیت، شرط او تخنیکونو ځخه کار اخلي، لکه د یو چا اختطافول او بیرته د پیسو مطالبه کول.

- محدوده سیاسي ترهه ګري (limited –political terrorism)

محدوده سیاسي تروریزم د آندې او سیاسي موخو لپاره وي او د دې هدف دا نه وي، چې د دولت کنترول په لاس کې واخلي.

- رسمي یا دولتي ترهګري (Official or state terrorism)

دا ترهګري هغه اقوامو ته راجع کیږي، چې د زور او ډار په واسطه په نورو حکومت کوي او سیاسي اهداف لاس ته راوړي.

د دې پرته د ترهګرۍ نور ډولونه هم شته، چې په لاندې ډول دي.

**انقلابي ترهګري Revolutionary terrorism**

پدې کې د یو دولت دښمنان ترهګري د دې لپاره استعمالوي، چې حکومت ونړوي

۱۹۷۷ walter laquear یو سیاسي ماهر د انقلابي ترهګرۍ د عواملو یوه خاکه داسې تشریح کوي.

۱. د بیلو نژادي، کلتوري او مذهبي اقلیت شتون.
۲. د محروم کیدلو او ظلم ادراک او پوهیدنه.
۳. له اوسط ځخه زیات د بې روزګارۍ موجودیت او انفلاسیون (د نرخونو جګوالی)

۴. د خارجي سیال لخوا تشویق چې هغه هم نژادې کلتورې او مذهبي اوسې او بل چېرته موقعیت ولري .
۵. یو تاریخي تور لګونه یانې یوه ډله بله تورنوي چې ظلم دې ترسره کړی دی.
۶. بې پایلې او نااميده نخبګان چې د متقرر دولت رهبري کوي او دد اندې خشونیت پریکړه صادروي .

**انقلابې ترهګرۍ اهداف Goals of revolutionary terrorism**

۱. ناکامه ډله او د هغوی د غم غلت په عام ډول خپرول.
۲. د حکومت ناقابلیت څرګندول .
۳. سیاسي او ټولنیز تغیر په زور واردول .

ظالمانه ترهګري Repressiveterrorism

هغه ترهګري چې د حکومت لخوا دعامه وګړو پر ضد پرمخ وړل کیږي- پراخه ظلم او وژنه(Genocide) په ارجنتاین کې د ظالمانه ترهګرۍ یو بېلګه دی، چې نظامې جنرالانو په سلګونو کسان له ۱۹۷۶ څخه ۱۹۸۳ پورې وژل او په سلګونو مور و پلار پدې پوه نشول، چې اولادونو ته یې څه پیښ شول او بله ناورین په کمبوډیا کې polpotپه ۱۹۸۱ کې د وژنې شمیر دوه میلونو ته رسولي وو.

دولتي ترهګري State- sponsored terrorism

پدې کې حکومت ترهګر تربیه او مسلح کوې او د هغوی مالي مصارف پرغاړه اخلي- ډګروال موماړ القضافې له لیبیا څخه ترهګري د دولت لپاره قانوني وګنله او د ترهګرو کمپونه یې جوړ کړل، چې امریکایې الوتکو پرې برید وکړو؛ خو دا بچ پاتې شو .

**جينايي ترهګري Criminal terrorism**

پدې کې مجرمين د خپلو موخو د لاسته راوړلو لپاره ترهګر کاروي- د دې
بنه بېلګه د روسيه مافيا ده، چې د خپل دولت او واک ساتلو لپاره
خلکوژني هغوی حکومت او عامه خلک ترور کوي، کله چې د دوی په
مقابل کې اقدام ترسره شي.

کله چې د بانک مامورين دوی ته پيسې نه تسليموي دوی يې وژني، له دې
نه پرته مدافع وکيلان، راپورتران، قاضيان او نور دولتي مامورين
تهديدوي او وژني له دې لپاره چې له دوی څخه تحقيق ونشي.

**د مخدره موادو ترهګري Narcoterrorism**

دا د جينايي ترهګرۍ يو شکل دی، چې موضوع يې مخدره مواد دي،
ځينې د مخدره موادو ترهګر سياسي اهداف لري او د مخدره موادو
قاچاک له دې لپاره کوي، چې خپل حرض و هوس پرې پوره کړي.

Mehemetn Ali agca د مخدره موادو د قاچاق په واسطه خان پياوړی
کړو، چې (Pope Johan Paul II) و وژني نور د مخدره موادو ترهګر فقط
د پيسو د لاسته راوړلو لپاره ترهګري کاروي، ترهګري د هغوی د عملياتو
د ساتنې ذريعه ده په کولمبيا کې د بين المللي د مخدره موادو قاچاک
کوونکي غله او بد معاشان په پيسو موظف کړي وې، چې د کولمبيا د
ستري محکمې قاضيان و وژني او د کولمبيا په حکومت کې يې ترهه
اچولې وه، چې له امريکا سره د مجرمانو استولو تړون فسخه کړي. د
مخدره موادو ترهګري په نوم حکومت هم وجود لري، چې لاندې ترينه
يادونه کوو:

د مخدره موادو غل سالاري (حکومت) **Narcokleptocracy**

دا د دري کلیمو مجموعه ده، چې Narco د Narcotics د مخدره موادو اختصار Kleptes (غل) او Cracyد حکومت کولو مانا ورکوي. دا د Kleptocracy د غلو د حکومت یو بل شکل دی. Narcokleptocracyد هغې تولنې حکومت ته ویل کیږي، چې غله د مخدره موادو په کاروبار کې لاس ولري. د دې اصطلاح بنیاد د متحده ایالاتو د سنا د بهرنیو اړیکو کمیسون د یو فرعي کمیسون لخوا په یو راپور کې څرګنده شوه. د دې کمیسون رهبري د Massachusettssسناتور John Kerryکوله. دا اصطلاح په ځانګړي توګه په پاناما کې د Manuel Noriega رژیم څرګندوي. دا کټ مټ هغه حکومت دی، چې په څرګنده ډول د هغه چا د مالي ګټو لپاره ګټور دی کوم څوک چې یې واګې او چارې په لاس کې لري.

**هستوي او میکروبي ترهګري Nuclear and biologicalterrorism**

اتومي او میکروبي ترهګري د هر ډول ترهګر په وسیله کارېدای شي او دا ډېر مشکل کار دی، له هر یو څخه په لاندې فقرو کې غږیږو.

۱: اتومي یا هستوي ترهګري**Nudear terrorism**

په دې کې ترهګر له اتومي سلاح ګانو څخه کار اخلي، چې دا سلاح ګانې د (plutonium)او (uranium ) غوندې خطرناکو عناصرو څخه جوړیږي لومړي اتومي بم د امریکا لخوا د جاپان په ښارونو هر یو هیروشیما او ناګاسا باندې وکارول شول، چې جانبي عوارض یې اوس هم دوام لري او راتلونکې نسل لپاره به هم وي- که چېري اتومي سلاح په پراخه پیمانه استعمال شي: نو بین المللي اړیکې هیڅ مانا نه ورکوي د هستوي ځېړنو د مخنوي تړون nuclear test -ban treatyهم د دې سلاح ګانو ممنوعیت څخه بحث کوي.

د اروپا او امريکا په اند مسلمان هېوادونه د اتومي سلاح ګانو لپاره تورن کړي دي؛ خو د تحقيق وروسته غلط ختلي دي .
د هغوي په آند د ډاکتر جوزف آدم پيرين رايه سمه ده، د هغه وينا ده، چې کوم خلک دا تشويش لري نه داسې پېښه ونشي چې اتومي وسله کله د عربانو لاسته ورشي........ خو دا خلک له دې حقيقت څخه قاصر دي، چې اسلامي بم خولا دمخه غورزول شوی دی هغه وخت چې دنيا ته حضرت محمد(ص) تشريف راوړيدی .

**۲. : ميکروبې ترهګرې Biological terrorism**

ډير ستر او مخفې خطر د ميکروبې تروريزم دی، چې د دې وسلې د Anthrax، small pox او plague عناصر دي، چې هر يو يې لاندې تعريفوو.

۱. **Small pox**: - دا هغه وايرسونه دي، چې په پوستکي کې د macule ، papules، vesicale او pustulesد توليد سبب ګرځي دا يو ساري (contagious) مرض دی او دا په کمه اندازه د مرګ سبب ګرځي.

۲. **Anthrax**: :-دا د حيواناتو مرض دی خو په ځينې وختونو کې انسانان هم پرې اخته کيږي، دا يو ساري مرض دی او د مرګ سبب ګرځي، د دې ميکروب په زخم کې د داخليدو له کبله anthraxis مرض هم رامنځته کوي

۳. **Plague**: د plague اورګنزمونو خالص toxin په ويتمرو کې د زړه د مايتوکاندريا respiration تنفس تر فشار لاندې نيسي، چې د هر حيوان لپاره په مختلفو سويو ضرر رسوي او دا دوه ډولونه لري، چې ساري دي، د طاعون مرض bubonic plague او بل نمونياپلګ pneumonica دواړه د مرګ سبب ګرځي په کال ۲۰۰۱ په امريکا کې د anthrax لومړي ميکروبې تروروستې بريد د ډاک په واسطه تر سره شو.

د اتومي او میکروبي وسلو د مخنیوی لپاره په نړیواله سطح څو تړونونه رامنیځته شوي، چې د ځینو یادونه په لاندې ډول کوو.

د هستوي ځیړنو د مخنیوي تړون Nuclear test ban treaty

یو تړون چې په ۵ د اګست کال ۱۹۶۳ کې د روسیې په مرکز مسکو کې د درې هېوادونو برطانیه کبیر، شوروي اتحاد او د متحده ایالاتو نمایندګانو تر منځ لاسلیک شو. په دې کې پریکړه وشوه، چې اتومي وسله په اوبو فضا او ازاده هوا کې استعمال نشي دا تړون د ځمکې لاندې د هستوي تجاربو جواز لري، له دې لپاره چې شیمیایي وړانګې محیط ته خطر راجع نه کړي.

په کال ۱۹۶۳ کې دا په ملل متحد کې راجستر شوه او په عمل یې لاس پورې کړو - د ۱۹۶۳ د هستوی ځیړنو د مخنیوي تړون لومړی د وسلو د مخنیوي تړون وو.

**د راروټونګا تړون Rarotonga treaty**

دا تړون د دې پریکړه کوي، چې جنوبي او قیانوس به له اتومي وسلو څخه ازاده سیمه وي - دا تړون په نوموړې سیمه کې د اتومي وسلو د تولید، استعمال او تجربه کولو مخنیوی کوي. دا تړون چې چېرته لاسلیک شوی د cookټاپو نومیږي، چې په جنوبي اوقیانوس کې موقعیت لري.

پدې تړون کې ډیر هېوادونه لکه،استرالیا، نیوزیلینډ، انډونیزیا، فیجي او شوروي اتحاد برخه درلوده.

**دا ستراتیژیکو وسلو د محدودولو خبرې اترې**

**Strategic arms limitation talks (SALT)**

د شوروي اتحاد او متحده ایالاتو ترمنځ د ستراتیژیکو وسلو د دفاعي او بریدونو وسلو د کنترول لپاره خبرې اترې وشوې د SALT خبرې اترې

لومړی ځل په (Helsinki ) کې په کال ۱۹۶۹ کې ترسره شوې. د دې ابتدایي هدف د بالستیک ضد توغندي (Antiballistic missile، ABM) له منځه وړل وو او یا محدودول وو او فرعي بحثونه یې د ستراتیژیکو وسلو تجربه کول بندیز، د خاصو جغرافیوي ساحو نا اتومي کوونه او د اتومي سیستمونو تسلیمي، په (ABM ) ساحو تعمیرولو بندیز لګول وو .

**د سمندر د تل تړون Sea bed treaty**

دا تړون په ۱۹۷۱ په اتومي وسلو د سمندر په تل کې استعمال د بندیز لپاره رامینځته شوه، پدې کې د یو هېواد له ساحې اوبو څخه دولس میله په فاصله د اتومي وسلو کارولو لپاره تر یو حده پورې جواز لرې په رسمي ډول دا تړون په میکروبي او اتومي وسلو د سطح سمندر په تل کې استعمال باندې قطعي بندیز لګول شوی دی- دا تړون په ۱۹۷۰ کې د ملل متحد د ۲۵ عمومي اسامبلی لخوا په تصدیق ورسیده او په کال ۱۹۷۱ کې تصویب شو، د نړۍ زیاتره هېوادونو دا تړون لاسلیک کړی دی، چې پدې کې د نړۍ درې لوی قدرتونو هر یو متحده ایالات، شوروي اتحاد او برطانیه کبیر هم برخه درلوده .

**په لاطینه امریکا کې په اتومي وسلو د بندیز تړون**

**Treaty of the prohibition of nuclear weapons in Latin America**

دې توافقنامې ته د Tlatelolco د تړون نوم هم روکول شوی، چې له اتومي وسلو څخه ازاده سیمه یې په لاطینې امریکا کې رامنځته کړه، په لاطینه امریکا کې پر اتومي وسلو د بندیز تړون په کال ۱۹۶۷ کې د مکسیکو په ښار کې لاسلیک شو دا تړون د ۲۵ لاطینو هېوادونو لخوا لاسلیک شوی وو او ۲۵ هېوادونو لخوا تصویب شوی وو، د دې تړون دوه مهم پروتوکوله وو. لومړی پروتوکول هغه هېوادونو لپاره چې امریکا یې سېمیزه

دلچسپي لري او دویم پروتوکول د دې لپاره چې هغه هېوادونه چې اتومي وسلې لري، له دې پرته دا چې کوم بهرنی ځواک به لاطیني امریکا ته اتومي وسله نه راوړي. په کال ۱۹۸۰ کې نورو اتومي قوتونو د دې تړون دویم پروتوکول ومانه، چې شوروي اتحاد، متحده ایالات، برطانیه کبیر، فرانسه او چین ګډون درلود او د وسلو د مخنیوي لپاره یې دOPANAL په نوم یوه عملیاتي دستګاه جوړه کړه

**ملت پرستي Nationalism**

د یوه ملت له مادي او معنوي ځنګړتیاوو څخه دفاع کول، خپل نماینده شوې سازمان (ملي دولت) او ملت سره وفاداري او د خپل هېواد ساتنه له ملت پرستۍ څخه عبارت دي.

**مادي ځانګړتیاوې (مادي شتمنۍ)**

معنوي ځانګړتیاوې( مالي کلتوراو ملي تاریخ، ملي مقدسات او د هېواد پالنی ګډ احساس:

ملت پرستي هر چا د خپلې عقیدې اړوند تعریف کړې.

هغوی چې یو ځانګړي نژاد او ژبې ته عقیده لرله د ملت پرستۍ اساسات یې ژبه او نژاد ګڼلو او د هغې په اساس یې ملت پرستي تعریفوله ځینو نورو پخپل تعریفونو کې یواځې د ملت پرستۍ سیاسي اړخ په نظر کې نیولی- اقتصادي او ټولنیز اړخ ته یې هیڅ نظر نه دی کړی؛ خو نوي او مترقي ملت پرستي چې د ټولنې د مادي او معنوي ځانګړتیاوو په اساس مینځ ته راځي د خپلې ټولنې مادي نیمګړتیاوې له منځه وړي او په عادلانه توزیع په ټولنیز عدالت عقیده لري او د ټولنې د سیاسي او علمي شعور د لوړوالي لپاره سیاسي دیموکراسي غواړي او په بین المللي سویه د ځان غوښتنې له اصل څخه پیروي کوي– په دې مانا چې د هرې ټولنې یا ټاټوبې او اقتصاد

تعرض کول امپریالیزم بولي او د ملتونو په ازاد او دوستانه ژوند عقیده لري.
نوي او مترقي ملت پرستان د خپل ملت د تنظیم لپاره د ملي دولتونو شتون اړین ګڼي او عقیده لري، چې هغه دولتونه چې په ملي اراده مینځ ته راځي هغه د ملی ګټو ساتندویه دي.

**د ملت پرستۍ عمده موخې Main goals of nationalism**

۱. په ټوله نړۍ کې له استعمار او امپریالیزم سره ضدیت.
۲. د ځمکې بشپړتیا
۳. د ټولو نژادونو او ملتونو تر مینځ مساوات یانې د Sectorism او هر ډول تبعیض، پر ضد مبارزه او د Apartheid, Racism هغوی پر ځای په بین المللي سویه دا هر اړخیزه عدالت، مساوات او ورورولي تامینول.
۴. د اقتصادي او سیاسي دیموکراسۍ لپاره نه ستړي کیدونکې مبارزه.
۵. د فیوډالیزم د مینځه وړل او د ملی دولت مینځته راوړل.

**د ملت پرستي ډولونه kinds of nationalism**

ملت پرستي هر چا چې له خپلې خوښې سره سم په بېلابېلو څانګو ویشلي ده
خو نوی او علمي ویش یې د سیاسي، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ او د فرد او ټولنې د سمون له مخې په دري ډوله دي.

۱. لیبرال ملت پرستي
۲. یو ګوندي ملت پرستي
۳. مترقي یا نوې ملت پرستي

**لیبرال ملت پرستي** liberal nationalism ،

لیبرال په لاطیني ژبه ازاد ته وایي: نو لیبرال ناسیونالیزم هغه دی، چې په انساني ارزښتونو، بشري حقوقو او په فردي ازادیو د ملي دولت په چوکاټ کې ټینګار کوي.

لیبرال ملت پرستي د سیاست هر رنګه ازادیو غوښتوونکې ده او د هغه دولتونو او موسسو مخالف دي، چې سیاسي ازادي ختموي، لیبرال ملت پرستي فرد او فردي ازادیو ته په زیات ارزښت قایله ده. په دې اساس فردي ګټو ته په ټولنیزو ګټو ترجیح ورکوي. د لیبرال ملت پرستي اقتصادي پرمختک هم په افرادو پورې اړه لري، د دولت هر رنګه لاسوهنه، انحصار او تشبث په توزیع او تولید کې بې لزومه ګڼي او مقاومت ورسره کوي. همدارنګه په اقتصادي ژوند د دولتي کنټرول مخالف د تجارت د محدودیت، تحریم او ګمرکي تعرفی سره مخالفت کوي، نو د لیبرال ملت پرستانو اقتصادي پرمختک د درېیمې نړۍ د هېوادونو په ګټه نه دي، ځانګړي توګه عوامو ته ډېر زیان لري، یواځې د شتمنو او لویو ځمکه والو په ګټه دی، چې په پایله کې د سرمایه دارۍ خواته ځي، چې غوره بېلګې یې د انګلستان، جاپان او د امریکا متحده ایالاتو لیبرالیست ګوندونه دي.

**توتالیترملت پرستي** Totalitarian Nationalism

هغه ملت پرستي چې د جامعې اصالت ته پهافراطي ترجیح ورکوي دسته جمعي استبداد مینځ ته نه راوړي او د لیبرال ملت پرستي ضد دی- توتالیتر ملت پرستي فردي دولت په لاس کې یوه وسیله ګڼي، له دولتي خدمت څخه افرادو ته په ازادو، حقوقو او دندو قایل نه دي، په دې اساس فرد له ټولني څخه قربانوي- سیاسي قدرت د یوه حاکم ضرب په انحصار کې راولي. ټول دیموکراتیک پرمختګونه او ارمانونه له مینځه

وړي، حتی ګوند په داخل کې دیموکراسي ختموي، په دولت او بهرنیو چارو کې فردي حاکمیت مینځ ته راوړي، فردي استقلال له مینځه خي، مخالفین په ترهګریزو اعمالو د مینځه وړل کیږي، د ټولنې په ژوندانه، په اجتماعي او اقتصاد ساحه کې د دولت کامل کنترول رامینځته کیږي- په توتیالیتر دولتونو کې د دولت د لاسوهنې لپاره هڅه کوي، حتی ادبي، هنري او ټول ارتباطي او تبلیغي وسایل او موسسات کنترول په لاس کې نیسي او د دیموکراسی ضد بنه خپلوي-داسی احزاب لومړی په دیموکراتیکه بڼه مینځ ته راځي؛ خو کله چې واک ته ورسیږي؛ نو دیموکراسي له منیځه وړي- غوره بېلګې د المان ملت پرست سوسیالیت حزب او د ایتالیه فاشیستي ګوند دغه ډول ګوندونو له جملې څخه وو.

**نوې یا مترقې ملت پرستي** Neo-nationalism.

مو دغه ترډې په لیبرال او توتیالیترملت خبري وکړي د دواړو په ګګړتیاوو پوه شو، څکه په لیبرال ملت پرستی کې سیاسي ازادې او په اقتصادي ساحه کې افرادو ته پاملرنه کیږي -ټولنیز عدالت او اقتصادي دیموکراسي نظر کې نه نیسي، یانې اصالت فرد (individualism) ته ترجیح ورکوي او داسی ژریمو نو کې ټولنه له فردې ګټو نه قربانیږي- همدارنګه په توتیا لیتر ملت پرستی کې په اقتصادي او سیاسي ساحه کې د دولتي تشبث ته په افراطې او استبدادي بڼه ارزښت ورکول کیږي او د جمع اصالت ته ترجیح ورکوي فردي دیموکراتیکې غوښتنې او ازادې ختموې -په دې ډول رژیونو کې افراد ټولنې څخه قربانیږي او د افرادو شخصیتونو تبارز نشي کولای.

نو په دې اساس نوي یا مترقې پرستی د سرمایه داری او توتیالیتر برنامو کلک مخالف دي، څکه دواړه پهتولید او عادلانه توزیع د ټولنیز نظارت

مانع ګرځي- نو نوې یا مترقي ملت پرستي یو اړخته ته د انساني ارزښتونو، بشري حقوقو او فردي ازادیو، دیموکراسي او نورو دیموکراتیکو هیلو غوښتونکې دې د بل پلوه په ټولنیز عدالت او اقتصادي دیموکراسي ټینګ ولاړ دی- یا په عبارت د نوې یا مترقي ملت پرستي، سیاسي او اقتصادي محتوی سوسیال دیموکراسي تشکیلوي.

په دې ډول ناسونالیزم کې د افرادو او ټولنې ترمنځ اړیکې په عادلانه او اصولي بڼه تنظیموي. ملت پرستي څو بڼې او په بېلابېل ډولونه لري، چې لاندې یې یادونه کوو.

**د روغجنه هېواد پالنه Jingoism**

دا انګلیسي اصطلاح ده، چې د فرانسوي د (chauvinism) د اصطلاح معادله ده او د افراطي او جنجالي ناسیونالیزم خواته اشاره ده، چې لومړی په انګستان کې او بیا د روسي او عثماني ترکیې د جګړې په اوږدو کې (۱۸۷۷ – ۱۸۷۸) ډېره دود وه دا نوم له یوي مشهورې ترانې څخه اخیستل شوی دی.

**افراطي ملت پرستي Chauvinism**

دغه اصطلاح د فرانسې د لومړی امپراطورۍ د یوه سرتیري Nicolas Chauvin له نامه څخه اخیستل شوې ده، چې هدف یې د نورو هېوادونو غلامول او د ملتونو ترمنځ د نفاق او بدبیني پیدا کول دي- د دې سیاست پیروان خپل ملت پر نورو ملتونو لوړ بولي او نور ملتونه حقیر شمیري- افراطي ملت پرستي له نژاد پرستۍ منشاء نیسي- او د ملت پرستۍ نه چې یو شریف احساس دې ناوړه ګټه اخلي. د خپل ملت لوړتیا د نورو ملتونو په ضرر تبلیغوي- افراطي ملت پرست سیاست د نړۍ ملتونه یو د بل په

وړاندې راپاروي، د دې پر ځای چې د ملتونو ترمنځ دوستي رامنځ ته کړي د ملتونو ترمنځ د نفاق اور بلوي.
استعماري او استثماري او فاشیستي رژیمونه د نورو هېوادو پر وړاندې – د افراطي ملت پرست سیاست نه کار اخلي او خپلې ګټې لټوي – د روس او چین کمونست ښتمن په دې ناوړه مرض اخته دي.

**ناپیلتوب (بې طرفي) Nautrality**

په لاطیني ژبه هغه هېوادونه چې د هېوادونو ترمنځ په جنګ کې برخه نلري د (Quineutrarun Partiu Nsunt) اصطلاح کاروي، د دې اصطلاح او دبین الدول د عمومي حقوقو له مخې پخوا هغه دولت ته بې طرفه وویل کیده، چې د یوه یا څو هېوادونو ترمنځ په واقع شوي جنګ کې یې برخه نه درلوده، د بین المللي اړیکو له مخې بې طرفي لاندې ډولونه لري.

**۱. اختیاري بې طرفي Elective neutrality**

دا ډول بې طرفي یوه داسې بې طرفه هېواد، د یوه تړون له مخې له جنګ کوونکو هېوادو څخه د یوه یا دواړو خواوو پر وړاندې ځان مکلف نه ګڼې او د بې طرفۍ په غوره کولو کې ازاد وي.

**۲. معاهدوې بې طرفي Treaty neutrality**

دا ډول بې طرفي د یوه دولت له خوا له یوه یا څو نورو هېوادونو سره د تړون له مخې مینځ ته راځي او دغه تړون کې دولت ژمنه کوي، چې د دغو هېوادونو ترمنځ د جنګ پر مهال به هیڅ ډول مداخله نه کوي – د معاهدوې بې طرفۍ له مخې یو هېواد د څو هېوادونو او یا له ټولو هېوادو سره د جنګ په موادو کې د بې طرفۍ اعلان کوي.
چې دغه وروستي ډول ته یې دایمي بې طرفي هم وایي.

دغه دایمي بېطرفي یوازې د جنګ تر وخته منحصره نه وي، بلکې د سولې په وخت کې هم عملي کېږي .

۳. عمومي بې طرفي Public neutrality

که چېرې یو دولت د خپل هېواد ټولې برخې، بې طرفه سیمې اعلان کړي؛ نو دې بې طرفۍ ته عمومي بې طرفي ویل کېږي.

۴. منطقوي بې طرفي Territorial neutrality

دغه ډول بې طرفي د یوه هېواد یوه ټاکلې ساحه چاپېروي او د هېوادونو په ټولو ساحو مشتمله نه وي .

**۵. بشپړه بې طرفي Perfect neutrality**

د بشپړې بې طرفۍ د سیاست ( Neutralism ) یو پیرو هېواد په ټولو مسایلو کې دواړو طرفو ته په یوه سترګه ګوري او یو ته د بل په نسبت په لوړتابه قایل نه وي – د بشپړې بې طرفۍ د سیاست لرونکی هېواد باید د بې طرفۍ حقوق په ډېرې خیرکۍ او محتاطانه بڼه عملي کړي او داسې عمل ونکړي چې له محاربو خواوو څخه د یوې خوا د نیوکې لامل شي .

۶. نابشپړه بې طرفي Imperfect neutrality

هغه جګړې چې د اتلسمې پېړۍ په دوران کې پېښې شوي دي- په دغو جګړو کې د بې طرفو هېوادونو سیاست نابشپړه وو، څکه دغه ډول هېوادونه له جګړه مارو هېوادونو څخه د یوه هېواد عسکرو ته د خپلې خاورې د تیریدو اجازه ورکوله – او د بل هېواد هغه ته به یې نه ورکوله نو څرنګنده ده، چې د دغه ډول اعمالو سرته رسول د بې طرفۍ د حقوقو نه مغایر دي او همدا دلیل دی، چې دغه ډول بې طرفۍ ته نابشپړه بې طرفي وایي .

۷. په نظامي تړونونو کې د نه ګډون په اساس بې طرفي

**Neutrality based on absence in military pacts**

تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته نړۍ په دوه بلاکونو وویشل شوه شرقي بلاک او غربي بلاک.

دغه مهال ځینې هېوادونه مترقي بلاک ته او ځینې نور غربي بلاک ته تسلیم شول- ځینې نورو هېوادونو بیا دواړو بلاکونو پر وړاندې د نه پابندۍ سیاست غوره کړ او یوه تړون ته هم تسلیم نشول.

پر کمبوډیا د ویتنام له استعماري حملې سره سم دغه ګوداګې رژیم د خپل بادار په اشاره تر ټولو ناپیلو هېوادونو حتی د رومانیا چې د وارسا په تړون کې غړیتوب لري. د ویتنام دغه بې شرمانه عمل وغانده.

د عدم انسلک اصطلاح په ډیپلوماسۍ کې له دویم نړیوال جنګ نه وروسته دود شوه او دغه اصطلاح د دي هېوادونو د سیاست په اړه استعمال شوه، چې له دواړو بلاکونو څخه یې د یوه په اړه هم ځان متعهد نه باله.

د ناپیلویتوب مفهوم د سیاسي او جغرافیوي وضعیت له مخې متفاوت دي، ناپیلي هېوادونه معمولاً د یوې منسجمې، فسلفي لرونکې نه دي دوې یا د دواړو رقیبو خواوو منځنی حد منې او یا د دواړو خواوو اصول ردوي، همدارنګه غیر مسلکي هېوادونه په بین المللی اړیکو کې یو خاص واک لري، د بېلګې په توګه دوی زور زیاتی ردوې، د قواوو تعادل خوښوې او نور په همدې اساس ناپیلتوب ضرورتاً یوه سیاسي نظریه نشې بلل کیدای پخوا به ځینو بې طرفو هېوادونو له خپل ناپیلیتوب نه اخلاقي توجیه کوله؛ خو په معموله لحاظ ناپیلي سیاست د ملي ګټو په اساس غوره کیږي.

ناپیتلتوب دغه اساسات لري **Fundamentals of neutrality**

۱. په نظامي تړونونو کې نه ګډون.

۲. نظامي مرستو او وسلو نه اخیستل له دواړو خواوو نه.

۳. دواړو خواو ته د نظامي اډو نه ورکول.

۴. د رسمي او نارسمي تعهدونو نه درلودل، دلته باید دا خبره هیره نشي، چې په دغو اساساتو کې د وسلو رانیول نه راځي- دغه هېوادونه بهرنی مستقل سیاست لري. بې طرفي یوه بله مثبته خوا هم لري او هغه دا چې ښایي د دواړو خواوو ترمنځ سوله او منځګړتوب هم وکړي.

**دولتي حاکمیت State sovereignty**

د یو خپلواک دولت ځواک چې له بشپړي ازادۍ څخه سرچینه اخلي او کولای شي د حاکم.به پکې له خپلې خوښې سره سم بهرنۍ اړیکې او کورنۍ چارې تنظیموي. د حاکمیت حق که د یو فرد پهلاس کې وي دغه حکومت ته مطلقه، که د یوې طبقې په واک کې وي او لیګا شي حکومت او که د خلکو په اختیار کې وي؛ نو دیموکراسۍ حکومت ورته ویل کیږي، د حاکمیت مهم مفاهیم په لاندې ډول دي:-

۱. د قانوني سیستم اړوند د قوانینو د وضع کولو او اصلاح کولو واک.

۲. د دولت سیاسي او اخلاقي واک

۳. د یوې ټولنې سیاسي او قضایې استقلال.

حاکمیت په دوه ډوله دی:-

الف : کورنی حاکمیت

ب: بهرنی حاکمیت

تل هغه قدرت چې یو دولت یې پخپلو اتباعو د خپلو هېواد په اوسیدونکو بهرنیانو او په بحرونو کې په خپلو بحرونو لرې داخلې حاکمیت بلل کیږي

په بهرني حاکمیت کې له نورو سره د تړونونو لاسلیک کول، له هېوادونو سره د اړیکو لرل او له نورو هېوادونو سره د جنګ او سولې اعلان راځي، داخلي حاکمیت په سیاسي او قضايي حاکمیت تقسیمېږي
سیاسي حاکمیت هغه عالي قدرت دی، چې په هره سیاسي ټولنه کې موجود دی، حاکمیت هغه قدرت دی، چې په قضايي څارنه کې پټ وي.
یو دولت بنايي داخلي حاکمیت ولري؛ خو بهرنی حاکمیت یې بنا د بل چا په واک کې وي- دغه ډول هېوادونه تحت الحمایه بلل کېږي.

**انسانیساتنه یا تحفظ Human security**

بین المللي اړیکې باید داسې وي، چې د هېوادونو ترمینځ د امن یو ټولنه رامینځته کړي، چې انساني ساتنه په آساني سره پکې ترسره شي او یو تر بل متقابلې اړیکې ولري او په هغوی کې د جګړې لپاره چمتو والی نه لیدل کېږي او د هغوی ترمینځ د تلپاتې سولې هیله حاکمه وي.

**اقتصادي انکشاف Economic Development**

د یو هېواد په ملي خالص محصول کې اضافه کیدو ته وایي اقتصادي انکشاف د اسعارو د معاصرو ارزښتونو، پهنفوذ کې تغیر او په بازار کې د پیسو دحجم زیادښت یا د قیمتونو د تنزل له مخې معلومیدلای شي.
اقتصادپوهان د کلني انکشاف کچه او نرخ د اکثره هېوادونو لپاره پنځه فیصده ښودلي دی. ځینو هېوادونو په اساسي ډول ده کچ زیات کړی؛ خو تر لاسهکړي یې نه ده – بیا هم مخ پر ودو هیواونو په دې هڅه کې توانیدلې دي، چې ناخالصه ملي عایدات په لوړه کچه زیات کړي، کله چې دا کچ د نفوذ لپاره وضع شو؛ نو دا کچ فې کس پر سر یو یا دوه فیصده زیات شوی وو – ځینې هېوادونه بیا پداسې هڅهونو کې له ناکامی سره مخ شوې، چې له کبله یې اقتصادي بحران رامنځته شوی؛ نو د داسې بحران د حل کولو

لپاره نړیوالي اړیکې له بل هېواد څخه د پور اخیستلو پواځینۍ لاره ده، په دې شرط چې له پور ورکوونکي هېواد سره اړیکې سمې وي

**اقتصادي بحران(Economic depression)**

د یو هېواد د اقتصادي فعالیتونو د انحطاط او په تېره دریدلو دوره، چې قیمتونه ټیټ، د اخستلو ځواک کم او بیکاري ډېره وي. دا ډول بحرانونه په پانګوالې هېوادونو کې زیات رامنځته کېږي. د دې د مخنیوي لپاره هېوادونه یو له بل سره اقتصادي اړیکې د نړیوالو اړیکو په اساس ټینګوي چې له نورو هېوادونو څخه پور یا مرسته ترلاسه کړي، چې وکولای شي اقتصادي حالت ښه کړي.

**جینایي سازمانونه** Organized crime or criminal organization

دا نادولتي، ملي او یا محلي ډلې دي، چې د متمرکز سازمان بڼه لري، چې د مجرمینو لخوا د ناقانونې چارو سرته رسولو لپاره رهبري کېږي او عمده هدف یې د پیسو لاس ته راوړل وي- ځینې ترهګر سازمانونه په سیاسي دول تشویق شوي اوسي او پر نړیواله سطح جرمونه سرته رسوي.

دا جرمونه د بین المللي حقوق جزا لخوا بررسي کېږي، چې دلته دولتونه مجبور شي، چې د یو بل د تولنیز نظم او فردي تحفظ لپاره یو بل سره نړیوالې اړیکې ټینګې کړي – د یادونې وړ جینایي سازمانونو کې خطرناک شکل یې مافیه (mafia) ده. چې لاندې یې تعریفوو.

**مافیا mafia** : د جینایتکارانو پټ سازمان چې په ټوله نړۍ کې مختلف تر ځمکې لاندې (underground) فعالیتونه اداره کوي – او د یو مشر چې ورته بادار (don) وایي لخوا پر مخ وړل کېږي. دا مافیاګانې په نړیواله سطحه ترور او تخریب رامینځ ته کوي، چې د مخنیوي لپاره یې Interpol قرار لري، چې د حقوق جزا بین المللي قانون په نظر کې نیولو سره اجرات ترسره کوي او دا ټول د نړیوالو اړیکو د موجودیت له کبله امکان پذیره دي.

## څلورم څپرکی

## په اسلام کې نړیوالې اړیکې

منځنۍ پیړۍ د اروپا لپاره یوه تیاره او له ګډوډیو څخه ډکه دوره وه، چې په دې دوره کې د کاتولیک کلیسا او باچا تر منځ د قدرت د لاسته راوړلو لپاره جنګ روان وو، چې په اخر کې د قدرت دلاسته راوړلو په دې لوبه کې شاهي نظام لوبه وګټله؛ خو پاپانو هم یو اندازه قدرت لاس راوړو په همدې وخت کې په منځنۍ ختیځ او لویدیځ کې یو څو اکمن اسلامي حکومت منځته راغلی و او د اسلام مبارک دین له ظهور څخه وروسته نړیوالو اړیکو ډیره پراختیا حاصله کړې وه او په نړۍ کې هر مسلمان له بل مسلمان سره ورور وګڼل شو، همدا لامل و چې مسلمان ملت د همدغه تړون او وفادارۍ له امله رامنځته شو او دغه ورورولي د کومې ځانګړې جغرافیوي ساحې پورې محدوده نه وه، بلکې د نړۍ شمول وه. د دې لپاره چې پدې موضوع ښه پوه شو؛ نو لاندې مطالب تر مطالعې لاندې نیسو.

د ملل یا «یا بین الملل» مفاهیم د اسلام په حقوقي او سیاسي نظام کې:-

د اسلام په نړیواله حقوقي نظام کې د ملت، ملل او بین الملل مفهومونه له نورو حقوقي او سیاسي نظامونو سره توپیر لري.

الله تعالی فرمایلي چې انسان د ځمکې پر مخ خلق او ژوند وکړي- انسانان پر قبیلو ویشل شوي دي –چې د ژبو او رنګونو توپیر هم پکې شته؛ خو قرآن عظیم په څرګنده توضیح کړې ده–چې دا ډول شیان او نومونه د شناخت لپاره دي الله تعالی ته هغه څوک کرامت لري، چې متقي وي د اسلام د همدې اصل په رڼا کې افراد، قبیلې، ټولنه کلي و ښارونه یا د هغو

مجموعه چې د هېوادونو څخه عبارت دی پيژني او له پيژندلو سره يو ځای حقوق او قوانين ورته لري .
دا چې د يوه هېواد په سياسي حدودو کې د هغه ځای خلک د هغه هېواد په نامه ياديږي او خان بيل ملت گڼي ( اسلام په داسې حال کې چې ټول مسلمانان يو ملت گڼي او د هغو تر مينځ بې له تقوی څخه توپير ته قايل نه دي، د نورو په هکله مخالفت نه کوي خو تاريخ دا ښودلې ده، چې سياسي حدود دايمي نه و، د پاچاهانو له ناوړه اعمالو څخه يو هم دا وو، چې د جنگونو په وسيله يې د زرهاوو خلکو د قتلولو او معيبولو او د کليو او ښارونو د خرابولو او په خلکو کې د فساد او نفاق اچولو په قيمت يې د ځان او کورنۍ لپاره ملکونه نيول، چې طبعاً سياسي حدود هم تغير کاوه نړۍ له لوديځي اروپا څخه نيولې د اسيا تر ختيځ پورې د افريقا په شمول له ډيرو لږو هېوادو څخه عبارت وه زيات شو، خو بيا هم امکان لري، چې د انسانانو د خوښيو او گټو په موخه او د عمومي تفاهم له مخې يو شمير هېوادونه زيات سره نږدې او په اخر کې متحد او يو شي او يو ملت تشکيل کړي .
لکه د اروپا، شمالي امريکا، جنوبي امريکا، يا د اسيا يا افريقا هېوادونه سره متحد شي، بيا هم هغه چې د ازادۍ عدل و انصاف او مساوات له مخې په خوښه سره جلا کيږي يا سره يو ځای کيږي او هدف يې د اسلام پر ضد اقدام نه وي هغه هم اسلام مني – حضرت مولانا مودودي(رح) په خپل کتاب (( خلاف او ملوکيت)) کې دغه مبارک آيت د قرآن کريم د حج له سورې څخه نقل کړي دي:-
ياني:- ايا ومو نه ليدل هغه څه چې ځمکه کې دي الله تعالی تاسو ته مسخر کړل .

په اسلامي قاموس کې د«ملت» لفظ په هکله ویل شوي دي، چې د طريقې او دين مترادفه کلمه او یوه مذهبي اصطلاح ده (لکه ملت ابراهيم) همداسې د نامسلمانانو لپاره هم د ملت کليمه استعمال شوي ده.

په عربي ژبه کې ملت د شريف، ټولنې او د يوه هېواد چې د يوه دولت تابع وي مانا هم ورکوي، د دې کلمې ريښه د«املا» چې د«القاء»مانا ورکوي څخه راغلې ده په داسې حال کې چې پيغمبرانو دين خلکو ته القاء کاوه د ملت جمع ملل دی

د اسلام له مخې د بشر ټول افراد يا ټولنې او ولسونه چې د اسلام بلنه يې منلې وي او مسلمانان وي هغوی ته اسلامي ملت يا اسلامي امت ويل کيږي او د هغه پرته د نورو ته نامسلمان ملت يا أمت ويل کيږي.

مسلمانانچې په هر ځای کې څه هم په نااسلامي هېوادونو کې وي هغه د اسلامي ملت او أمت يو فرد پيژندل کيږي، چې د مسلمانانو اکثريت او اسلامي قانون پکې موجود وي اسلامي بين الدول حقوق د همدې ملتونو او افرادو په مينځ کې د هغو د مناسباتو او اړيکو لکه: جنګ، صلح، معاهدې، د سياسي حدودو ټاکل، يو د بل په خاوره يا حقوقي ساحه کې د خپلو اقليتونو د حقوقو ملاتړ. جنګي اسيران، غنيمتونه، پناه غوښتنې «مستامن» اهل ذمه (هغه نامسلمانان چې په دايمي ډول په اسلامي خاوره کې ژوند کوي)

شخړې، حکميتونه او نورې ټولې پيښې او مسايل چې مينځ ته راځي د اسلام د حقوقو له مخې حل وفصل کوي. بله موضوع چې په اسلام کې له بين المللي مسايلو سره نږدې ا يکې لري، هغه د جهاد موضوع ده.

نامسلمان ملتونه:-

نامسلمان ملتونه پر څو ډلو ویشل کیږي لکه:-

1. اهل کتاب
2. مشرکین
3. دهریان
4. هغه اهل کتاب چې له مسلمانانو سره خصومت او جنګ کې داخل وي.
5. هغه اهل کتاب چې له مسلمانانو سره د صلحې په غرض تعهد وي
6. «اهل ذمه» چې په اسلامي خاوره کې په دایمي ډول ژوند کوي.
7. هغه اهل کتاب چې په اسلامي خاوره کې د پناه غوښتونکي «مستامن» په ډول موقتې ژوند کوي.

یادونه:- یهود، نصارا او حابین اهل کتاب بلل کیږي، حابین هغه ډله وه چې د خپل طبعیت برابر یې له هر دین څخه یوه عقیده اخیستی وه، چې په اوسنې عصر کې د دې دین پیروان موجود نه وي.

8. هغه مشرکین چې په دارالاسلام کې دایمي اوسیږي.
9. هغه مشرکین چې په دارالاسلام کې موقتې اوسیږي.
10. هغه مشرکین چې له دارلاسلام سره د جنګ او دښمنی په حال کې وي
11. هغه مشرکین چې له اسلامی دولت سره د دوستی تړون لري.
12. د هریان
13. مرتدین

یادونه:- مرتدین هغه خلکو ته ویل کیږي، چې د اسلام د منلو وروسته بیرته ګرځیدلی وي او بل دین یې اختیار کړی وي یا دا چې دهري شوی وي

دهري هغه ځا ته ویل کیږي، چې پر الله تعالی ایمان نه لري -(العیاذبالله)
مشرکین هغه خلک دي، چې پر وحدانیت ایمان نه لري- بلکې نور هم له الله تعالی سره شریکان بولي (العیاذبالله چې اکثریت بت پرستان، لمرپرستان، سپوږمی پرستان، ستوري پرستان یا اتش پرستان یا د طبعیت یا نورو شیانو یا شخص پرتش کوي.
یهودان د تورات کتاب چې پر حضرت عیسی ع نازل شوی وو اهل دي.
نصارا د حضرت عیسی ع امت دی چې کتاب یې انجیل دی، زبور پر حضرت داودع نازل شوی وو؛ خو اوس په خاص ډول د دې کتاب پیرو نشته او یهودانو نوموړی کتاب په تورات کې ګډ کړی دی.

الف :- انسانې کرامت

دا چې د اسلام مبارک دین نړیوالو اړیکو ته ډیره پاملرنه کړې ده او د همدغو نړیوالو اړیکو د ټینګښت لپاره الله (ج)هغه څه چې په کایناتو کې موجود وو- هغه یې ورته مسخه وګرځول او انسان ته یې عقل او استعداد ورکړ همدارنګه په اسمانې او زمکنې څیزونو یې پوهه درکړه د همدغه امتیازاتو له امله و، چې الله (ج) پرښتې خپلی د هغې د تعظیم لپاره په سجده کولو ماموري کړې او د سجدې کولو حکم یې ورته وکړ، همدارنګه زیات قرآنې آیتونه او نبوي احادیث په دې دلالت کوي، چې دغه انسانې کرامت د یو خاص نژاد او جنس پورې محدود نه دی ټوله بشرې نړۍ په دې کې راګیره ده په هر هغه ځا چې انسان اصطلاح کیږی هغه د دغه انسانې کرامت نه برخمن دی، چې په دې هکله نبی کریم (ص) فرمایې (تاسې ټول د یو ادام نه یاست او ادم له خاورې نه دې هیڅ یو عربې په اعجمې فضیلت نلري؛ خو فضلیت په تقوا کې دی.

د قرآن کریم د ارشاداتو اړوند د انسانانو په مینځ کې د رنګ او نژاد په اساس یو پر بل فضلیت نلري؛ خو فضیلت او بهتري په تقوی کې ده.
په یو روایت کې راغلي دي، چې یوه ورځ نبی کریم ص د صحابه کرامو له جملې څخه یو صحابي یو کس ته چې د هغې مور تور پوستې وه پیغور ورکړو، چې یا د تورې ځویه! پیغمبر (ص) پدغه خبره سخت غصه او درې خلې یې د اخبره تکرار کړه، چې د حد نه تجاوز شوي دی هیڅ یو سپین رنګی په تور رنګي فضیلت نلري راځو د ننني نړی د بشري حقوقو علمبردارانو ته چې د بشر د حقوقو او د انسان د کرامت او عزت خبري کویخو عملی جنبه نلري چې ښه بېلګه د امریکا بهرنیو چارو وزیر کولن پاول وه، هغې غوښتل چې د سپین پوستو په کلیسا کې عبادت وکړي چون دا تور پوستی و، نو دا جازه ورنه کړل شوه، چې کلیسا ته داخل شي؛ خو د اسلام په مبارک دین کې له ټولو نه غریب سړی کولی شي، چې وختې جومات ته راشي او په لومړي صف کې لمونځ اداء کړي.
(ب) د بشري ټولنې یو والی :-
د اسلام مبارک دین بشري ټولنه د یو واحد امت په نوم یادیده د بشري ټولنې اصل او ریښه یوه ده، چې همدغی خبرې ته الله ج په قرآن کریم کې په مختلفو ځایونو کې اشاره کړي ده، چې د هغې له جملې نه د سورة النساء په لومړي آیت کې الله (ج) فرمايي، چې یا خلکو له الله (ج) نه وویریږئ ما تاسې له یو نفس نه پیدا کړي یاست او له هغې نه وروسته مې د هغې بې بې پیدا کړه او بیا نو خلک له هغې نه پیدا شول .
همدارنګه په سورة البقره کې هم وضاحت شوی دی او ویل شوي دي، چې انسانان په اصل کې یو واحد امت دی کوم اختلافات چې د دوی تر منځ راپیدا شوي دي هغه ته د هوا او هوس له امله نه دي، چې الله ج د دغه

بشریت د لارښوونې لپاره انبیاء ع رالیږلي دي، چې هغوی اختلافات پریږدي او د هدایت لاره غوره کړي.

په قرآن کریم کې یادونه شوي، چې قومي، نژادي، ژبني او نور بېلتونونه د بشري ټولنې د یو ځای کیدو مانع نشي ګرځیدلی، بلکې کوم قبیلوي بیلتون چې د بشري ټولنې په مینځ کې لیدل کیږي، دا د الله (ج) خپله طریقه او خوښه ده، چې انسانان یې د دې لپاره قبیلې قبیلې پیدا کړي دي، چې یو بل وپیژني الله ج په سورة حجرات کې دې خبري ته داسې اشاره کړې ده ( یا خلکو تاسو مو د دې لپاره له یو نرینه او یوې ښځې نه پیدا کړې یاست چې یو بل وپیژنئ نه د دې لپاره چې تفرقه او اختلافات وکړئ. دغه قبیلې، قبیلې پیدا کول د دې لپاره دي، چې یو قبیله د بلې مرسته وکړئ او یو له بله ګټه واخلي، د دې لپاره نه دي چې یو د بل په مقابل کې جنګ وکړئ او هغه مغلوب کړئ او یا پرې ظلم وکړئ، چې نبي کریم (ص) په دې اړه فرمایې ( هغه څوک زموږ نه نه دي، چې قومیت ته دعوت کوئ او یا په همدې لاره کې مړ شي البته کوم حدیث شریف ته چې دلته اشاره شوې ده هغه په دې مانا نه ده، چې خلک دې له خپل هیواد سره مینه نلري او یا دې د خپلې قبیلې له خلکو سره مرسته نه کوي، بلکې دې ته اشاره ده، چې په ظلم دې خپل قوم ملاتړ نه کوي.

(ج) مرسته او همکاري:

د انسانانو ترمنځ متقابله همکاري د یوې کورنۍ او ټولنې په منځ کې بنیادي شکل غوره کړی دی دین او احکامو په اسلام کې نوموړی اصل په ټولو اړخونو (ملي او بین المللي)

او په ټولو بشري ټولنو کې یې عام کړی دی او پر دې اصل عمل کول یې یوه الهي فریضه او ټولنیز مسولیت ګرځولی دی، لکه څرنګه چې الله (جل

جلاله) په سورهٔ مایده (۳) کې په مطلق ډول په نیکو کارونو د همکارۍ امر فرمایلی دی او د بد کارونو له همکارۍ څخه یې منع فرمایلې ده.
نبی کریم (صلي الله علیه وسلم) په خپلو ویناوو او عمل کې تر ټولو غوره نمونه د متقابلي بین المللي همکارۍ خلکو ته وړاندې کړې، کله چې هغه (صلی الله علیه وسلم) مدینې منورې ته هجرت وکړ؛ نو هلته یې له یهودیانو سره یو تړون لاسلیک کړ، چې د دې تړون موخه په نیکو کارونو کې یو له بل سره مرسته وه او د ضرراو تجاوز په مقابل کې دفاع چې دغه تړون ډیر محکم تړون و اما یهودانو نوموړی تړون مات کړ او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له دښمنانو سره یې دوستي پیل کړه، همدارنګه د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) له عملي سیرت نه هم معلومیږي، چې هغه د بعثت نه مخکې هم د ضعیفانو او بیوزلو خلکو سره مرسته کوله پیغمبر (صلی الله علیه وسلم)فرمایي، چې زه (۲۵) کلن وم، چې د عبدالله بن جدعان په کور کې یو تړون وشو، چې له بیوزلو سره به همکاري کوو، چې په هغې کې ما پوره ونډه درلوده همداشان هغه (صلی الله علیه وسلم) له بیوزلو سره د مرستې په هکله په یو بل حدیث شریف کې فرمایي.
الله فی عون العبد مادام العبد فی عون اخیه )الله (جل جلاله د خپل بنده مرسته کوي تر هغې چې هغه د خپل بل ورور مرسته او نصرت کوي له دې ځایه ویلای شو، چې نړیوالې اړیکې په اسلام کې پراخه مانا او مفهوم لري .لکه یو له بل سره همکاري او مرسته کول، د فکر او عقیدې ازادي، بشري ټولنې وحدت په سوله او ارامۍ کې ژوند تیرول د سولې تړونونه رامینځته کول او نور .....
چې اوسني بشري نړۍ د دې ځای نشي نیولی.

(د) دازادۍ حق:

انسان که یو فرد وي او یا په یوه ټولنه او دولت کې قرار ولري؛ نو په هغه وخت کې کولی شي، چې د یو حقیقي شخصیت خاوند شي، چې ازادي ولري، کله چې الله جل جلاله، ادم (ع) پیدا کړ؛ نو ځینې ځیزونو تعلیم یې ورته ورکړ په حقیقت کې دغه تعلیم او د ځیزونو زده کړه یو الهي ورکړه وه چې د هغې پواسطه ادم (ع) کولی شو، چې په طبعیت کي شي، چې د د فکر ازادي، تحریک ازادي سفر او اقامت د ازادۍ څخه برخمنه وي.

خو حقیقي او رښتنې ازادي په هغه وخت کې تحقق پیدا کوي، چې یو شخص د نفس له غلبې او خواهشاتو څخه ازاد وې او د ایمان او عقل په قید کې دننه وي، د همدې له امله د اسلام مبارک دین نفسي خواهشاتو نه دازادۍ او له هغې سره مبارزي په هکله ډیر تاکید فرمایلی، چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) په یو حدیث مبارک کې فرمایي.

(لایو امن احدکم حتي یکون هواد تبعا لما جنت به) له تاسي نه مومن نه دی هغه څوک چې خپل خواهشات د هغه څه تاب نه کړي، چې ما پري راتګ کړی دی.

همدارنګه په یو حدیث شریف کې هغه څوک قوي او نیرومند بللی دی، چې هغه پر خپل نفس کنترول ولري (لیس الشدید باالصرعة انما الشدید الذی یملک نفسه عند الغضب)

له دې امله د اسلام مبارک دین هغې ازادۍ ته رښتنې ازادي و وایي، چې یو شخص د هوا او هوس څخه ازاد وي، چې موږ دلته ازادي په دوه برخو ویشو.

(۱) د عقیدې او مذهب ازادي. (۲) دخپل سرنوشت د ټاکلو ازادي.

چې هر یو هبیله بیله تر مطالعې لاندې نیسو.

(۱) د عقیدې او مذهب ازادي:-
د اسلام مبارک دین د مذهب او عقیدې ازادۍ ته پوره احترام لري او د دین په قبلولو کې یې له زور څخه منع فرمایلې ده، لکه چې په دې هلکه الله جل جلاله په قرآن کریم کې فرمایي (لااکراه فی الدین قدتبین الرشد من الغي فمن یکفر بالطاغوت ریو من بالله فقر اتمسک بالعروة الوثقی لاانفصام لها والله سمیع علیم)
همدارنګه په یو روایت کې راغلي دي، چې د نبی اکرم صلی الله علیم وسلم) لهصحابه کرامو (رض)څخه یو تن خپل دوه زامن د اسلام په راوړلو مجبوررول؛ نو رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) له هغې څخه منع کړ.
په یو بل روایت کې راځي، چې یوه زړه ښځه د اسلام دویم خلیفه عمر(رض) ته د یو شي د غوښتلو لپاره راغله عمر(رض) د دې پر ځاي، چې پر هغې فشار او زور راولي، د الله (جل جلاله) لوري ته متوجي شو او د الله (جل جلاله) ما خو دې ښځې ته دعوت ورکړ؛ خو هغې قبول نکړ ته ګواه اوسه چې دغه ښځه ما په زور مجبوره کړه.
همدارنګه د اسلام مبارک دین د یو شخص تعذیب کول د عقیدې لپاره هغې ته فتنه ویلې ده او فتنه یې د قتل نه بده ګرځولې ده، ځکه په دې کې روح، عقل او زړه دري واړه په شکنجه کې وي.
بې ویلو دې پاتې نه وي، چې د عقیدې ازادي یواځې د اکراه په صورت کې نه اغیزمنیږي، بلکې داکره نه پرته دري نور امور په نظر کې ونیول شي، چې د عقیدې ازادي تحقق ومومي.
۱. پخوانی دین باید ازاد وپیژندل شي د نژادي او نفسیاتي تعصباتو څخه ځکه زیات وخت خلک د خپلو نفسیاتي او نژادي تعصباتو له امله خپل دین پر خلکو په زور تحمیل کوي.

۲. د زور او یا تمې ورکولو پواسطه خلک خپل دین ته جلب کول کوم خلک چې د زور له امله او یا د کومې تمې او یا قدرت ته د رسیدو لپاره کوم دین او عقیدې ته ورګرځیدا شخص رښتنی مجتهد نه وي.
چې دغه عمل د اکراه د بدترینو انواعو څخه دی، چې زیاتره عیسوي مبشرین له دې طریقې نه ګټه اخلي.
۳. د هغوی د عقیدې د مقتضا مطابق عمل کول او هغوی ته پخپله عقیده کې اساتنیاوې برابرول.
د اسلام مبارک دین فکر او عقیدې له ازادۍ نه په مکمل ډول دفاع کوي او په ازادانه فکر سره خلک د اسلام مبارک دین ته دعوت کوي. چې د الله (جل جلاله) د عظمت او لویوالي څخه خبر شي په امن او محبت کې داخل شي او له بې دلیله تقلید څخه خان وساتي. لکه، چې په دې هکله الله (ج) په قرآن کریم کې فرمایي (واذا قیل لهم اتبعو ماانزل الله قالو ابل نتبع ما الفینا علیه آباء نااولو کان اباوهم لایعقلون شیاولایعتدون (۴)
کله چې وویل شي دوی ته د هغه څه تابعداري وکړئ، چې الله(ج) نازل کړي دوی وایي موږ د هغه څه تابع داري کوو، چې زموږ پلارونو کول اګر چې د دوي پلارونو هیڅ عقل نه درلودو او نه ورته هدایت شوی وو
همدا شان ټول اسلامي فقها په دې متفق دې هغه کافران چې په اسلامي ټولنه کې ژوند کوي او له مسلمانانو سره جنګ نه کوي او یا د کوم تړون له مخې اسلامي خاورې ته راغلي وي؛ نو هغوی د خپلو دیني مراسمو په اجرا کې ازاد دي.
ویل کیږي کله چې د اسلام دویم خلیفه عمربن الخطاب (رض) د سولې د تړون لپاره بیت المقدس ته ولاړ؛ نو هلته یې یوه عبادتځای ومونده، چې د یهودو پورې اړوند و، د عبادت ځای ځینې خایونه راپریوتي وي؛ نو عمر

(رض) د هغې راولیدلې خاورې په لمن کې لرې کولې، چې نور صحابه کرامو (رض)هم ورسره مرسته کوله .

ویل کیږي چې په همدې سفر کې عمر (رض) په بیت المقدس کې د یوې کلیسا ترڅنګ ناست و ، چې د لمانځه وخت راورسیده له خپل ځای څخه پاڅیده او لري د لمانځه د ادا کولو لپاره لاړو مسلمانانو ترې پوښتنه وکړه چې د کلیسا په داخل کې لمونځ نه کیږي، د عدالت علمبردار او سمبول او د ازاد فکر خاوند ځواب ورکړ، په دې وویریدم که په داخل د کلیسا کې لمونځ ادا کړم، هسې نه چې زما نه وروسته به داسې مسلمانان راشي، چې کلیساوې به په جوماتونو بدلې کړي.

راشئ!! اوس تاسې پریکړه وکړئ، چې په اسلام کې د فکر او عقیدې ازادي متحققه ده او خلکو ته ورکړل شوې ده او که په ننني غربي د یموکراسۍ کې چې ځانونه د بشر د حقوقو علمبردارن ګڼې او دعوه کوي، چغې وهي، چې موږ خلکو ته د فکر او مذهب آزادي ورکوو؛ خو په باطن کې د خلکو فکر او عقیده مستعمره کوي ګورو یهودان عمر(رض) له هغوی سره څرنګه چلند کړی وو ، نن هغوی له مسلمانانو سره څه کوي د اسلام لومړی قبله بیت المقدس ورانوي او هلته یهودي کلیساوې جوړه وي هلته د میشته مسلمانانو حالت څه دی! د هغوی له غوښو څخه کباب جوړه وي او د بارودو په لمبو کې یې سوځوي دا و لنډ شان د اسلام د مبارک دین او غربي دیموکراسۍ ترمنځ مقایسه عقیدې د ازادۍ په هکله چې ستاسې مخې ته مووړاندې کړه .

۲:- د خپل راتلونکې د ټاکلو ازادي .

د اسلام مبارک دین هماغه قسم چې یو فرد د هغې د بیرغ لاندې په اسلامي خاوره کې د بیان د ازادۍ د عقیدې د ازادۍ او د اوسیدو حق لري

همدارنګه خپل مخالفینو ته یې په خپل خاوره کې په ازاده توګه د خپل سرنوشت د ټاکلو حق هم ورکړی دی او له دغه حق څخه یې برخمن کړخولي دي.

په عین حال کې د دي برعکس هغه مسلمانان چې په نااسلامي خاوره کې ژوند لري د عقیدي، فکر، د خپل سرنوشت د ټاکلو او د خپلو دیني مناسکو او افعالو د تر سره کولو ازادي نلري، چونکه د اسلام مبارک دین له ټولو ادیانو څخه بهتر دین دی او د ټولني د اصلاح لپاره راغلی دی نه یواځي د مسلمانانو لپاره څکه که داسي وو؛ نو الله (جل جلاله) به پیغمبر نه وو مبعوث کړی. الله (جل جلاله) فرمایي. (وماارسلنک الارحمة للعلمین) یانې دا پیغمبر موږ د ټول عالم لپاره رحمت رالیږلی دی.

څکه نو د اسلام ستر پیغمبر او د بشریت لارښود فرمایي (لایومن احد کم حتی یحبلاخیه مایحب لنفسه) هیڅ یو ستاسي څخه مومن نه شي کیدای ترڅو پوري هغه څه چې د ځان لپاره خوښوي د بل مسلمان ورور لپاره یې خوښ نه کړي.

د پیغمبر ص هر امتې حق لري، چې له تجاوز څخه په امن کي وي او خپل سرنوشت په خپله ځانته وټاکې او مسلمانانو ته لازم نه دي، چې په نورو خلکو تیری او تجاوز وکړي او یا د هغوئ مالونه برباد کړي.

حضرت عمر (رض) له هغې نه وروسته چې کوم خلفاء الراشدین وو هغوئ چې کله کومې ځمکې فتحه کولې؛ نو د ځمکو له خاوندانو څخه به یې ځمکې نه اخیستې، بلکې له هغوئ څخه به یې خراج اخستو ویل کیږي، چې د عمربن عبدالعزیز (رح) خلافت په زمانه کې قتیبه بن مسلم الباهي د سمرقند د خینو سیمو د فتحه کولو لپاره ولیږل شو مخکې له دي نه چې د هغې سیمې خلکو ته اختیار ورکړي، چې یا اسلام ومنې یا جزیه ورکړی او

یا جنګ ته تیارشئ؛ نو هغې پرې برید وکړ او هغه سیمه یې فتحه کړه د هغې سیمې خلکو شکایت وکړ، پرته له دې چې موږ ته اختیار راکړل شوی وای پر موږ یې برید وکړ، زموږ سیمه یې ونیوله د اسلام خلیفه عمربنعبدالعزیز امر وکړ، چې فتحه شوې سیمه بیرته پریږدي او له دې نه وروسته یې هغوی ته د پورته ذکر شوو دریو کارونو اختیار ورکړ، چې خپل سرنوشت وټاکي همدارنګه د اسلام په ټولو فتوحاتو کې مسلمانانو نامسلمانانو ته د خپل سرنوشت د ټاکلو حق ورکړی دی.

## په نړیوالو اسلامي اړیکو کې د سیاسي نماینده ګانو حقوق:

سیاسي نماینده ګان له هغو کسانو څخه عبارت دي، چې په بل هېواد کې د خپل دولت تمثیل او د خپلو لازمه حقوقو حمایت کوي.

بین المللي حقوقو په اوسنی زمانه کې د نورو امتیازاتو په خوا کې سیاسي نماینده ګانو ته په دري برخو کې مصونیت هم ورکړی دی.

۱. شخصي مصونیت:

شخصي مصونیت له هغه مصونیت څخه عبارت دی، چې سیاسي نماینده خپله د هغې کور او نور هغه وسایل چې په اختیارکې لري د هر ډول تیري او تجاوز څخه مصون وي.

سیاسي نماینده ګانو ته شخصي مصونیت له دې لپاره ورکړل شوی، چې خپله دیپلوماتیکي دنده په ښه شان سره اجراء کړي او د دندې په جریان کې له هر ډول تشویش څخه خلاص وي.

۲. مالي مصونیت: -

د هغه مصونیت څخه عبارت دی، چې سیاسي نماینده ګان په کوم هېواد کې اقامت لري، د ځینو مالیاتو له ورکولو څخه معاف وي.

**۳. قضايي مصونيت:-**
د هغه مصونيت څخه عبارت دی، چې سياسي نمايندګان په کوم هېواد کې اقامت لري او هلته مرتکب د کوم جرمي عمل وګرځي؛ نو د مقيم هېواد قضأت او محاکم نشي کولی، چې هغه د تعقيب لاندې ونيسي او يا يې مجازات کړي.
البته د هغو مدني دعوو په اړه چې د دې د کار پوري تړاو نلري قضات کولی شي، چې هغه تر تعقيب لاندې ونيسي.
بې له شکه ويلی شو، چې پورتني درې مادې له اسلامي شريعت سره يو شان نه دي لومړۍ او دويمه ماده که څه هم د عمل بالمثل پواسطه قرار ولري له اسلامي شريعت سره کوم ټکر نلري، په دې مانا چې دغه هېواد هم له بل هېواد سره عيني عمل وکړي اما درېيمه ماده چې هغه عبارت ده د قضايي مصونيت څخه د هغې په اړه څه تشريح او وضاحت ته اړتيا شته.
سره د دې چې اسلامي شريعت سل په سلو کې د بين المللي قوانينو پوري مقيد نه دی او ديني احکام او نصوص په بين المللي عرفه او قوانينو حاکم دي نه محکوم.
**۴. مالي مصونيت:**
دلته بايد يوې خبرې ته اشاره وکړو او هغه دا چې که يو دولت له بل دولت سره په مالي امورو کې تړون وکړو، چې سياسي نماينده ګان به مالي مصونيت لري، که له دې ناحيې نه دولت افراد متضرر شي؛ نو دولت به هغوی ته معاوضه (بدله) ورکړي ولي کوم شی چې جرم او جزا پوري اړه په هغې کې دوه حالتونه دي.
لومړی:- دا چې جزا به د حدودو پوري اړه لري او يادا چې دا جزا به د تعزيراتو پوري تړاو لري.

دا خو یو واضح حقیقت دی، چې په حدودو کې څوک مداخله نشي کولی ولې کوم چې تعزیرات دي د مسلمانانو امیر کولی شي په هغې کې مداخله وکړي او ځینې جزاګانې سیاسي نماینده ته معاف کړي. خو هغه مجازات چې صراحتاً په قرآن کریم کې د هغې ذکر راغلی، د مسلمانانو امیر هغه نشي معاف کولی لکه حدود او قصاص.

په دې هکله د امام اعظم ابوحنیفه (رح) نظر دا دی، هغه جرایم چې د حقوق الله سره تړاو لري او یا حقوق الله په کې غالب وي؛ نو عفوه پکې کیدای شي اما د قصاص جزا د امام ابوحنیفه (رح) په نزد او د نورو ټولو اسلامي فقهاو په نزد په هغې کې د مسلمانانو د امیر لاسوهنه منعه ده او مرتکب د جرم قابل د قصاص دی په اسلامي هېوادونو کې په وضعي قوانینو او یا غیر شرعی محکمه پریکړه کول جواز نلري، ځکه د الله (جل جلاله) احکام په ځمکه معطل پاتې کیږي.

حیاناکه د مسلمانانو یو امیر له نورو هېوادونو سره داسې یو تړون کړی وو د هغې دا تړون باطل دی. ځکه د هغې دا تعهد د کتاب الله او د نبی کریم (ص) له سنتو سره مخالفت لري، چې په دې هکله د رسول الله (ص) احادیثو څخه څو دلایل په لاندې ډول یادونه کوو. (کل شرط لیس فی کتاب الله فهو باطل ولو کان مائة شرط) هر هغه شرط چې په کتاب الله کې نه وي هغه باطل دی اګر که هغه سل شرطونه هم وي

(المسلون عند شروطهم الاشرطا احل حراف او حرم حلال) مسلمانان به په خپلو شرطونو کله ولاړ وي تر هغې پورې چې د غه شرطونه حلال حرام نکړي یا حرام ونه ګرځوي

کل صلح جایز الاصلحا احل حراما او حرم حلالا) ټولې سولې جایز دي؛ خو هغه صلحه جایز نه ده، چې حلال حرام او حرام حلال وګرځوي

دلته یوه پوښتنه راپیدا کیږي او هغه دا چې څرنګه موږ کولی شو، چې بین المللي دیپلوماتیکې اړیکې برقرار کړو او د سیاسي نمایندګانو مصونیت چې په نړیواله سطحه منل شوی دی ومنو.
زموږ ځواب دا دی چې په بین المللي عرف کې د داسې جرایمو ارتکاب وجود نه لري او د داسې خلکو نه د دې ډول جرایمو تصور او فکر هم نشي کیدای که احیاناً مقیم هیواد داسې احساس کړي، چې دا به د دغه شان جرم مرتکب ګرځي؛ نو دغه شخص د یو نامطلوب شخص په حیث مخکې د جرم د واقع کیدو څخه له خپل هیواد څخه وباسي.
نو په دې ترتیب سره اسلامي قانون د عملي لید نه د بین المللي عرفه سره یو شان او په عیني وخت کې قابل د تطبیق ګرځي له دې ناحیې نه یو له بل سره کوم توپیر نلري.

**۹:- په نبوي دور کې ترجمانان:-**

دا چې نړیوالې اړیکې په اسلام کې ډیر اهمیت لري؛ نو رسول اکرم (ص) خپلو صحابه کرامو ته امر وکړ، چې د نورو قومونو ژبې زده کړي او له خلکو سره اړیکې پیدا کړي دا چې رسوالله (صلی الله علیه وسلم) د الله (ج) په لور بلونکي او هیواد مشر وو هم (صلي الله علیه وسلم) ته د بلنې خطونه او نظم پورې تړلې د نورو لیکونو لیږل هم وربه غاړه وو او په نورو ژبو به ورته هم خطونه راتلل؛ نو په دې اساس له یوې ژبې څخه په بلې ژبې د ژباړنې لپاره اړتیا لیدل کیده امام بخاري (رح) د باب ترجمة الحکام) تر عنوان لاندې د حکمران لپاره د ترجمان اړتیا ثابته کړې ده دا لاندې حدیث یې رانقل کړی دی( له زید بن ثابت (رض) څخه روایت دی، چې نبی کریم (ص) هغه ته د یهودو د ژبې د زده کړې حکم کړی وو، هغه وایي: ما عبراني

ژبه زده کړه او بیا به ما د نبي کریم (ص) لپاره خطونه لیکل او د یهودو راغلي لیکونه به مي لوستل او هغه ته به مي اورول.
ابن حجر(رح) فرمایي چې امام بخاري (رح) دا روایت په خپل تاریخ کې په متصله توګه رانقل کړي ده، په هغه کې راغلي دي، چې زیدبن ثابت (رض) په (۱۵) ورځو کې ژبه زده کړي وه په مسنداحمد کي راغلي دي، چې زیدبن ثابت (رض)ته رسول الله صلی الله علیه وسلم ) د سر یاني ژبې د زده کړې حکم کړی و او هغه دا ژبه هم زده کړي وه، ځکه په دواړو ژبو کي به ترجمان ته ضرورت پیدا کیده .
المسعودي لیکلي دي، چې زیدبن ثابت (رض) فارسي، رومي، قطبي او حبشي ژبي زده کړي وي ابن سعد (رح) لیکلي دي، چې په اووم هجري کال چې کوم شپږ تنه قاصدان لیږل شوي وو؛ نو هغوی ټولو د هغه قوم په ژبو چې ورته لیږل شوي و خبري کولای شوي.
**ز:– په نبوي دور کې د مملکت سفیران:**
د نړیوالو اړیکو د ټینګښت لپاره د دي اړتیا لیدل کیږي، چې پر هېواد له بل سره د اړیکو د جوړیدو لپاره او د مسایلو د حل لپاره خپل نمایندګان او سفیران نورو هېوادونو تـه ولیږي دا چې اسلامي ریاست یو فکري او په اصولو ولاړ ریاست دی؛ نو لـه دي لپـاره د سوچه مـادي غوښتنو پـه بنسټ ولاړ حکومت په مقابل کې اسلامي حکومت تـه د بهرنیو اړیکو د ټینګولو لپاره د سفیرانو او قاصدانو لیږلو ته زیاته اړتیا وه .
نبی کریم (صلی الله علیه وسلم ) د الله جل جلاله ) رسول و او د هغه فریضه وه، چې د توحید پیغام د عوامو پرته حکمرانانو او سردارونو ته هم ورسوي د دې مقصد ترلاسه کولو لپاره هغهٔ (صلی الله علیه وسلم) په ځانګړي توګه کسری او قیصرته سفیران لیږلي وو، چې هغوی د نبي کریم (ص) لیکونه

دې دواړو پاچاهانو ته ورسول، له دې پرته یې نورو بېلو بېلو ځایونو ته هم سفارتې استازې لېږلې وو.
ابن حزم (رح) د هغه لسو تنو یادونه کړې ده، چې هغوی د پیغمبر ص لیکونه لسو پاچاهانو ته ورکړي وو او له هغې ډلې څخه څلورو کسانو اسلام قبول کړو؛ خو ابن هشام (رح) د نهو کسانو د سفارتونو یادونه کړې ده، په دې هکله ابن سعد (رح) له ټولو نه زیات تفصیلات بیان کړي، هغه (۱۰۵) هغو وړو او لویو لیکونو یادونه کړې، چې دپاچاهانو د قبایلي مشرانو په نوم لیږل شوي وو.[1]

---

[1]: اد پیغمبر ص د لیکونو په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره د (د پیغمبر ص خواږه لیکونه) کتاب ولولئ، چې بشپړ لیکونه پکې چاپ شوي.
مومند خپرندویې ټولنې خپور کړی!!

**ج. په اسلام کې د سولې تړونونه:**

په اسلام کې د سولې تړونونه ډیر زیات دي؛ خو موږ له زیات تفصیل څخه تیریږو، د موضوع د روښانتیا لپاره یوازې د دوو تړونونو یادونه کوو.

۱. لومړی اسلامي تړون ((د مدینې منورې تړون))

په نړیوالو اړیکو کې یوه د یادونې وړ پېښه دا ده، چې محمد (ص) د مدینې منورې له ټولو اوسیدونکو سره چې هغوی کې مشرکین او یهود هم شامل وو یو تړون په خوښۍ سره لاسلیک کړو، چې په هغې کې زیات شرطونه وو چې ځینې مهم یې په لاندې ډول دي.

خو مخکې له دې چې د دې شرطونو یادونه وکړو، د دې خبرې یادونه کوو چې دې تړون دوه برخې لرلې.

یوه برخه یې د ملې داخلې حقوقو وه او دویمه برخه یې د بین المللي حقوقو او اړیکو پورې اړه لرله، هغه برخه چې د داخلې اړیکو پورې تړلې وه خپله د مسلمانانو اړیکې یې تنظیمولې او هغه برخه چې د بین المللي اړیکو پورې یې اړه درلوده، د مسلمانانو اړیکې یې د مشرکانو او یهودو او نورو قبایلو سره ترتیب او تنظیمولې اوس راځو د دې تړون د هغو مهمو ټکو یادونه کوو کومو چې د بین المللي اړیکو پورې اړه درلوده.

۱. د دې تړون ټول لاسلیک کوونکي غړي د یو واحد ګروپ حیثیت لري، چې ټول به یو له بله څخه حمایت کوي.

۲. د دې تړون هر لاسلیک کوونکی به له مدینې منورې څخه دفاع کوي.

۳. د دې تړون لاسلیک کوونکی مکلف دی، چې له مخالیفینو سره مرسته ونکړي.

۴. د مدینې منورې اوسیدونکي به یو د بل پر دین، مال او ځان تیری نه کوي.

۵. تر هغه وخته پورې به د مدينې منورې يهود د مسلمانانو متابعت کوي چې مسلمانان له هغوی څخه دفاع کوي او په يهودانو به د مسلمانانو لخوا ظلم نه کيږي .

**دويم:- د حديبې د سولې تړون**

د حديبې تړون د هجرت په شپږم کال هغه مهال لاسليک شو، کله چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم وغوښتل چې د عمرې د اداء کولو لپاره مکې معظمې ته لاړ شي؛ خو د مکې قريش د هغه مانع شول، چې په دې وخت کې په حديبيه نومي ځای کې نبی کريم صلی الله عليه وسلم او د مکې د قريشو ترمنځ يو تړون لاسليک شو، چې د اسلامي بين المللي اړيکو په تاريخ کې د حديبی د تړون په نوم ياديږي، د دې تړون شرايط په لاندې ډول دي.

١: مسلمانان به سږکال عمره نه کوي او په راتلونکې کال کې به عمره اداء کوي او مکې ته د داخليدو پرمهال له تورو پرته بله وسله ورسره نه وي، چې هغه به هم په پوښ کې وي او له درې ورځو به زيات په مکه کې نه پاتې کيږي .

٢. د قريشو او مسلمانانو ترمنځ به د سولې موده لس کاله وي او په دې موده کې به يو لورې هم په بل تيرې نکوي .

٣. د عربو هر يو قوم او قبيلې ته به واک حاصل وي، چې هغوی له هر چا سره چې وغواړي تړون وکړي په دې تړون کې پر شاملو قبايلو به هم د سولې شرايط تطبيقيږي.

۴. که له قريشو څخه کوم سړی د خپل ولي يا وکيل له اجازې پرته مسلمانانو ته ورشي؛ نو هغه به بيرته قريشو ته سپارل کيږي؛ خو که کوم مسلمان قريشو ته راځي؛ نو هغه به بيرته مسلمانانو ته نه سپارل کيږي .

## پنځم څپرکي

## د نړیوالو اړیکو په اړوند د علما و نظریات

د هر فن، مسلک او علم علماء د هماغه علم په اړه بېلابېل نظریات وړاندي کوي، چې له دې نظریاتو نه د نړیوالو اړیکو علم هم خالي نه دی د دي علم په اړه هم علماوو بېلابېل نظریات وړاندي کړي دي، چې موږ یې په ترتیب سره هر یو بېل بېل په لاندې ډول ترڅېړني لاندې نیسو

**د فسلفي او علم له نظره د نظریاتو ورکول**

د کنت والترا و مورتون کاپلان ترمنځ نانندري دا څرنګدوي چې د نړیوالو اړیکو په اړه د نظریاتو په ماهیت کې نظري یوالی وجود نلري

دا ډول د نظري اختلاف زده کوونکي او څېړونکي د نړیوالو اړیکو په هکله د نظریاتو د اعتبار په اړوند له بنستیزې پوښتنې سره مخامخ کوي، د بېلابېلو رشتو زده کوونکي حق لري، چې څرګندونو د اعتبار او دوام په هکله چې د هغوی په رشتي پوري اړه لري څېړک ووسي.

دي ډول پوښتنو ته باید معقول ځوابونه ورکړل شي دا ډول ابهام او ځواب ورکول د دي ایجاب کوي، چې د فلسفي اوعلم په اړه یو بحث ولرو.

په دې برخه کي باید لومړی وپوهیږو، چې د نظر دا اختلاف له کومه ځایه څخه سرچېنه اخلي؟

دویم داچې ترکومه حده بي پروایې د نظریاتو د ورکولو په اړه د نظریاتو دوام او اعتبار ته زیان رسوي؟

دریم داچې ایا اصولاً د نظریاتو د پیژندلو لپاره له پیله تر پایه کوم معیار وجود لري او کنه؟

فلسفه او علم موږ ته ښایي، چې ازمایښتي یا تجربوي علومو کې هغه څه چې مهم دي په مختلفو برخو کې د یوې نظریې تدوین دی؛ نو په دې اساس د نظریاتو د تدوین لپاره دوه مسئلې وجود لري.
په دې ځای کې دې، چې څېړونکي یې پیدا کوي، چې د پېژندنې له مختلفو حوزو سره مخ دي د پېژندنې پر څېنو حوزو باید د ایماني حوزو پښان باور ولري پداسې حال کې چې نورې حوزې باید د تمیز لاندې ونیسو د بحث لنډیز دا دی چې د دې ډول وېش بندي پایلې به څه وي؟
الن راین د بشر د پېژندلو مختلفې حوزې له نورو پېژندنکو سره په توپیر په درې ډولو وېشي.
۱. ابطال منونکې (فلسفي)
۲. نیمه ابطال منونکې (د پېژندنې طریقه)
۳.ابطال نه منونکې(عملي)
هغه څه چې د نوموړي او نورو پېژندل شوو پوهانو لپاره په دې دوره وروستیو پېړیو کې مطرح شوي او په دې وروستیو کې په ایران کې هم د خان لپاره ځای پیدا کړي د فسلفي بحث په دوو حوزو (انساني او طبعي) علومو کې دی.
دا بحث د روش پېژندنې له حوزې څخه تیر شوی او هڅه کوي، چې علمي پېژندنه د تمیز په اړوند د فلسفي یوه برخه وګرځوي، د دې نوې حوزې اساس هڅه دا دی، چې د علمي نظریاتو د ارزیابی لپاره معیارونه په ګوته کړي او د منطقي حوزې په پراخیدو سره د تجربوي نظر یاتو د ازمایښت لپاره نوې معیارونه رامنځته کړي.
فلسفي معیارونو د زیاتوالی په واسطه چې د یو ځانګړي فکري قالب د ارزیابی لپاره یو مقیاس وړاندې کوي د منطق او استدلال په وړاندې کولو

سره چې د ارزيابۍ او ازمايښت سره مرسته او همکاري کوي دا کار پخپله د دقيقو نظرياتو د پيژندلو لپاره يو مهم او اساسي ګام دی.

**د نړيوالو اړيکو په اړه د امپرياليزم نظريات**

د امپرياليزم نظريات له دوو اړخونو څخه څېړل کيږي کوهن د دغه نظريات په پخوانيو او نورو نظرياتو ويشلي دي او په ډير تعجب د دې پوښتنې لپاره خواب ويونکي دي، چې ولې امپرياليزم په ناڅاپي ډول په يو حيرانونکې پراختيا سره له نولسمې پيړۍ څخه راپديخوا د مختلفو ټولنو په سياسي اړيکو کې رامنځته شوي.

د کوهن پر ضد رينولدز د امپرياليزم مختلف اړخونه په څلورو بېلابېلو عنوانونو کې تحليل او تجزيه کوي.

١. د امپرياليزم د واک اړخ

٢. د امپرياليزم اقتصادي اړخ

٣. د امپرياليزم ټولنيز اړخ

۴.د امپرياليزم ايډيالوژيک اړخ.

رينولدز غواړي چې د څلورو مختلفو بحثونو په وسيله د امپرياليزم د پورتنيو څلور اړخونه په تاريخ او منطقي ارزښت تجزيه او تحليل کړي.

درينولدز پورتنۍ ويش په مفصل ډول څېړو.

**الف : د امپرياليزم د واک اړخ؛**

د دې نظري له مخې ټولې سياسي ټولني هڅه کوي، چې هغه ناامنيتی چې په داخل کې يې لري له منځه يوسي او د نظامي واک د زياتيدو په واسطه خپل خاتته د زيان د رسيدو مخنيوی وکړي.

د کوهن په نظر له ١٨٧٠ م کال څخه د مخه د اروپا پراختيا په خانګړي ډول او د نړۍ د هېوادونو نيول د دې لپاره وو، چې هغوی له بې امنيتی

ځخه په ویره کې وه د دې فکر ریښه باید د نړۍ د ریښتینو تاریخ لیکوونکو په لیکنو کې ووینو، لکه توسیدید، مورګانتا، شومان او نور.
د امپریالیزم نظریات د واک په اړه دا دي، چې ټول سیاسي واحدونه چې د اړتیا وړ منابع د امپریالیستي سیاستونو د سرته رسولو لپاره ولري امپریالیستې سیاست لپاره به اقدام وکړي، د دې امپریالیزم د اقدام محرک لکه څرنګه چې وویل شو، له بې امنیتۍ ځخه ویره وه، د دې نظریې په اساس امپریالیستي فشار د یو عقلاني او منطقي لحاظ نه غواړي د امپریالیستي سیاستونو په واسطه نړیواله امپراطوري جوړه کړي، بلکې د اقدام اصلي محرک امنیتي ویره ده، د مورګنتا په وینا چې د موجوده وضعي په بدلون کي رامنځته کیږي.
مهمه نقطه چې د یو عمومي عنوان په توګه مطرح کیږي دا ده چې امپریالیزم یوه مقطعي او تیریدونکي پدیده نه ده، بلکې د امنتي ویري د له منځه وړلو لپاره د یو سیاسي واحد اقدام دي خپله محرک د اقدام لپاره یو بل لوبغاړي آماده کوي، د دې بدلون په رامنځته کیدو سره یو باطل دور رامنځته کیږي، چې په هغې کې د یو هېواد امنیتي وضیعت د نورو لوبغاړو لخوا خرابیږي او امپریالیزم به د تاریخ په اوږدو کې د لوبغاړو د واک څرګندیدونکي وي د امپریالیزم د واک اړخ کولای شو په لنډ ډول په لاندې شکل واضح کړو.
مورګنتا د امپریالیزم محرکونه یواځې په امنیتي ویري پوري مربوط نه بولي د نوموړي په اند په جګړه کې بریالیتوب یا ماتې او نوري کمزورتیا هم کیدای شي، چې د امپریالیستي سیاست په پرمختګ کي بنستیز رول ولري.

د مورګنتا په اند امپریالیستي فعالیتونه یو له بل سره مستقیماً اړیکې لري، چې له سیمه ایزې برترۍ څخه پیل د براعظم (لوی وچې) په سطحه په اخري حد کې په نړیوالې امپراطورۍ پای مومي.

**ب: د امپریالیزم اقتصادي اړخ:-**

په عمومي ډول د اقتصادي امپریالیزم په اړخ بحثونه کولای شو د رینولدز د نظر له مخې یې په دوه برخو ویشو، چې یو یې ارادي او بل جبر یا زور له پلوه دی.

د ارادي پلویان عموماً غیرمارکسیستې او په سیاسي لحاظ پرمختللي لیبرالان ګڼل کیږي د زور پلویان عموماً د مارکسیزم د نظریاتو د تاثیر لاندې دي البته پخپله مارکس هیڅکله د امپریالیزم یادونه نه ده کړې اما په دې لحاظ چې ټول مارکسیستان په دې اصل چې اقتصاد زیربناء او په تحمیلي ما تریالیزم باور لري؛ نو په دې اساس دې ډول نظریو ته مارکسیستي نظریات وایې.

د دې دوه عواملو تاثیر تردې حده زیات دی، چې رینولدز په دې اړه وایې هر ډول بحث د اقتصادي امپریالیزم په اړه د مارکسیزم پهمحور څرخي د اقتصاد په اړخ د امپریالیزم د پیدا ایښت لپاره زمینه برابروي؛ نو په دې اساس د ارادي پلویان او د زور پلویان یو له بل سره واټن پیدا کوي.

د ارادي پلویان لکه هابسون باور لري، چې یو طرح توزیع (ویش) د سیاستونو په واسطه کولی شو، چې د کم مصرفۍ ستونزه د سرمایه دارۍ په سیستم کې حل کړو. په دې برخه کې هابسون د انسانی ارادي عامل ته اهمیت ورکوي او زور پلوه مارکسیستان د دې امله چې اراده یو زیربنایې امر بولي او په دې باور دي، چې دا ډول امر په سرمایه دارۍ کې شونی نه دی باید کمونیستې اقتصاد منځته راشي، چې یو نوې زیربناء د غیر

امپریالیستي او غیر استثماري اعمالو د برابرولو لپاره راوړي انسان یې د مسایلو په بدلون کې رول نه لري.

**ج : دامپریالیزم ټولنیز اړخ :-**

د هابسون او مارکسیستانو په نظر چې سرمایه داري اقتصاد د امپریالیزم د رامنځته کیدو اصلي عامل ګڼي ولي دوه اطریشي او امریکایې اقتصاد پوهان تورستین وبلن او جوزف شو مپیتر د امپریالیزم رامنځته کیدل د پخواني اقتصاي وضعیت پوري تړلي بولي، چې د هغې اثار د نیکونو او شرافو له لاري د سرمایه داری تر عصره پوري رارسیدلي دي.

وبلن د یوي عامي ځانګړتیا د پیدا کولو په لټه کې وو، چې د هغې پواسطه د انسانانو ټولنیز وضعیت وڅیړي هغه په ډیر دقت سره هغه کوله، چې د انسان د مفهوم له کارولو څخه ډډه وکړي، ځکه چې د نوموړي نظرته یې زیان رساوه.

هغه په ډیر دقت سره تاکید او ټینګار کاوه، چې د اطریقه د ټولنیز حالت د څیړلو لپاره یوه بهترینه طریقه ده

وبلن په یو بل کتاب کې چې د امپریالیزم د پیدا ښت د عواملو په اړه یې په کال ۱۹۳۲ م کې نوموړی په دې کتاب کې دولت د تجارانو او سوداګرو د کار ځای ګڼلی.

نوموړي په دې باور درلوده، چې د وطن پرستی او ملکیت احساس د عامه ګټي په نوم نه د شخصي ګټي په نوم یو میراث دی، چې د اشرفیت او دهقانی له دور څخه راپاتي دی او د عادت په واسطه د سرمایداری دور ته رانقل شوی دی د وطن پرستی او بندګی ځانګرتیاوي د استثمار په دورو پوري تړاو لري اما کله چې د سوداګری پر ځای نظامي ګټو بدلوي د وبلن په فکر کې مهم ټکي دا دي، چې د امپریالیزم سرنوشت له پنا کیدو سره مخ

کېدونکې دی. د المان په اړه نوموړي هېواد د جګړې د رامنځته کېدو له خطر سره مخ کړي.

نوموړي مخکې وړاندوینه کړې وه، که چېرې الماني سوداګر د موروثي خانخانۍ څخه خان خلاص نه کړي؛ نو الماني امپریالیزم په المان کوم ځانګړي ځای ته ونه رسوي.

ژوزف شو مپیټر په خپلې اوږدې مقالې کې چې د کتاب په بڼه د لومړي ځل لپاره په چاپ ورسیده په اقتصادي امپریالیزم کې یې د زور په پلویانو نیوکه کړې، نوموړی یادونه کوي، چې د دې ترڅنګ د امپریالیزم اقتصادي اړخ یو قوي وسیله د تجزې او تحلیل لپاره موږ ته راکوي ولې باید په یادو ولرو، چې مشترکه لامل او احساس په سیاسي تفکر کې د نوموړي زما لپاره د تولید یو معادل نه ورکوي.

نو په دې اساس شومپیټر د امپریالیزم د تعریف جوړښت ته اړتیا لري د نوموړي په نظر په ټولو انواعو کې د تیز روش خصلت د امپریالیزم په تعریف او پېژندنه کې یو ډول ربښتیني همکاري کولای شي د امپریالیزم د اصطلاح کارول د ظلم او جبر ادعاء ته اړتیا لري.

دا مسئله په یوه تیروتنې سره نشي حل کیدای، بلکې یوه عامه مسئله ده البته زور او ظلم د یوې ژر تیرندونکې موضوع په شکل نشي مطرح کیدای او دا ډول زور په نړیواله سطحه کوم ځانګړی هدف نه دی.

شومپیټر وایې چې امپریالیزم د قهرجنې پراختیا لپاره د هېوادونو یو بې هدفه تمائل دی.

د بې هدفه تمایل مانا دا ده، چې شومپیټر د انسان د عادت منونکې طبیعت او امپریالیزم ترمنځ اړیکې پیدا کړې، په دې هدف نوموړي له زور څخه د کې رویې ته ځان رسوي.

د نوموړي نظریات او بحثونه د مارکسیزم د نظریاتو په ایجاد کې ارایه شوي دي په دې اساس زور او جبر یو ډول داخلي کړنه ده، چې د کمو منابعو د لاسته راوړلو لپاره منځته راوځي .
د دې نظریې پر اساس امپریالیزم یو ځانګړی اقتصادي نظام نه، بلکې یوه پدیده، چې په ځانګړي ډول د انسان د اړتیاوو د لري کولو لپاره د ځانګړو محیطي غوښتنو په وسیله رامنځ ته شوي فعالیږي .
په دې نظریه کې دري مهم او اساسي مفهومونه وجود لري، چې عبارت دي له:

١. د نیک خوي او عادت لرونکي رویه .

٢. زوراو تیزه رویه

٣.د پاتي کیدو موضوع .

**د:– د امپریالیزم د ایډیالوژۍ اړخ :**

د اروپا تاریخي تجربه چې د دریوایډیالوژیکو نظامونو کلیسایې، فاشتي او مارکسیتي چې هر یو په خپل ځای کې په ملي او همدارنګه په نړیواله سَطحه د امپریالیستي سیاست او سیاسي توتالیتري رژیمونو رامنځته کیدو موسسین دي .
او د امپریالیزم ایډیالوژیک اړخ ته یې قوت او توان ورکړ؛ نوموړو بدلونو د غربي متفکرینو په ذهنونو کې دا مفکوره منځته راوړي، چې په هر ایډیالوژیک سیاسي رژیم کې د توتالیتر د سیاسي رژیم له لاري د امپریالیستي تمایل یوه نوع نغښتي ده دا ډول ایډیالوژي ګاني د ذهني یوالي او انقلابي تمایل نسبت د موجوده وضیعت بدلون ته میلان لري .
د ایډیالوژۍ مفهوم د منفي او مثبتبار ارزښت ځانته غوره کړي دی ولي د تل لپاره د یو ځانګړي عملي اقدام سره یو ځای وي، د سیاسي علومو د

پرهنګ د مولفینو په وینا د ایدیالوژۍ اصطلاح د لومړي ځل لپاره د فرانسې د انقلاب د وخت د یو فیلسوف د ستور د یوې وسیلې په حیث وکارول شو.

نومورې دا اصطلاح د نظریاتو د علم لپاره وکاروله، د نومورې په اند ایدیالوژي د مسولیت او ماموریت سره تړلی علم دی.

د شلمې پیړۍ له پیل څخه راپدیخوا د ایدیالوژۍ اصطلاح په پراخ ډول د فکري او فلسفي نظامونو انواعو اقسامو ته چې دهغې له جملې مذهب چې فرد په ځانګړي ډول د مسایلو په وړاندې د یوځانګړي دریځ غوره کولو ته مجبوروي.

د کارل مانهایم په نظر ایدیالوژي یو تړلی پوښ دی، چې په طبعي ډول پیښې پوښي، چې د هغو ماهیت په ښه توګه تغیر ورکړي.

د مورګنتا نظر دا ډول پوښ د امپریالیستي سیاستونو او اقداماتو دردلو لپاره چې د موجوده وضیعت خرابونکي دي وجود لري.

په دې تعریفونو کې د امپریالیستي ایدیالوژي ګانو لوري ته د تمایل هیڅ یادونه نه ده شوې ځینې نظریه ورکوي د ایدیالوژیکو سیاسي نظامونو او امپریالیزم تر منځ کوم ځانګړي تکر نه وینې د مفهوم په لحاظ اینګرسول باوري دی، چې د ایدیالوژۍ په یو ښاخ کې یوه عمده او اساسي ارزو د محیط او فضا د بدلون لپاره نغښتې ده، په دې اساس ایدیالوژي خپل پیروان د دې وضعیت د بدلون لوري ته دعوتوي په دې اساس د ایدیالوژۍ په تعریف کې د موجوده وضعیت د بدلون تمایل موجود دی له بل پلوه ایدیالوژي د تصور جوړولو په واسطه د خپلو پیروانو غوښتنه کوي، چې د موجوده وضعي د بدلون لپاره اقدام وکړي.

مارکسس د فلسفي او ایډیالوژۍ تر منځ له تو پیر څخه خورا په وضاحت یادونه کوي.

(فلاسفه وو د دنیا په بدلون اکتفاء وکړه ولې مهم ټکې دا دی چې څرنګه کولی شو، هغې ته بدلون ورکړو)

د بدلون له خانګړتیا څخه پرته اینګرسول تینګار کوي، چې د ایډیالوګ اصلي محور په اقدام او عمل څرخیږي ایډیالوګ هڅه کوي، چې د انقلاب په واسطه د مناسبو وسایلو څخه په ګټه اخیستنې موجود نظام ته بدلون ورکړي او نوي طرحه رامنځته کړي. هغه دلایل چې ایډیالوګ اقدام کولو ته اړ باسي ډیر زیات دي له هر څه څخه لومړی ډیره زیاته خوشبیني ایډیالوګ او د هغه پیروان د هر ډول بدلون امکان ته هیله من کوي. د همدې خوشبیني زیاتوالي د خلکو په منځ کې د سیاسي پوهاوي لامل ګرځي او د موجود وضعیت په بدلون کې د هغوی مستقیم ګډون لامل ګرځي، د ایډیالوژۍ دریمه خانګړتیا دا ده، چې په اساني سره د ایمان او عقیدې پیروان د خای پر ځای کیدنې د عنوان په نوم د خلکو له فکر څخه ګټه اخلي او د هغوی بشپړ باور د ایډیالوژۍ لوژي ته جلبوي.

که چېرې څوک په منطقي ډول د نظریاتو نظام درک نشي کړای ولې د هغه سره د وفادارۍ اعلان وکړي طبعي ده چې نشي کولی، چې په نوموړي نظام کې موجوده نیمګړتیاوې او ستونزې درک کړي.

بشپړ باور د یوې ایډیالوژۍ په اعتبار که هر څومره نیمګړې هم وي شخص د هر ډول اقدام د سرته رسولو لپاره، چې د نوموړې د بریالیتوب لپاره ضروري وي مجبور وي.

**هـ: د تړاو نظریه**

په لوړه سطحه د تشریح او څیړنې څخه د وخت په اوږدو کې یو نوی تفکر پیدا شو، چې د تړاو د نظریې په نوم یاد شو دا نظریه د لومړي ځل لپاره په ۱۹۲۷ م کال کې د اندرگوند فرانک له خوا مطرح شوه، د دېنظریې گټه دا ده، چې په شمال کې د سرمایه دارۍ یا پانگه والو هېوادونو د پرمختګ لړۍ او د جنوب د هېوادونو وروسته پاتي والي یو له بل سره یو ډول اقتصادي اړیکو د رامنځته کېدو سره تړاو پیدا کوي، چې د هغې په غوښتنه د یو لوري د پرمختګ او د بل لوري د وروسته پاتي والي عوامل څېړل کېږي.

دا نظریه په حقیقت کې د واکمنۍ او سلطې میندلو یو نوع وړاندې کوي د امپریالیزم له نظریې سره ډېر لږ توپیر لري. که څههم د تړاو مکتب له مارکسیزم څخه سرچینه اخلي ولې د مارکس نظریات د کورنیو او نړیوالو بدلونو نو لپاره کافي نه بولي، ځکه چې مارکس د پانگه والو هېوادونو په کورنیو بدلونو ډېرتینگار کاوه له دې امله د امپریالیستۍ او تړاو د ښوونیځو بحثونو د نوموړي د پاملرنې وړ نه وو اما وروستیو متفکرینو د نوموړي له اثارو څخه په گټې اخستلو دا بحث کاوه. کورنیو بدلونو څېړلو ترڅنگ د نړیوالو بدلو نو تر څېړلو پورې پراخ کړ.

د امپریالیزم او مارکسیزم فکرونه د تړاو د ښوونځي متفکرین په دې باور دي، چې د وروسته پاتي هېوادونودپرمختګ لړۍ دپرمختللي هېوادونو د پرمختګ له لړۍ سره توپیر لري.

اما پرعکس د مارکس استدلال دا وو، چې هغه هېوادونه چې د اقتصاد له نگاه څخه د نورو هېوادونو په نسبت پرمختللي دي د نوموړي هېوادونو راتلونکي څرگندوي.

لینن او له هغه څخه وروسته د تړاو د نظریې نورو متفکرینو له نوموړي څخه په الهام اخستلو استدلال کاوه، چې د وروسته پاتې هېوادونو د وروسته پاتې والي اصلي علت دا دی، چې هغوی نشي کولی، چې د پانګه والو هېوادونو په خیر چټک پرمختګ وکړي دوی په دې باور وو، چې د مرکزي هېوادونو له خوا د نړیوالو اقتصادي اړیکو تنظیمول د څنډې د هېوادونو د اقتصاد د مشروط کیدو لامل ګرځي په عام ډول د نړۍ هېوادونه د تړاو په یو ځانګړي دور کې یو له بل سره پیوستون مومي او دوه ډوله هېوادونه منځته راوړي.

او هغه څه چې دغه دوه ډوله هېوادونه یو له بله سره یو ځای کیدو هغه تړاو دی.

د یوهېواد د داخلي حالاتو مشروط کیدل د بل هېواد په نسبت نشو کولی چې انتظار وکړو، چې د مرکزي هېوادونو بدلونونه د څنډې په هېوادونو کې تکرار نشي په لوړه سطحه تړاو د مرکزي هېوادونو له کورنیو بدلونونو څخه رامنځته شوي، ولې کله چې په ازاده توګه په بهرني سیاست کې ځان څرګندوي د دوه ډوله بهرنیو سیاستونو لامل ګرځوي.

په دې وخت کې مرکز په استثمار او له نورو هېوادونو څخه په ګټې اخستلو لاس پورې کوي که څه هم دا ډول اړیکې ډیرې قوي هم وي.

د تړاو نظریه په عمومي ډول مقایسوي او جوړوني د سیاست په برخو کې مطالعه کیږي، آما د نړیوالو اړیکو په اړه د نظریاتو ورکولو د څنډې د هېوادونو او مرکزي هېوادونو تر منځ د اړیکو په اساس څیړل کیږي، په داسې حال کې چې تړاو په یوې اجتماعي ګروپ بندۍ پورې ارتباط پیدا کوي، چې د هغوی اقتصادي ټولنیز او سیاسي جوړښت د مختلفو ټولنیزو جوړښتونو پایله ده په هغه صورت کې چې د مقابل لوري ګروپ بندي د

قدرت درلودونکې وي د تراو او د تعریفونو له یو څا یوالې څخه کولی شو چې هغه په دوه تعریفونو کې خلاصه کړو له یو لوري خپلو نظر په ورکوونکو د هیوادونو کورني محیط بې له نظره غورځولې او یواځې یې دوه بهرنیو لویغاړو ترمنځ اړیکې په پام کې نیولې دي.

له بل لوري یو شمیر نظریه ورکونکو یواځې د بهرنیو لویغاړو ترمینځ په اړیکو اکتفاء نه ده کړې او په دې باور دي، چې استثماري نظر د یو هېواد دننه منخته راغلې او تر هغه وروسته یې نړیوال شکل غوره کړی دی د لومړي ډلې مشري (سلسور فورتادو) په غاړه لري د لاتیني امریکا د اقتصادي اړیکو په اړوند نوموړی باور لري، چې د دې هېوادونو ترمنځ د راکړې ورکړې شکل د هغوی د نړیوالو اقتصادي اړیکو ترمنځ پر مختګ مونډلی دی.

پرته له دې د نړیوالو سیاسي او اقتصادي قطبونو جوړېدل، چې د نړیوالو د سرمایې د انتقال دنده پر غاړه لري بل څه نه دي.

## شپږم څپرکی
## د نړیوالو اړیکو د مطالعې ارزښت

په اوسني وخت کې د نړیوالو اړیکو ارزښت ډیر زیات شوی دی، د هغې علت دا دی، چې نن ورځ نړۍ د یو کلي حیثیت غوره کړی دی او نړۍ د (Globalization) اړخته روانه ده.

د ساینس او تکنالوژۍ پرمختګ نن ورځ فاصلې له منځه وړي او د ترانسپورت وسایل دومره زیات او تیز دي، چې انسانان د میاشتو او کلونو سفرونه په ورځو او ساعتونو کې طې کوي، همدا راز مواصلاتي وسایل دومره سریع او ګړندي شوي، چې په دقیقو او ساعتونو کې د نړۍ د یو ګوټ خبر او احوال د نړۍ بل ګوټ ته رسیږي او د یو انسان اواز او تصویر په څو لمحو کې په ټوله نړۍ کې خپریدای شي.

دغه پرمختګونو له امله که د یوې خوا د دولتونو ترمنځ د عناد او جنګ پرستۍ جذبه راپاریدلې ده، ولې د بلې خوا یې د دولتونو ترمنځ د مرستې او ملګرتیا فضا جوړه کړې ده؛ ځکه چې نن ورځ د نړۍ د افرادو تقاضاوې او غوښتنې سره یو شان شوي دي او د ژوند په ټولو اړخونو کې انسانانو پرمختګ کړی دی، چې په همدې اساس نن ورځ یو هېواد له بل هېواد څخه جلا نشي پاتې کیدای.

په شلم قرن کې موږ د دوه نړیوالو او عالمي جنګونو ګواهان یو کوم جنګ کې چې په میلونونو انسانان و وژل شول او د ملیاردونو روپیو تاوان وشو چې د دغه ټولو ورانیو او بدبختیو مسولیت خپله د انسان په غاړه دی، د دې جنګونو، تباهیو او ورانکاریو له امله د بین المللي اړیکو ارزښت نور هم زیات شوي؛ خو بیا هم نړۍ کې تشنج او ګډوډې مسلسله روا نه ده او د

ملګرو ملتونو سازمان هم د لویو قدرتونو تر ولکې لاندې راغلې دې د کوم له امله چې د دولتونو د مساوي حیثیت اصل هم په نړیواله سطحه تر پښتونو لاندې شوی، چې د دولتونو د مساوي حیثیت د اصل د حصول لپاره خپله بهرنۍ پالیسي له نړیوالو غوښتنو سره سمه عیاره کړو، د دې لپاره چې د نړیوالو اړیکو په ارزښت ښه پوه شو لاندې څو عناوین د نړیوالو اړیکو د ارزښت په اړه په ترتیب سره تر څېړنې لاندې نیسو .

**الف: د نړیوالو اړیکو د مطالعې ارزښت د نړیوالې ټولنې له حیثه:**

دا چې نن ورځ نړۍ د یوې ټولنې یا کلي حیثیت خپل کړی دی؛ نو پکار ده چې موږ د دغه کورنۍ ګټو د حصول لپاره ډیر زیار او تکلیف وګالو او د ټولو هغه عواملو مخنیوی یې وکړو کوم چې د دغې ټولنې د ګډوډۍ لامل ګرځي؛ ځکه چې پدغه ټولنه کې نن ورځ د ټول بشریت او انسانیت د ژوند خبره مطرح ده؛ نو ټولو دولتونو ته پکار ده، چې داسې طرزالعمل خپل کړي، چې د نړیوالو ګټو ښکارندوی وي، چې په دې لحاظ د نړیوالو اړیکو مطالعې ته ډیر ارزښت ورکړ شوی دی، د ترڅو دغه نړیواله ټولنه وپیژندل شي او د هغه لپاره کار وشي .

**ب : د لویو قدرتونو بهرنۍ پالیسۍ د مطالعې له حیثه :**

د لویو قدرتونو د بهرنۍ پالیسۍ مطالعه هم د نړیوالو اړیکو د مطالعې په ډله کې شامله ده، چې په هغې کې د قدرت حصول او د دولتونو ګټې دواړه شاملې دي، چې ملي ګټې دولتونه مجبوروي، چې له نورو دولتونو سره اړیکې جوړې کړای شي.

د دولتونو ملي منافع د وخت له شرایطو سره سم بدلېږي، چې د هغې له امله د دولتونو بهرنۍ پالیسي هم تغیر کوي؛ نو د دې قدرتونو د بهرنیو پالیسیو د مطالعې لپاره ضروري ده، چې موږ بین المللي اړیکې وپیژنو

چې څرنګه باید ایجاد شي او د کوم عامل په اساس بین المللي اړیکه ایجادیږي.

**ج : د نننۍ نړیوالو بحراني حالاتو حیثه :**

داچې نننۍ نړۍ دبحرانونو نړۍ ده او هرلورته د جنګ بازار ګرم دی او پر هر هېواد او ملت جنګ تپل شوی ستر قدرتونو لکه د امریکا، شوروي، انګلستان، فرانسه او نور. د تباکوونکو اتومي وسلو لرونکي دي او په مستقیم او یا نامستقیم ډول په نورو دولتونو جنګ تپي او یایي د تهدید او فشار لاندې نیسي او ورته مختلف بحرانونه او ستونزې پیدا کوي، چې په دې حالتو کې د نړیوال سیاست یو اهم مقصد د دغه ټولو بحرانو او عواملو جاج اخستل او تجزیه کول دي، چې باید مطالعه شي چې په همدې لحاظ د نړیوالو اړیکو مطالعه د فرد او هېواد د سلامتۍ او نجات ضامن کیدا شي

**د : د ملي قدرت د زیاتوالي له حیثه :**

هر دولت هڅه کوي، چې خپل ملي قدرت کې زیاتوالی راولي او بیا د خپل قدرت موازنه له لویو قدرتونو سره کوي، چې د همدغه ملي قدرت د زیاتوالي لپاره اړینه ده، چې د مقابل لوري ملی قدرت او زور معلوم کړای شي، چې د نړیوالو اړیکو د مطالعي په اساس د دولتونو ملي قدرت او خواک معلومیدای شي.

**هـ : د مختلفو حکومتي سیستمونو دمطالعي له حیثه :**

د نړیوالو اړیکو د مطالعي ارزښت له دې ځایه معلومیدای شي، چې د نړۍ د مختلفو ملتونو د نظریاتو، اساسي قوانینو، اقتصادی او ټولنیزو نظامونو په اړه معلومات راټول شي، چې دغه معلومات د بین امللي اړیکو په اساس کیدای شي، چې وروسته پاتي هېوادونه د همدغو بین المللي اړیکو د مطالعي په اساس کولای شي خپل اقتصادي، ټولنیز او سیاسي

نظامونه له پر مختللو دولتونو سره مقایسه کړي، د هغه مثبت نقاط رااخول او خپل کړي او عملي جامه ور واغوندي او له منفي نقاطو څخه یې ځان وساتي.

**و : د بشري حقوقو د پیژندلو له حیثه :**

د بین المللي اړیکو د مطالعي په اساس کولی شو، چې موږ د بشر حقوقو وپیژنو او کولی شو، چې له لویو قدرتونو څخه د وروسته پاتي هېوادونو هغه حقوق چې دوی غصب کړي دي پوښتنه وکړو دلته باید یوې خبرې ته پوره پاملرنه وکړو، چې د اسلام دین یواځینی دین دی، چې بشر ته په لوړو او اوچتو حقوقو قایل دی او کوم حقوق چې اسلام بشریت ته په نظر کې نیولي هیڅ بل دین او مذهب نه دي نیولي.

که څه هم د بشر د حقوقو درواغجن غربي علمبرداران له دویم نړیوال جنګ ۱۹۳۹-۱۹۴۵ م څخه وروسته د بشر د حقونو په چارتر(منشور) جوړولو موافق شول ولي اسلام د بشر د حقونو (۱۴۰۰) کلن منشور لري کوم چې د انساني ژوند تر اخري ورځي پوري د انسان د ظروفو، حالاتو او شرایطو په نظر کې نیولو سره تطبیق او دعملي کیدو وړ دي.

**ز: د بین المللي حقوقي شخصیتونو د پیژندلو له حیثه :**

د نړیوالو اړیکو دمطالعي په اساس کولي شو، چې د نړۍ له هر ګود او کنار څخه د دولتونو په هکله معلومات حاصل کړو او دهغي د اهمیت په هکله وپوهیږو، همدارنګه دنړیوالو اړیکو د مطالعي په واسطه کولی شو نړیوال سازمانونه هم وپیژنو.

### ح: د نړیوالو اړیکو د علم د ځانګړتیاو له حیثه

د نړیوالو اړیکو د علم د مهمو ځانګړتیاوو څخه یو دا ده، چې هغه د نورو ټولنیزو علومو لکه حقوق او اقتصاد غوندې یو د مثبت او دقیقو علومو له جملې څخه نه دي کوم ته چې (Exact sciences) ویل کیږي، یانې نشو کولي په دې علم پوري تړلې مسایل په دقیق ډول محاسبه کړو اویا د هغې (۱۰۰%) فیصده سمه وړاندوینه وکړو.

یو شمیر خلک په دې عقیده دي، چې اړیکو علم د مسایلو په تحلیل او تجزیه کې نورو علومو لکه، سیاست، اقتصاد، تاریخ، جغرافیه، سوشولوژي، سیکالوژي او حقوقو ته محتاج دي؛ نو په دې اساس ورته یو مستقل علم نشو ویلای. البته د حقوقو له بین الملل سره د نوموړي علم (نړیوالو اړیکو) د توپیر په هکله باید ووایو، چې په نننی جامعه او ټولنه کې حقوق د سیاست د یو نانځکي حیثیت غوره کړی او سیاستونه په حقوقو حاکم دي، په دې اړه (کوینسي رایټ quinc right) وایې چې (بین المللی حقوق تل د بین المللي سیاست تابع وي) نو ویلای شو، چې بین المللي حقوق او بین المللي اړیکې له مختلفو سطحو او زاویو څخه مطالعه کیږي، په دې مانا چې د بین المللي حقوقو هدف دا دی چې.

هېوادونه ترکومه حده پوري د مقرراتو او ضوابطوتابع دي په داسې حال کې چې بین المللي اړیکې هغه څه چې په نړیواله سطحه واقع کیږي، هغه مطالعه کوي او له دې سره سروکار نلري، چې دا پېښې د مقرارتو او ضوابطو مطابق دي او کنه!

یا په بل عبارت بین المللي اړیکې دا راښایې چې نړیوال د خپلو اړیکو لپاره څرنګه عمل کوي نه دا چې څرنګه عمل باید وکړي!

بین المللي اړیکې د ملتونو او دولتونو له وجود سره یو ځای مینځته راغلې او د زرګونو کلونو راهیسې یې خلک پیژني او مطالعه یې کوي خو د یو اکاډمیک ډسپلین په چوکاټ کې کم وزیات له یو قرن څخه راپدیخوا د یوې مستقلې علمي رشتې په حیث مطالعه کیږي.
د یادونې وړده، چې دلوموړي خل لپاره په (۱۹۱۹) م کال د انګلستان د (ولز) په پوهنتون کې د یوې علمي او پوهنتون په حیث د حقوقو او سیاسي علومو دپ وهنځي د مضامینو په قطار کې د هغې په تدریس پیل وشو او له دې نه وروسته یې د اروپا نورو پوهنتونونو ته سرایت وکړ او له هغې نه وروسته د نړۍ په ټولو پوهنتونونو کې دحقوقو اوسیاسي علومو په پوهنځیو کې د یو نصابي مضمون په حیث لوستل کیږي.

## اووم ضمیمه
## د ملل متحد ځانګړې سازمانونه

| شمېره | نوم | مرکز | رئیس | د تاسیس نیټه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | FAO | روم ، ایټالیا | Jacques Diouf | ۱۹۴۵ |
| ۲ | IAEA | ویانا ، آستریا | Yukiua Amano | ۹۱۵۷ |
| ۳ | ICAO | مونټریال ، کاناډا | Raymond benjamian | ۱۹۴۷ |
| ۴ | IFAD | روم ، ایټالیا | Kanayo F. Nwanze | ۱۹۷۷ |
| ۵ | ILO | جینوا ، سویتزرلینډ | Juan somavia | (۱۹۱۹)، ۱۹۴۶ |
| ۶ | IMO | لندن ، برطانیه | Efthimios f Mitropoulos | ۱۹۴۸ |
| ۷ | IMF | واشنګټن ، امریکا | Dominique strauss kahan | (۱۹۴۴)، ۱۹۴۵ |
| ۸ | ITO | جینوا ، سویتزرلینډ | Hanadiyb oure | (۱۸۶۵)، ۱۹۴۷ |
| ۹ | UNESCO | پاریس ، فرانسه | Irina Bokova | ۱۹۴۶ |
| ۱۰ | UNIDO | ویانا ، آستریا | Kandeh yamkella | ۱۹۶۷ |
| ۱۱ | UPU | برن، سویتزرلینډ | Edouard dayan | ۱۹۴۷ |
| ۱۲ | WB | واشنګټن ، امیریکا | Robert B.Zollick | ۱۹۴۵ |
| ۱۳ | WFP | روم، ایټالیا | Josettel sheeran | ۱۹۶۳ |
| ۱۴ | WHP | جینوا ،سویتزرلینډ | Margaret chan | ۱۹۴۸ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | WIPO | جینوا ، سویتزرلینډ | Francis Gurry | ۱۹۷۴ |
| ۱۶ | WMO | جینوا ، سویتزرلینډ | Alexander Bedritsky | ۱۹۵۰ |
| ۱۷ | UNWTO | مادرید ، هسپانیا | Taleb Rifai | ۱۹۷۴ |

**د خوړو او کرنې سازمان Food and Agriculture Organization**

دا د ملل متحد متخصصې سازمان دی، چې په نړیواله سطحه د لوږې پر وړاندې مبارزه کوي او د مترقي او مخ پر وده دواړه ډوله دولتونو لپاره فعالیتونه تر سره کوي. د خوړو او کرنې سازمان د یو بې طرفه تریبون په توګه رول لوبوي، چېرته چې ټول ملتونه په مساوي ډول په موافقتنامو او پالیسیو بحث کوي، د خوړو او کرنې سازمان د علم او معلوماتو وسیله هم ده، چې له مخ پر وده هېوادونو سره د پرمختګ او د زراعت، ځنګل پوهنې، د ښې غذايي تغزیې، دخوراک تحفظ او د کب روزنې او نیونې په برخه کې ډېر کومکونه او لارښوونې کوي. د ۸ اګست۲۰۰۸ کال راهسې دا سازمان ۱۹۱ غړي لري، چې د اروپا اتحادیه او د Faroe ټاپو په کې شامل دي.

د دې سازمانهوډ دا وو، چې په نړیواله سطحه د زراعت او خوراک څارنه وشي. په مې او جون۱۹۰۵ کال کې په روم کې یو کانفرانس دایر شو، چې نتیجتاً «بین المللي زراعتي مؤسسه» رامنځته شوه. دا موسسې د دویم نړیوال جنګ په دورانکې له منځه لاړه او په ۲۷ د فروری ۱۹۴۸ د دې ټول

فعالیتونه او عملونه نوي تاسیس شوي د خوړو او کرنې سازمان ته انتقال وموند

**د نړیوال اتومي انرژۍ اژانس International Atomic Energy Agency**

دا یو نړیوال سازمان دی د اتومي انرژۍ د پرامنه استعمالولو خواست او غوښتنه کوي او هم د اتومي انرژۍ د نظامي دندو ترسره کولو لپاره او یا د اتومي وسلو استعمال لپاره، له دې څخه مخنیوی کوي. دا سازمان د یو خپلواک سازمان په توګه په۲۹ د جولای ۱۹۵۷ کال کې رامنځته شو. د خپلواکۍ له امله بیا هم دا سازمان د خپل منشور او تړون په اساس خپل راپور او ملاحظات عمومي اسامبلې او د امنیت شورا ته تسلیموي دا سازماندوه ساحوي ملاتړې دفترونه لري، چې په تورنتهو او تناریو، کاناډا او د جاپان په توکیو کې موقیعت لري او دوه نور دفترونهلري، چې په نیویارک ښار او جینوا، سویتزرلینډ کې واقع دي.
له دې پرته دا درې لابراتواره هم لري چې په ویانا، زیبرزر دورف، استرلیا او په مونوکو کې واقع دي. دا د بین الدولتي تریبونپه توګه د اتومي تیکنالوژۍ او اتومي قدرت د پرامنه استعمال تخنیکي همکارۍ او ساینسي مرستې ترسره کوي.
دا هڅه دي ته تشویقوي چې اتومي انرژي په نړیواله سطحه په پرامنه ډول استعمال شي او د اتو مي انرژۍ ساتنې او د اتومي ساتنې معیارونو تطبیق تینګار کوي.

**د ملکي هوانوردۍ نړیوال سازمان**

**International civil aviation Organization (ICAO)**

دا د ملل متحد یو متخصصسازمان دی، چې د نړیوال هوایي رفت آمد پرنسیپونه او تخنیک را په ګوته کوي.له دې پرته د بین المللي هوایي تګ راتګ پلانجوړونې او انکشاف ته وده ورکوي له دې لپاره چې د حفاظت ډاډ تر لاسه شي.

د دې مرکزونه په مونتیریال، کیوبک او کاناډا کې موقیعت لري.

د هوایي تګ راتګ لپاره د ملکي هوانوردۍ نړیوال سازمانمعیارونه او بهتر تمرینونه انتخابوي. دا د هوایي ساختمان ، د پرواز پلټنه، ناقانوني مداخله او د خط سیر لاربنونه له دې تولو امورو څخه بحث کوي او نظارت پرې ساتي.

دا سازمان په ۱۹۴۷ کې رامنځته شوی وو هر بین المللي پرواز نن سبا د (ICAO)په معلومات معیارونو، سهولتونو اوخدماتو باندې انحصار کوي.

**د زراعتي انکشاف بین المللي صندوق**

**International fund for agricultural Development (IFAD)**

د ملل متحد متخصصیسازمان د بین المللي مالي سازمان په توګه په کال ۱۹۷۷کې تاسیس شو، چې دا د کال۱۹۷۴ د نړیوال غذایي کانفرانس پایله وه(IFAD) مخ پر ودې هېوادونو کې د غربت ختمولو او کمولو دنده لري. د نړۍ ۷۵ فیصده غریب خلک په بناري ساحو کې ژوند کوي او تر اوسه پورې ۴ فیصده د رسمي انکشاف مرسته زراعت ته ځي.د دې سازمانعمده هدف دمخ پر وده هېوادونو د ښځو او نرینه و تقویه کول دي، چې هغوی وکولای شي، چې دبهره ګټیه لاسته راوړي او خپل زراعت او خوراک ته انکشاف ورکړي.

**د کار نړیوال سازمان (international labor Organization( ILO**

دا د ملل متحد خانګړی سازمان دی، چې د کار مسایل مطرح او د بحث لاندې نیسي، د دې مرکز په Geneva, Switzerland کې دی. د دې سکرتریت د کوم په واسطه چې خلک په نړیواله سطحه په کارونو مؤظف کیږي «د کار نړیوال دفتر» «International Labour Office» په نوم یادیږي-دا سازمان په کال (۱۹۱۹)، ۱۹۹۲ کې تاسیس شوی دی سازمانته په ۱۹۶۹ کې د نوبل د سولې جایزه هم ورکول شوه.

**د سمندر یا بحر نړیوال سازمان**

**International Maritime Organization(IMO)**

دې سازمان ته په رسمي ډول (د بحر پین الحکومتي مشورتیسازمان) International Maritime Consultative Organization) هم وایي دا په کال ۱۹۴۸ کې په جینوا کې تاسیس شو او لس کاله وروسته یې په کار پیل وکړاو په لومړي ځل په کال ۱۹۵۹ کې غونډه وکړه دا د ملل متحد خانګړی سازمان دی او ۱۶۹ غړی لري، د دې سازمان هدف د بحري یا سمندري کشتیو د تګ راتګ تحفظحقوقي مسایل محیطي مسئلې او تخنکیي همکاریو ته انکشاف ورکول او پراخول دي.

**د پیسو نړیوال صندوق (International Monetary Fund (IMF**

دا یو بین الحکومتي سازمان دی، چې د لوی اقتصادي پالیسیو په واسطه دنړیوال مالي سیستم نظارت او څارنه کوي.

دا سازمان یو ثابت هدف لري د بین المللي اسعارو د ادلون بدلون بیعه متعدله وساتي او دازادانه اقتصادي پالیسیو د اجراء په واسطه د اسعارو ادلون بدلون ته انکشاف هم ورکړي.

دا سازمان غریبو هېوادونو ته دقرض ورکولو او کومک کولو په هکله پوره همکاري کوي دا سازمان په جولای ۱۹۴۴ کې جوړ شو او ۴۵ غړي درلود او خپل اصل شکل یې د سمبر ۱۹۴۵ کې غوره کړه، کله چې د ۲۹ هېوادونولخوا توافقنامه لاسلیک شوه.

**د مخابراتو نړیواله اتحادیه** **International Telecommunication Union (ITU)**

دا د ملل متحد یو آژانس دی، چې د معلوماتو او ارتباطاتو د ټکنالوژۍ مسایل برقرار ساتي. (ITU) د رادیو نړیوال استعمال منسجم کوي، مصنوعي سپوږمۍ لیږدولو کې نظم رامنځ ته کوي، تاپې ارتباطاتو ساختمان ته انکشاف ورکویاو د نړۍ ارتباتي سیستم لپاره بهتر معیارونه ټاکي.

دا نړیوال ارتباطاتي سیستم ته انکشاف ورکوي او ارتباط په سیتسم کې علم رابر سیره کوي. (ITU)بیسیستم ته انټرنیټ رادیوي سیستم Satelliteسیستمموبائیل سیستم،نشراتو او تلویزیوني سیستم ته خدمات تر سره کوي.د (ITU)مرکز په Geneva،سویټزرلیند کې قرار لري، چې په دې کې ۱۹۲ غړي هېوادونو شامل دي او ۷۰۰ نور برخیز غړي لري.

**د ملګرو ملتونو روزنیز، علمي او فرهنګي سازمان**

**United Nations Educational, Scientific and Cultural Organization**

د ملل متحد شخصي سازمان په ۱۲ نومبر ۱۹۴۵ کې رامنځ ته‌شو. دا په نړۍ کې د علم، ساینس او کلتور په واسطه نړیوالې همکاري او سولې ته انکشاف ورکوي. دا د قانون حاکمیت، حقوقي بشر او بنیادي ازادیو لپاره هم کار کوي، چې یادونه یې د ملل متحد په منشور کې شوې ده.

دا د جامع ملل د سازمان د نړیوال روڼ اندیز همکارۍ د سازمانجانشین دی. UNESCO ۱۹۳ غړي لري او نور ۷ فرعي غړي هم لري د دې مرکز په پاریس کې دی او ۵۰ نور مرکزونه یې په نړۍ کې قرار لري:

UNESCO خپل اهداف د پنځه پروګرامونو له مخې پرمخ بیايي

چې هر یو په لاندې ډول دي لکه تعلیم، طبعي ساینسونه، اجتماعي او انساني ساینسونه کلتور افهام و تفهیم او معلومات UNESCO د سواد ،تخنیک، نړیوالو علومو، رسنیو، د بیان ازادي د حقوق بشر او داسې د نورو موضوع ګانو ذمه واري کوي. د UNESCOماموریت دا دی چې نړیواله سوله تاسیس کوي.

**د ملګرو ملتونو د صنعتي پراختیا سازمان**

**United Nations industrial Development Organization (UNIDO)**

د ملل متحد ځانګړی سازمان دی، چې مرکز یې په ویانا استریا کې قرار لري. د دې سازمان لومړی هدف دمخ پروده هېوادونو صنعت ته انکشاف ورکول دي. د ا نړیوال صنعتي همکارۍ ته هم انکشاف ورکوي. دا سازمان پر نړیواله کچه لاندینیو مربوطه ساحو کې کار کوي.

- د تولید په وسیله د غربت کمول
- د تجارت ظرفیت سا زي
- انرژي او محیط

د خپلو دغو اهدافو د سرته رسولو لپاره UNIDOلاندې کارونه سرته رسوي

- د مخ پروده هېوادونو مرسته د انکشاف په برخه کې کوي، چې په دې کې تعلیمي، ساینسي او تخنیکي پالیسیانې او پروګرامونه شامل دي، چې د صنعتي انکشاف لپاره کار کوي.
- د صنعتي انکشاف بهیرونه تحلیلوي، معلومات خپروي او د کارونو هم اهنګي رامنځته کوي.
- د سلا مشورې او خبرو اترو لپاره دیو تریبیون په توګه رول لوبوي.
- مخ پروده هېوادونو سره تخنیکي همکاري کوي، چې هغوی په اسانۍ سره خپل د پرمختګ پلانونه عملي کړي.
- دا سازمان په ۱۹۶۶ کې تاسیس شوی.

**د پست نړیواله اتحادیه Universal Postal Union (UPU)**

یو نړیوال ځانګړی سازمان دی، چې د هېوادونو ترمنځ د پست د پالیسیو همکاري پیاوړي کوي او نړیوال پست سیستم ته انکشاف ورکوي. (UPU)څلور مهمې برخې لري: ۱ کانګریس ۲ اداري شورا ۳ د پست د کړنلارو شورا او ۴:نړیوال دفتر.

د (UPU)مرکز په Switzerland , Bern کې قرار لري دا سازمان په کال ۱۸۷۴ کې تاسیس شوی. (UPU)د دې لپاره تاسیس شوی، چې لاندینۍ دندې تر سره کړي

۱.د نړۍ په ټولو برخو کې د ډاګ سیستم سم عیارول.

۲.د ډاک(پست) د چلولو چارواکي باید په مساوي ډول سره بهرنۍ او کورنۍ پست معامله کړي.

۳. هر هېواد باید دپوستي محصول لپاره پیسې خوندي وساتي.

## نړيوال بانک World Bank

دا يو نړيوال مالي سازمان دی، چې مخ پروده هېوادونو ته د سرمايې د پروګرامونو د انکشافلپاره پورونه ورکوي. د نړيوال بانک هدف د غربت کمول دي. د قانون له مخې د دې ټول تصاميم د دې لپاره نيول کيږي، چېپه تايد سره بهرنۍ پانګونه، نړيوال تجارت او پانګه وال نظام تقويه کړي. نړيوال بانک دري برخې لري لاندي بحث ترينه شوې دي:

### ۱. د بيا جوړونې او پراختيا نړيوال بانک

**International Bank of Reconstruction and Development**

د بيا جوړونې او پراختيا نړيوال بانک (IBRD) په کال ۱۹۴۶ کې تاسيس شوی دی او د پور ورکولو پاليسې يې عادي تجارتي بانکونو ته ورته ده. د بيا جوړونې او پراختيا نړيوال بانک د هغه پروژو د مالي ارزښت تحليل او څيړنه سرته رسوې کوم چې بانک تمويلوي او يو څه سود پري اچوي. په کال ۲۰۰۸ کي د بيا جوړونې او پراختيا نړيوال بانک په ۳۴ هېوادو کې د ۹۹ پروژو لپاره ۱۳.۵ بليونو ډالرو په اندازه نوي پورونه ورکړي دي. تر ۲۰۰۸ پوري د بيا جوړونې او پراختيا نړيوال بانک په مجموعي توګه ۱۳۰ هېوادونه ته ۴۴۶ بليونه ډالره پور ورکړي دي. د دي بانک شتمنې پر هغه ۱۱۰ بليونه ډالره ولاړه ده، چې غړي هېوادو ورکړي دي، او هغه سود او ګټه چې بانک يې پر هغو پيسو اخلي، چې په پور يې بانک هېوادو ته ورکوي، د دي بانک دارايي تشکيلوي. چين، برازيل، مکسيکو، هندوستان او ترکيه هغه هېوادونه دي، چې د بيا جوړونې او پراختيا نړيوال بانک څخه يې زيات پور اخيستی دی.

**د پراختیا نړیواله ټولنه International Development Association**

د پراختیا نړیواله ټولنه(IDA) په کال ۱۹۶۰ کې میځته راغلې ده او ډیرو غریبو هېوادونه ته پې له ګټې پور ورکوي: څو دا ډیر غریب هېوادونه وکولای شي خپلو خلکو ته لومړنۍ بشري خدمات (لکه تعلیم، روغتیایي خدمات او پاکې د څښلو اوبه) برابر کړي. همدارنګه د دې ډول پورونو هدف دا دی چې غریب هېوادونه وکولای شي په اقتصادي تولید کې انکشاف راولي او خلکو ته کار پیدا کړي. د پراختیا نړیواله ټولنه ټول پورونه ګټه (سود) نه لري او تر لس کالو پورې د پور بیرته ادا کول هم نه غواړي. په ۲۰۰۸ کال کې، د پراختیا نړیوالې ټولنې په ۷۲ هېوادو کې د ۱۹۹ پروژو لپاره د ۲.۱۱ بلیونه ډالرو په اندازه پورونه ورکړي دي. له شمیر څخه هم ښکاري، چې د پورونو اندازه وړه ده. د مینځته راتلو له وخته بیا تر اوسه پورې د پراختیا نړیوالې ټولنې ۱۹۳ بلیونه ډالره کریډیټ او بلاعوضه مرستې Grants کړې دي، چې نیمه یې افریقا ته ورکول شوې ده. د پراختیا نړیوالې ټولنې یوه اندازه پیسې له بیا جوړونې او پراختیا نړیوال بانک څخه ورکول کیږي، خو زیاته برخه پیسې یې د غړو هېوادونو له مرستو څخه لاسته راځي.

**بین المللي مالي ټولنه International Financial corporation(IFC)**

بین المللي مالي ټولنه په کال ۱۹۵۶ کې میځته راغلې ده، چې لږ پر مختللو هېوادونو کې شرکتونو ته پور ورکوي او همدارنګه په پرمختیایي پروژو کې د شخصي پانګونو تضمین کوي. د پراختیا نړیواله ټولنه او د بیا جوړونې او پراختیا نړیوال بانک پر ضد، چې د ولسي پروژې د تمویل لپاره حکومتونه ته پور ورکوي، انفرادي شرکتونو ته پور ورکوي. په کال ۲۰۰۸

کې، بین المللي مالي ټولني په ۸۵ هېوادونو کې د ۳۷۲ شخصي پانګونو لپاره ۴.۱۱ بلیونه ډالره پورونه ورکړي دي.

**د خوړو نړیوال سازمان World food program**

د ملل متحد د غذایي مرستو سازمان دی او د نړۍ لري ترین انساني مرستندوی سازمان دی، چې په نړیواله کچه له لوږې سره مبارزه کوي.(WFP)هر کال ۹۰ ملینو کسانو ته خوراک ورکوي، چې په دې کې ۵۸ ملینو یواځې ماشومان دي. د دې مرکز په روم کې دی او پاتې نړۍ کې په ۸۰هېوادونو کې دفترونه لري.(WFP)له هغو خلکو سره مرسته کوي کوم چې د دې جوګه نه دي، چې ځانته دخوراک ضمینه برابره کړي

(WFP) په ۱۹۶۰کال د خوراک او کرنې سازمان (FAO) د کنفرانس په نتیجه کې تاسیس شو. د دې د پیشنهاد د امریکا «خوراک د سولې لپاره»دپروګرام رئیس George MC Governکړی دی. WFP په رسمي ډول د (FAO) او ملل متحد عمومي اسامبلې لخوا په ۱۹۶۳ کې تاسیس شو، چې دا دوران د درې کالو امتحاني دورې په نوم یاد شو:په ۱۹۶۵ کې یې دي پروګرام ته دوام ورکړو. د (WFP) له مهمو فعالیتونو څخه ځینې په لاندې ډول دي.

۱.د خوراک په ورکولو سره د خلکو ژوند ته نجات ورکول او اضطراري حالت ته رایستل.

۲.د ناوړینو خلکو د تغذیې حالت او معیار ته په بحراني حالت کې وده ورکول.

۳.د غریبو طبقو حالت د تغذیې په واسطه ښه کولاو د کار ضمیني برابرول.

**د صحت نړیوال سازمان World Health Organization (WHO)**

دا د ملل متحد ځانګړی سازمان دی، چې په نړیواله کچه صحت عامې ته انکشاف ورکوي. په کال ۱۹۹۸ د اپریل په ۷ نیټه تاسیس شوی او مرکز یې په جینوا، سویټزرلینډ کې دی.

**د روڼ اندیز ځانګړنې او ملکیت نړیوال سازمان**

**World intellectual property organization (WIPO)**

د روڼ اندیز ځانګړنې او ملکیت نړیوال سازمان د ملل متحد د ۱۷ سازمانونو څخه یو سازمان دی. دا سازمان په کال ۱۹۲۷ کې تاسیس شوی چې خلک د خلاق فعالیتونه ته هڅوي، چې نوې طرحې او تیکنالوجي ایجاد کړي او په نړیواله سطحه د روڼ اندیز ځانګړنې او ملکیت ساتنه وشي. (WIPO) فعلاً ۱۸۴ غړي لري او ۲۴ بین المللي تړونونه هم لري. د دې مرکز په Switzerland , Geneva کې قرار لري. د (WIPO) اوسنی عمومي مشر (Francis Gury) دی د اکتوبر په لومړۍ نېټه ۲۰۰۸ کې چوکۍ تر لاسه کړه.

**د هوا پیژندنې نړیوال سازمان** World Meteorological Organization (WMO)

دا یو بین الحکومتي سازمان دی، چې ۱۸۹ غړي او ساحې په کې شاملې دي. د دې سر منشې د هوا پیژندنې بین المللي سازمان څخه سر اخلي International Meteorological Organization چې بنیاد یې ۱۸۷۳ کې اینبودل شوی وو او په ۱۹۵۰ کې تاسیس شوی (WMO) د ملل متحد د هوا پیژندنې ځانګړی سازمان دی (چې د هوا، اقلیم، د اوبو عملیاتي خصوصیاتو څخه او هم له جغرافیایي فزیکي علومو څخه بحث کوي. د دې مرکز په Switzerland , Geneva کې دی اوسنی مشر یې Alexander Belritsky فعلي سکرتر جنرال یې Michel Jarraud دی.

دا په څلورو کلونو کې یو ځل غونډه دایروي.

**د سیاحت نړیوال سازمان**

**World Tourism Organization (UNWTO)**

د دې سازمان مرکز په مادرېد، هسپانیا کې دی- دا د ملل متحد ځانګړی سازمان دی، چې سیاحت مطرح بحث نیسي. دا په نړیواله سطح د سیاحت په حقله احصایوي معلومات راټولوي او نظر لاندې یې نیسي.

د دې سازمان رسمي ژبې عربي، انګلیسي، فرانسوي، روسي او هسپانوي دي. دا سازمان په کال ۱۹۷۴ کې تاسیس شوی او مشر یې Taleb Rifai دی.

**د سره صلیب نړیواله کمیټه**

**International Committee of the Red Cross (ICRC)**

د سره صلیب نړیواله کمیټه په ۱۸۶۳ کال د اکتوبر په ۲۹ مه جوړه شوه هنري دونان د جینوا ښار اوسیدونکی بشردوست انسان وو هنري دونان چې یو سوداګر وو د ۱۸۵۹ کال په دوبي کې دایټالیا د شمال په سولفرینو کې د اتریش او د ایټالیا او فرانسې د ګډو ځواکونو د خونړۍ جګړې ګواه وو.

ده په دې جګړې کې ولیدل چې په زرګونو ټپیان چې طبي مرستې ور سره وشي ساه ورکوله حال دا چې که طبي مرسته ورسد ېلې وای اکثره به ژوندي پاتې شوي وو په ۱۸۶۲ کال ده په خپل مشهوراثر (د سولفرینو یوه خاطره )چاپ کړ.په دې کتاب کې ده د دغه جنګ وحشتناکې صحنې د قلم په ژبه بیان کړې. ده همدا راز وړاندیز وکړ، چې د جګړې په وخت مې فکر کوو چې د دې ټپیانو د درملنې لپاره دنړۍ د ټولو هېوادونو یوه مرستندویه

ټولنه جوړه شي. دونان همدا را ز د یوه نړیوال تړون وړاندیز هم وکړ، چې په جګړه کې ښکیلې خواوې به مرستندویو موسسو او ټپیانو ته څه نه وایي.
د جینوا په کنفرانس کې چې د ۱۸۶۳ کال د اکتوبر له ۲۲ څخه تر ۲۹ پورې د نړۍ د ۱۷ هېوادونو د ۳۴ استازو په ګډون جوړ شو برخوالو دغونډې په وروستۍ ورځ (داکتوبر ۲۹) د ټپي پوځیانو د درملنې او پاملرنې لپاره د یوې نړیوالې مرستندویې ټولنې له جوړېدو سره موافقه وکړه. د ټولنبلپاره دسویس د بیرغ برعکس پرسپین بیرغ د صلیب سره نښه غوره شوه.
د افغانستان په روانه جګړه کې هم دا موسسه ډېر مهم رول لوبوي.
د اسیرو طالبانو له کورنیو سره تماس نیسي او د هغوی خپلوانو ته د خپلو عزیزانو په باب معلومات ورکوي.

## اتم څپرکی
## د نړیوالو اړیکو او نړیوال سیاست ترمنځ توپیر

په عمومي ډول خلک د نړیوال سیاست او نړیوالو اړیکو اصطلاحات د یو مانا لپاره کاروي او ډیپلوماتیک مامورین هم تر ډیره وخته پورې دې توپیر ته متوجه نه وو او یا هم ورته قایل نه وو؛ خو د وخت په تیریدو سره د دې دواړو ترمنځ خاص فرق واضح او ښکاره شوی، چې په لاندې ډول به یې مطالعه کوو.

د بین المللي سیاست اصطلاح په بین المللي امورو کې د یو سلسله محدودو ماناوو لپاره استعمالیږي، لکه د دولتونو ترمینځ د ډیپلوماتیکو اړیکو لپاره یا د دولتونو ترمینځ دسیاسي امورو پورې مربوطه مسایلو لپاره استعمالیږي، حال دا چې د بین المللي اړیکو اصطلاح په نړیواله سطحه د دولتونو او بین المللي سازمانونو ترمنځ د هر اړخیزو اړیکو لپاره استعمالیږي، یانې نړیوالې اړیکې یواځې د سیاسي ساحې پورې مربوطه او محدود نه دې، بلکې د اقتصادي، اجتماعي، نظامي، فرهنګي او سیاسي مسایلو پورې مربوطه د ټولو مسایلو څېړل د بین المللي اړیکو پورې اړه لري.

په لنډه او خلص ډول ویلې شو، چې د نړیوالو اړیکو اصطلاح د نړیوال سیاست په مقابل کې د وسیع او پراخه مانا او مفهوم لرونکې ده.

**د نړیوال سیاست په اړوند دعلماوتعریفونه :**

دنړیوال سیاست په هکله د علماو لخوا کوم متفق تعریف نه دی شوی، بلکې په دې هکله د علماو لخوا مختلف تعریفونه شوي دي، چې موږ یو څو تعریفونه په لاندې ډول رانقلوو.

- ❖ ایچ چې مارګن تهو H. G. Margen Thau پخپل کتاب policy among the nations ملتونو ترمینځ -سیاست کې لیکي چې بین المللي سیاست دولتونو ترمینځ دقدرت حاصلولو د جنګ نوم دی یا دبین المللي سیاست مقصد د زیات قدرت حاصلول دي. همدارنګه وایې چې بین المللي سیاست هغه انساني فعالیتونو ته وايي، چې انسانان یې په نړیواله سطحه سرته رسوي .
- ❖ ماکیاولي وایې چې د قدرت د حاصلولو لپاره قدرت استعمال لکه د سرمایې د حصول لپاره د سرمایي استعمال یانې بین المللي سیاست د قدرت د حصول لپاره د قدرت استعمال ته وایې.
- ❖ جارج سوارزن برګ پخپل کتاب (power Politic) کې قدرت په دوه برخو ویشي .

الف :- د قدرت یا قوت په وسیله تهدید یا اخطار ورکول

ب :-د قدرت حقیقي یا واقعي استعمال

د سوارزن برګ په نظر له قدرت څخه هر ګز مقصددا نه دی، چې قدرت د بهرنیو اړیکو په ساحه کې د خپل مقصد د تکمیل لپاره استعمال شي، بلکې د قدرت یا قوت تصور باید د ملي پرمختګ او خوشحالتیا لپاره استعمال شي .

- ❖ پروفیسور کونسي رایټ بین المللي سیاست دارنګه تعریفوي د بین المللي مسایلو پوري مربوطه ټول حل طلب امور له بین المللي سیاست څخه عبارت دي .

په پورته ذکر شوو تعریفونو کې د ایچ چې مارګن تهو تعریف پوښ او جامع تعریف ښکاري (بین المللي سیاست هغه انساني فعالیتونو ته وایې، چې

انسانان یې په نړیواله سطحه سرته رسوي، په اخر کې په لنډه ډول ویلی شو چې بین المللي سیاست د نړۍ د دولتونو ترمنځ دتعاون او تصادم څخه عبارت دي.

**سیاستونه**

د داخلي سیاست (پالیسی) او بهرنۍ سیاست ترمنځ توپیر داخلي سیاست له بهرنۍ سیاست سره کاملاً متفاوت دي، چې موږ هر یو جلا تر مطالعي لاندې نیسو

**الف: کورنی سیاست (پالیسي)**

داخلي سیاست له هغه کړنلاري یا طرزالعمل څخه عبارت دی، چې دولتونه یې د خپلو سرحداتو او قلمرو په داخل کې سرته رسوي او یا یې عملي کوي له داخلي سیاست نه مقصد دولت پرمختګ وي، چې موږ د داخلي سیاست یا پالیسی هدف او مقصد په لاندې ټکوکې بیانولی شو.

۱. د ژوند کولو د معیارلوړ والی
۲. د خپلو وګړو د اساسي او بنیادي حقوقو تحفظ او ساتنه.
۳. د جهالت او ناپوهی مخنیوی.
۴. اجتماعي او ټولنیز عدل او انصاف
۵. د خپلو افرادو لپاره اصلاح او پرمختیایې پروګرامونه جوړول
۶. د شغل او صنعت پرمختګ
۷. د منطقوي تعاصباتو خاتمه
۸. د لږکیو (اقلیتونو) د حقوقو ساتنه او رعایت
۹. منصفانه اقتصادي نظام
۱۰: په خپلو وګړو کې د حب الوطنی د جذبي او احساس پیدا کول

**ب: بهرنۍ سیاست (پالیسي)**

دولتونه د خپلو تاریخي او کلتوري پېښو په نظر کې نیولو سره خپل بهرنۍ سیاست ټاکي، چې د هغې مقصد او هدف د ملت ټینګښت او د دولت منظم کول دي بهرنۍ پالیسي د ځانګړو ملي ګټو د ترلاسه کولو لپاره له نورو دولتونو سره یو ځای د اړیکو د جوړیدو لپاره مرستندویه نه ثابتیږي، بلکې د دواړو دولتونو د وګړو یا افرادو د فلاح او بهبود لپاره اسانتیاوې برابر وي، چې موږ بهرنۍ پالیسي په لاندې توګه تعریفولی شو.

دولتونه چې په ځانګړي حالاتو کې د خپلو ملي ګټو د لاسته راوړلو لپاره له نورو دولتونو سره د اړیکو د جوړیدو لپاره کوم طرزالعمل یا کړنلاره غوره کوي د دولت د بهرنۍ پالیسۍ څخه عبارت دی.

**د بهرني سیاست موخې:**

دبهرنۍپالیسۍ موخې او مقصدونه په لاندې ټوټکو کې خلاصه کولی شو.

- ذاتي یا شخصي ساتنه :- څرنګه چې انسانان په ځانګړي توګه دخپل ځان مکمله ساتنه نشي کولی همدارنګه دولتونه هم په ځانګړي توګه د ځان ساتنه نشي کولی او په همدې خاطر ددولتونو سره روابطو ته ضرورت لري ددې څخه علاوه هر دولت غواړي چې دجغرافیوي موقعیت په لحاظ دهغه دولت سره اړیکې ټینګې کړي چې دغه ملک ته نژدې واقع وي او یا د بحر سره لاره ولري او یا د نظامي لحاظ ستراتیژیک موقعیت ولري.
- ملي ساتنه :-ددفاعي ضروریاتو د پوره کولو لپاره او د تېري او تجاوز د مخنیوي په خاطر داقداماتو ترسره کول هم دبهرنۍ

پالیسۍ په موخو کې شامل دي یا دبهرنۍ پالیسۍ د موخو څخه ګڼل کیږي هر دولت هڅه کوي چې دخپلو سرحدي حدوداتو دساتلو په خاطر د هرتیري او تجاوز مخنیوی وکړي او ددې مقصد دحصول په خاطر دولتونه یو له بل سره نظامي او دفاعي تړونونه او قراردادونه لاسلیکوي لکه د ساړه جنګ په دوران کې غربي بلاک د شاملو هېوادونو لخوا د ناټو (NATO) دنظامي تړون لاسلیکېدل په ۱۹۴۹ م کال کې دهمدغې نظامي تړون دمقابلې په خاطر په ۱۹۵۵ م کال کې شرقي بلاک د خپل قلمرو دحفاظت په خاطر دروسیې په مشرۍ د وارسا WARSA نظامي سازمان رامنځته کړ.

- اقتصادي پرمختګ :- د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره ضروري ده چې صنعت اوتجارت پرمخ ولاړشي او خام مواد په ارزانه یا ټیټې بیې ترلاسه شي او د ښو قیمتونود حصول په خاطر په مناسب وخت کې مارکیټ یا بازار ته عرضه شي چې د دولتونو ددغه مقصد دحصول لپاره د بهرنۍ پالیسۍ په نظر کې نیولو سره دنورو دولتونو سرهاړیکې جوړوي.
- ملي قدرت :- دولتونه دخپل قدرت او اقتدار د زیاتوالي په خاطر له نورو دولتونو سره د تعاون او ملګرتیا لار غوره کوي چې پدې لاره کې غوره او بهتره دبهرنۍپالیسۍ ده او ډېر ه مرسته کوي په نړیواله سطحه دبهرنۍ پالیسۍ په ذریعه دولتونه دداسې قدرت څخه دملي اهدافو ترلاسه کولو په خاطر کار اخلي.

**په بهرنۍ سیاست (پالیسۍ) باندې دعمل کولو اصول :-**

دهرې پالیسۍ لپاره ضروري ده چې هغه د وخت او حالاتو د شرایطو او ظروفو سره تطابق ولري او لـه دې سره ، سره دعملي کېدو وړاو مستحکمو بنیادونو باندې استواره وي چې په همدې لحاظ دخارجه پالیسۍ لپاره لاندې اصول په نظر کې نیول شویدي .

الف : بهرنۍ پالیسي باید په کلکو او مستحکمو بنیادونو باندې ولاړه وي :-

بهرنۍ پالیسي جوړونکو لپاره ضروري ده چې دهغه دولت بهرنۍ پالیسي جوړوي باید د هغه ځای او حالاتو په اړه پوره معلومات ولري ټولې ملي ګټې باید وپېژني او دغه پالیسي باید دملي ګټو په اصولو متکي وي

ب : بهرنۍ پالیسي باید د مقاصدو دحصول لپاره مؤثره او ګټوره وي :-

دبهرنۍ پالیسۍ په جوړولو کې بلـه داهمیت خبره داده چې بهرنۍ پالیسي باید په هغه مقاصدو مشتمله وي چې د امکان ترحده پورې دعملي کېدو قابلیت ولري .

ج:- بهرنۍ پالیسي باید انعطاف پذیره (تغیرمنونکي) وي :-

پدې مانا چې بهرنۍ پالیسي باید د وخت او حالاتو سره تغیر وکړي او نه تغیرمنونکي پالیسي د دولتونو د ضعیفې او کمزورې دیپلوماسۍ ښکارندوی وي .

**دبهرني سياست دعملي كولو طريقې :**

دبهرنۍ پاليسۍ د تشكل او كړنلارې د ټاكلو څخه وروسته دهغې دعملي كولو لپاره په عمومي سطحه د لاندې څو طريقو څخه استفاده كيږي چې عبارت دي له :

سياسي طريقې ، اقتصادي طريقې ، روحي يا ذهني طريقې، او نظامي طريقې څخه چې دا هره طريقه جلاجلا ترڅېړنې لاندې نيسو .

**. سياسي طريقه :-**

دبهرنۍ پاليسۍ دموخو دحصول په خاطرله هر څه نه غوره اوبهتره طريقه سياسي طريقه ده ددې طريقې څخه دخارجه پاليسۍ دعملي كولو ټول دارومدار د ديپلوماسۍ په اصولو باندې ولاړدي دواړه لوري دسياسي لاروچارو پواسطه كولى شي ديوبل نظرونه او مسائل وڅېړي اودتجارتي، اقتصادي او سياسي پلاوو په ذريعه او دسياست مدارانواو نورو فني اشخاصو پذريعه بهرنۍ پاليسي عملي كېداى شي .

**اقتصادي طريقې :-**

د اقتصادي طريقو پذريعه هم كيداى شي چې خارجي پاليسي تطبيق او عملي شي چې دا اقتصادي طريقې د سياسي طريقو يو نوع ده څكه د دولتي نمائنده ګانو دمذاكراتو په اساس اقتصادي طريقې وده كوي او داقتصادي چارو په نظر كې نيولو سره هېوادونه بايد استعماري اغراض ترک كړي او يو دبل ضرورتونه په نظر كي ونيسي ترڅو خارجه پاليسي عملي شي.

١. روحي يا ذهني طريقي :

کله چې ددولتونو ترمنځ دمسايلو په حل کولو کې سياسي طريقې غير موثري واقع شي او يا دهغه په لاره کې کوم خنډ واقع شونو دسياسي طريقو داحياء لپاره ځينې روحي يا ذهني طريقې په کاراچول کيږي او دهغې مقصدداوي چې د مقابل لوري (دولت) دخلکو ذهنونه دخپلې خارجي پاليسي په اړه عيارکړي ترڅو دهغه ځای خلک پرخپل حکومت فشار راوړي چې موضوع په سياسي اندازکې حل وفصل کړي نو په نتيجه کې دولت مجبوريږي چې دخلکو غوښتنې ومني .د روحي يا ذهني طريقو داختيارولو لپاره ښه وسيله پروپاګنده(propaganda) يا تبليغ دي چې دا تبليغات د مختلفو مطبوعاتي ذرايعو پواسطه لکه راديو ، تلويزون ، اخبار ، جريدې ،کنفرانسونو، سيمنارونو ، ورکشاپونو اوداسې نورو پذريعه صورت مومي .

۲. **نظامي ( حربي ) طريقې:-**

کله چې مقاصدويا اهدافو دتکميل لپاره سياسي ، ذهني او اقتصادي طريقې ناکامې شي نو وروستی حربه د نظامي عملياتو لاره ده چې ددې طريقې څخه پخوا د نړۍ مختلفو قومونو په لومړي وخت کې کاراخسته ولې داچې نن ورځ يې دولتونه دوروستي حربي په شکل ترينه استفاده کوي .

## نهم څپرکی

## په نړیوالواړیکو اثراچونکي بنیادي عوامل

په نړیوالو اړیکو باندې هغه څه چې اثر اواغیزه لري ځینې دهغې عواملونه قدرتي اوطبعي عوامل دي اوځینې نه انسان په لاس جوړشوي عوامل دي .خو قدرتي عوامل هم ترحده دانسان په لاس کې وي . چې انسانان ترینه استفاده کوي او د خپلې ګټې لپاره یې استعمالوي.

په خلص ډول ویلی شو چې طبعي او غیر طبعي وسائل او عوامل په نړیوالو اړیکو موثرې اغیزې لري چې په لاندې ډول یې تر څیړنې لاندې نیسو .

**لومړی: قدرتي او طبعي وسائل :**

په هر دولت کې الله جَلَّ جَلَالُهُ داسې قدرتي او طبعي منابع پیداکړي خودغه طبعي منابع په مساوي اندزه دټولو هېوادونو ترمېنځ ندي وېشل شوي ځینې هېوادونه طبعي منابع زیاتې اوځینې کمې او یا هیڅ طبعي زیرمې نلري لکه معدنیات ، ځنګلونه ، تیلو او نفتو ذخایر اونور .. چې دغه منابع په طبعي او قدرتي ډول په دولتونو کې موجود وي چې همدغه طبعي منابع دي چې دیو هېواد په داخلي او خارجي پالیسیو باندې ژورې اغیزې لري .

د بېلګې په ډول هغه هېوادونه چې نفتي مواد (تېل) نلري مجبوردي چې دهغه هېوادنو سره اړیکې ټینګې کړي چې زیات نفتي ذخایر لري چې ښه بېلګه یې عربي هېوادونه دي .

خوکه په یو هېواد کې زیاتې طبعي منابع موجودې وي خو دهغه هېواد اوسیدونکي له هغې نه ګټه اوچته نکړي نودا د دې باعث ګرځي چې قوي اوزیرځواک هېوادونه پدې هېوادونو حملې وکړي او دهغه هېواد طبعي منابع ترخپل کنترول لاندې راولي چې موږ ددې زیاتې بېلګې لیدلای شو لکه په تیرو دوو پیړیو کې انګریزانو ، فرانسویانو او روسانو ډیرآسیایي او

افرایقایي هیوداونه پدې خاطر ترخپل کنترول لاندې راوستل چې دهغوی دزیرمو او طبعي منابعو څخه استفاده وکړي او دځان په ګټه یې استعمال کړي هماغه وو چې په مختلفو هیوادونو به یې هجوم وروړو او هغه به یې استعمار کول په اوسني وخت کې هم موږ داسې بېلګې زیاتې لیدلی شو لکه د امریکا یرغل په عراق باندې چې یو خاص هدف یې د عراق دتیلو د ذخایرو لاندې کول وه او یا همدارنګه په افغانستان باندې دروسانو او دهغې نه وروسته د امریکا یرغل پدې موخه وو ترڅو د افغانستان ساتلی شوي ذخایر ترخپلې ولکې لاندې راولي په خلص ډول ویلای شو چې طبعي منابع په خارجي اوداخلي پالیسۍ همدارنګه د یو هېواد په دیپلوماتیکو روابطوباندې ژوره اغیزه لري .

**دوهم: جغرافیوي موقعیت :**

جغرافیوي موقعیت هم په نړیوالو اړیکو یو خاص اثر لري او دنړیوالو اړیکو د نژدیوالي یو سبب کیدای شي همدارنګه جغرافیوي موقعیت په خاص ډول دهېوادونو په سیاسي روابطو کې عمده رول لري .یانې د یوهېواد خارجي سیاست دهغه هېواد دجغرافیوي موقعیت په اساس طرح کیږي لکه دهورمزتنګي ، دواخان لوړه څوکه ، د طارق ابناء ،دسویس کانال ، دپانامې کانال ، دهندبحر اوداسې نور ..

نوویلای شو چې غرونه ، سیندونه او دریابونه په بین المللي روابطو کې خاص اهمیت لري څومره چې د روابطو په مخ کې طبعي موانع موجود وي روابط کم او که موانع نه وي نو روابط پراختیا مومي .

همدارنګه دجغرافیوي موانعوموجودیت دکلتوراو فرهنګ په جدائی کې رول لري پدې مانا کله چې دهېوادونو ترمینځ طبعي موانع وي اګر که ددې

هېوادونو ترمنځ سیاسي روابط خراب یا ساړه وي بیاهم دخلکو ترمنځ روابط ټینګ وي.
دبېلګې په ډول که پاکستان د ایران سره خپل رسمي سرحدات بند هم کړي بیاهم دخلکو ترمېنځ روابط په شکل داشکالو موجودوي. همدارنګه کله چې پخواني شوروي اتحاد غوښتل چې امریکاد فشارلاندې راولي د کیوبا د جغرافیوي موقعیت څخه یې کارواخیستاو لدې ځایه یې امریکا تر تهد یداو فشار لاندې نیولې وه.
داسې هم ویلای شو چې ځینې حالاتو کې جغرافیوي ستراتیژیک (جیوپولیتیک) موقعیت ددې باعث هم کیږي چې د زیرځواکونو مخه ځانته راړوي ترڅو هغه موقعیت ترخپلې ولکې لاندې راولي او خپل دښمنان دهمدغه ځای څخه و ټکوي لکه د افغانستان جیو پولیتیک موقعیت ددې باعث ګرځیدلی دی چې په مختلفو زمانوکې د نړۍ زیر ځواکونو پرافغانستان حملې کړي خو پدې بریالي شوي ندي چې په دایمي ډول هغه تر ولکې لاندې وساتي نو په لنډ ډول ویلی شو چې جغرافیوي موقعیت د یو هېواد په خارجه پالیسۍ کې اهم رول لري چې پدې اړه د فرانسې مشهور سپه سالار(ناپیلیون) ویلي دي چې (دیو هېواد دخارجه پالیسۍ تعین جغرافیوي موقعیت کوي)

**دریم :- دیوهیوا دوګړونفوس (شمیره)**

د یوهېواد دنفوسوزیاتوالی او کموالی هم په نړیوالو اړیکو باندې د هېواد ونو ترمینځ نقش او رول لري.
که چېرې د یوهېواد په داخل کې دوګړو شمیر زیات او اقتصادي وسایل او منابع یې کمې وي نو دغې هېودونو ته د زیات نفوس لرونکې هېوادونه

وایي او که چېرې د نفوس شمیره یې کمه او اقتصادي وسایل او منابع زیاتې ولري دغې هېوادونو ته دکم نفوس لرونکي هېوادونه وایي .
د نفوسو زیاتوالی کله ناکله دهېوادونو په داخل کې دعدم استقرار او جنګونو سبب ګرځیمثلاً د فرانسې د انقلاب لوی عامل هم د نفوسو زیاتوالی او دامکاناتو کموالی وؤ چې خلک د فقر او بې کارۍ سره مخ شول نو دسترتحول لامل وګرځیده چې په نړیوالو اړیکو یې هم اثر وکړ .
له بل طرفه که نفوس کم او د معشیت امکانات زیات ولري نوپدې صورت کې نوموړي هېوادونه بیانورو هېوادو ته سترګې اړوي ترڅو د خپلو ډیرو امکاناتو څخه په استفاده نور هېوادونه ونیسي چې ښه بېلګه یې د هټلر دوخت جرمني دي .
خو اکثره وخت د زیات نفوس لرونکو هېوادونو خارجه پالیسیانې غاصبانه او تیري کوونکي وي او دوئ همیشه پدې تکل کې وي چې په نورو هېوادونو خاصتاً په همسایه هېوادونو حملې وکړي او دهغوی خاوره ونیسي او خپل اضافه نفوس ته دهغوی په خاوره کې ځای ورکړي چېښه بېلګه یې پخوانی شوروي دی چې دهنګري او پولینډ خاوره باندې حمله وکړه ترڅو ترخپلې ولکې لاندې یې راولیددې نه معلومیږي چې دیو هېواد د نفوسو زیاتوالی او کموالی دهغه هېواد او سیمې د نورو هېوادونو په خارجه پالیسیو باندې مؤثره اغېزه لري او انسانان تراوسه پدې ندي توانیدلي چې داسې څه وکړي چې د یو هېواد دنفوسو دزیاتوالي او کموالي نه فساد رامېنځ ته نشي یواځنۍ دحل لاره داده چې ټول بشریت داسلام دمبارک دین ارشادات پرځای تطبیق کړي خپل حق خپل او دبل حق دبل وګني .

**څلورم :-اقتصادي عوامل :**

څرګنده حقيقت چې اقتصادي عواملو دهېوادونو ترمنځ په روابطو اوډيپلوماسۍ ژور اثر غورځولی دی څوپدې وروستيو کې اقتصاد دځينو قوي هېوادونو لپاره دمقابل لوري داولې درجې داتوم بم حيثيت غوره کړی دی.

له يوه پلوه که هېوادونه يو دبل سره اقتصادي مرستې او تړونونه کوي خو دبلې خو انه هېوادونه پدې هڅه کې هم دي ترڅو په اقتصادي ډګر کې خپل حريف (دشمن) ته ماتې ورکړي او يا اقتصادي لاروچارو ضعيف هېوادونه دخپلې ولکې لاندې وساتي .

چې همدادانسان بدقسمتي اودسياست بدترينه ببلګه ده چې ديو هېواد قوي اقتصاد او تجارت د بل هېواد لپاره لعنت او مصيبت تماميږي .

همدارنګه ويلی شو چې معمولاً هېواد دخپلو اقتصادي ګټو د خوندي ساتلو لپاره يوه بين المللي تجارتي پاليسي لري لکه په اتلسمه پېړۍ کې د اروپا ځينو هېوادونو دخپل اقتصاد د تقويت او تحفظ لپاره سره راټول شول او داسې پريکړه يې وکړه چې ددې هېوادونو بين المللي تجارتي پاليسي به داوي چې د نورو هېوادونو نه به اشياء خپلو هېوادونو ته نه واردوي ترڅو خپل صنعت ته انکشاف ورکړو .

هماغه وو چې د اروپا ګډ اقتصادي بازار يې رامنځته کړ په ټوله اروپا کې يې د يوه سکي حکومت (Eurocracy) قايم کړه د همدغې اقتصادي روابطو له مخې دغې هېوادونو وکولی شو ل چې ګډ او مشترک اساسي قانون رامنځته کړي ، ګډ او مشترکې محکمې يې جوړې کړي د هېوادونوترمنځ يې سرحدات ختم کړل .

همدارنګه نور ډیر هېوادونه هم شته چې داقتصادي اهدافو په سرېې سازمان او نور . لکه د(ایکو )دغړو هېوادو سازمان د (سارک) دهېوادونو اقتصادي سازمان او نور .نو ویلی شو چې اقتصاد په نړیوالو اړیکو ژوره او مؤثر اغیزه لري .

**پنځم :- علمي او ساینسي عوامل :**

دا یو حقیقت دی چې په علم او ساینس کې هرنوي ایجاد او اختراع په نړیوالو اړیکو ژورې اغیزې درلودلې دي .دغه عوامل په نوي عصر کې خاصتاً کله چې صنعتي انقلاب رامینځ ته شولوی اثر ولرلو . دغه عوامل د انسان په ژوند کې مثبتي او هم منفي اغیزې لري .

یاني ځینې وختونه ددې پذریعه دوګروترمینځ نږدیوالي راځي . لکه اورګاډي دپټلۍ غزیدل ، د تیلیفون رامنځته کیدل ، هوائي جهازونه ، بحري جهازونه او نور..

چې داددې لامل شو چې د هېوادونواو افرادو ترمینځ یې روابط نژدې کړل او په ډیر کم وخت کې دنړۍ دګوټ نه بل ګوټ ته سفر کولی شي او هم په ډېر کم وخت کې د نړۍ دحالاتو څخه خان خبرولی شي .

مګر ددې برعکس همدا علم او ساینس ددې سبب هم وګرځید چې نوي اختراعات رامنځ ته شول نو دخلکو ترمینځ دجنګ او جدل باعث وګرځیدل چې دوه نړیوال او عالمي جنګونه د همدغه عواملوزیږنده ده په اوسني عصر کې ګورو چې دساینس او علم پواسطه نړۍ دیو کلي حیثیت غوره کړیدې او نړۍ د ( Globalization) خواته روانه ده خو دبلې خوانه د انسانانو ترمینځ اختلافات دې حد ته رسیدلي دي چې په پرلپسې ډول یو دبل تویوي خو ددې دومره اختلافاتو سره سره بیا هم ویلای شو چې علم او ساینس په نړیوالو اړیکو ژور او مؤثر اغیزه لري .

**شپږم :– قومي ، ژبني ، او مذهبي عوامل :**

تهذیب ،تمدن ، قوم ،رنګ ،نسل ، او مذهب همیش په نړیوالو اړیکو ژوره اغیزه درلودلې د تاریخ په اوږدو کې همدا عناصر ددې باعث ګرځیدلي دي چې دهېواد ونو نوروابط یې سره نژدې کړیدي او یا همدا عناصر ددې باعث شوي دي چې هېوادونو پخپل مینځ کې سره جنګونه کړي او یادا چې یو هېواد په دوه او یا څو هېوادو وېشل شویدي په نړیوال تاریخ کې ددې زیات بېلګې لیدل شوي چې د مذهب ،رنګ اونسل ترنامه لاندې زیات جنګونه رامینځته شویدې لکه د نازي المان جنګ چې داریائي نژاد دبرترۍ او کامیابۍ پخاطر وواوریایانو خپل ځانونه دنړۍ په نورو نسلونو بهتر او اوچت ګڼل چې همدا اوچت ګڼل د نړیوالو جنګونو د پیښیدو لامل وګرځیدل . همدارنګه جرمني دایټالیې په مقابل کې دقوم اونسل په نوم ډیر جنګونه کړیدي او په امریکاکې دتورپوستانو او سپین پوستانو ترمینځ ډیر جنګونه شویدي . دمذهب او دین په نوم پاکستان د هندوستان څخه جلاشو په موجوده زمانه کې نسل او مذهب په نوم ترټولو بدترین جنګ داسرائیلو دقیام څخه وروسته شروع شو چې ډیروبې ګناه مسلمانانو پکې خپل ژوند له لاسه ورکړ. خوددي برعکس همدا ژبه او نسل دي چې ډیر هېوادونه او اقوام یې سره متحد کړي لکه دعربي هېوادونو اتحادیه ،لکه د ترکمنستان او ترکي روابط هم د قومي ،دینیاونژادي عواملو په اساس ټینګ دي .

یا لکه ، دافریقایي هېوادونو همکاري سازمان یادااروپایي هېوادونو اتحادیه اونور ...

نو په خلص ډول ویلی شو چې قوم ، مذهب او دین په نړیوالو اړیکو کې مؤثر او اغیزمن رول لري .

**اووم :- د تاریخي اثراتو عوامل :-**

دهیوادونو ترمینځ تیر تاریخي روابطو دهیوادونو ترمنځ په روابطو کې ژور تاثیر او اغیزه لري اوهیوادونه خپلې اړیکې دنورو هیوادونو سره د تیرتاریخ په نظر کې نیولو سرهعیاروي . چې ددې ښه بېلګې موږ عملاً لیدلې شو لکه ګورو چې دپاکستان ترمینځ روابط په ثابت ډول سره په امن کې نه دي پاتې شوي داځکه کهانګریزان دلته وونودوی دهندوانو او مسلمانانو ترمینځ جنګونو ته لمن وهله خو کله چې پاکستان د اسلام په نوم جوړشو او جدا ملک او دولت وګڼل شو نو ګورو چې د تیرتاریخ له وجې اوس هم اختلافات لري .

همدارنګه ګورو چې روس د ترکییسره وران دي ددې عمده لامل همدادي چې ډیر پخوا د دتزاري روسیي اوعثماني امپراطورۍ چې مرکزیې په ترکیه کې ؤ ر ترمنځ سخت اختلاف او جنګونه تیرشوید یخوددې برعکس کله داسې هم کیدای شي چې ددوه هیوادونو تیرتاریخ ددې ترمینځ دښواړیکو درامنځته کیدو باعث وګرځي لکه فرانسه ، جرمني او برطانیه چې همیشه به یو دبل دوینو تږې ووخو په داوروستیو کې تهوله لویدیځه اروپا دروس په خلاف سره یو ځای شوې. نو په اخرکې ویلای شو چې اکثره ددي عواملو ته قوي او بډای هیوادونه ریاته استفاده کوي.

**اتم :حکومتي سیستم عوامل :**

دیودولت دحکومت سیستم ،جوړښت او نوعیت په نړیوالواړیکو ژور اثرغورځوي ځکه حکومت خپله خارجه پالیسي او تعلقات دهمدغه حکومتي سیستم په نظر کې نیولو سره عیاروي . او اکثره د عیني نوعې اوشکل حکومت لرونکي دولتونه پخپلو کې سره ښه او حسنه روابط لري .

تاریخ ددې ګواه دې چې پخوا چون دباشاهت دورؤو او هرپادشاه په مطلق العنان وؤ نو کله به چې ددې قسم حکومتونو په وړاندې یو جمهوري رژیم رامنځته شو نودامسئله به دتنازعواو جنګونو باعث کیده .

خود (۱۷۸۹) م کال د فرانسې د لوی انقلاب څخه وروسته او همدارنګه د (۱۹۱۷) م کال دروسي دکمونیستي انقلاب څخه وروسته او بیا د ۱۹۴۸ م کال د چین د بلشویکي انقلاب نه وروسته چې په چین او روسیه کې کمونیستي نظام حاکم شونو کمونیستي (اشتراکي) نظامونو پخپلو کې سره روابط نژدې کړل.

لدې نه وروسته کمونیستی (اشتراکي ) نظامي لرونکي هېوادونو داهڅه کوله ترڅو هېوادونه ترخپل کنترول لاندې راولي او کمونستي نظریات پکې خپاره کړي .

خو ددې په مقابل کې د سرمایه داري نظام پیروانو Capitalism داهڅه کوله چې د کمونستي نظریاتو مخه ونیسې او دسرمایه دارۍ مفکوره په هېوادونو کې دود کړي .

هماغه ؤو چې ځینې هېوادونو خپل حکومتي سیستم په کمونستي ساختارجوړ کړ او ځینو په عربي سرمایه داري سیستم خپل حکومتي سیستم جوړ کړ .

نو همداد حکومتي سیستم عوامل وه چې ځنې هېوادونو په شرقي بلاک پورې ځانونه وتړل او ځینو د غربي بلاک پورې.
نو په خلصه ول ویلای شو چې حکومتي سیستم په نړیوالو اړیکو کې مؤثر او رغنده رول لري.

**نهم : - ایډیالوژیکي (نظریاتي) عوامل :--**
ایډیالوژي (نظریات) هم د نړیوالو اړیکو د مهمو عواملو له جملې څخه ده چې همدغه ایډیالوژي د نړیوالو اړیکو دایجادونکو عواملو له جملې څخه ګڼل کیږي چې د روابطو په ټینګولو کې مهم رول لري. مثلاً دوارسا نظامي تړون د کمونستي ایډیا یا نظریې په اساس رامینځته شوي ؤ و ددې په مقابل کې د ناټو نظامي پکټ د سرمایه داري نظام د مفکوري زیږنده ده همدارنګه د اسلامي هېوادونو کانفرانس داسلامي مفکورې یا ایډیالوژي زیږنده ده او داسې نور..
چې داټول دایډیالوژۍ او مفکورې له مخې رامینځته شوي نوویلی شو چې ایډیالوژي هم په نړیوالو اړیکو باندې ژوره اغیزه لري.

## لسم څپرکی

## په سوله باندې اختلافاتو د حل سوله ایزې لارې

❖ د نړیوالو اختلافاتو د حل سوله ایزې لارې

په نړیواله سطحه مستقل او جدا سیاسي واحدونه وجود لري چې دې ته هېوادونه ویل کیږي او بیا هر یو د دغه هېوادونو څخه خانته مستقل اهداف لري چې دغې اهدافو ته رسیدل کیدای شي چې د نورو هېوادونو اهدافو سره په تعارض او ټکر کې واقع شي نو له دې ځایه څخه ده چې په نړیوالو سطحه د هېوادونو ترمینځ اختلافات واقع کیږي د ډیرپخوا زماني راهیسي په شکل د اشکالو د هېوادونو ترمینځ اختلافات رامینځته کیدل چې د دغه اختلافاتو د حل لپاره یې د مختلفو روشونو څخه استفاده کوله چې یو هم د هغې څخه زور او جنګ ؤ بناپردې په پخوازمانو کې د اختلافاتو د حل بهترینه لاره جنګ او زور ؤ چې په نړیوالو حقوقو کې یې هم جواز درلوده .

د پورته اصل په نظر کې نیولو سره چې د نړۍ ټول تاریخ د جنګ او وینو توئیدو څخه ډک دي چې د یونانښاري دولتونه هم د جنګ په نتیجه کې د منځه لاړه همدارنګه د سکندر کبیر امپراطوري هم د جنګ په نتیجه کې له مینځه ولاړه نو ویلا شو چې د دویمې او دریمې میلادي پیړۍ څخه مخکې د روم امپراطورۍ د زور او جنګ پواسطه پراختیا وموندله په منځنیو پیړیو کې په اروپا کې زور او جنګ د خارجیسیاست دیوې مهمې وسیلې په حیث استعمالیده او جنګ د اختلافاتو د حل یواځینۍ لاره ګڼل کیده.

همدارنګه په اروپا کې کاتولیکانو او پروتستانو پخپل مینځ کې هم ډیر شدید جنګونه کول د نولسمې پیړۍ په اوایلو کې ناپیلیون چې دخپلو اهدافو (ازادۍاو یوالي) لپاره یې کارکاوه هم دشدید عکس العمل (جنګ) سره مخامخ شو .

اګرچې په نولسمه پیړۍ کې نړۍ یو څه د صلحې او ارام ژوند کاوه او جنګونه کم واقع کیدل اما په وروستیو پیړیو کې ګورو چې دوه نړیوال جنګونه رامینځته شول .

په تیرتاریخ او دوره کې د ډیرو جنګونو پیښیدل دې حد ته ورسیدل چې اکثره پوهانو دانظر ورکړ، چې جنګ یوعادي اوطبعي وضع ده ځکه په نړیواله سطحه هروخت جنګ واقع کیږي ددې علماو د جملې څخه یو هم پروفیسور کوئنسی رایټ دی چې په خپل کتاب (دجنګ په باره کې مطالعه) ترعنوان لاندې لیکل دي وایي چې د (۱۵۰۰۹ کال نه تر ۱۹۴۰ م کال پورې ۲۷۵ نه زیات جنګونه واقع شویدي چې په هر جنګکښې پنځوس زرونه ۵۰۰۰۰ نه کمو عسکرو پکې ګډون ندی کړی چې په نړیواله سطحه واقع شویدي .

همدارنګه نوموړي عالم ذکر کوي چې د۱۹۴۵ م نه راپدېخوا تقریباً ۴۵ جنګونه واقع شویدي او هم د فرانسې دخبرې رسنیو له قوله چې یو شوروي پروفیسور ( امالیانوف) چې دغیر دولتي سازمانونو په کنفرانس کې چې په ژنیو کې د اټرشوي وۀ خلع سلاح په باور کې خپله ویناداسې څرګنده کړه .

(جنګ دبشرلپاره یوعادي حالت دی ځکه بشریت د (۳۴۰۰) کاله تاریخ څخه راپدېخوا ژوند کوي چې یواځې (۲۰۴) کاله یې په صلحه

کې تیر کړی او نور تول یې په جنګ کې تیر کړی دی نو ویلې شو چې جنګ د بشریت لپاره یو عادي حالت دی،

همدارنګه جنګ په طول (تاریخ کې دځینې اقوامو د مهمو اهدافو څخه واو همیشه به یې جنګونه خوښول نو له همدغه ځایه ؤ چې د مشروع اوغیرمشروع جنګونو نظریه رامینځته شو ه هغه هېوادونواو اقومو چې تیری اوتجاوزیې کاوه دهغوی جنګ په مقابل کې دځان څخه دفاع کوله دهغوی جنګ ته مشروع (رواجنګ ) وویل شو .

د تاریخ په اوږدوکې جنګونه د دولتونو ترمینځ طبعاً محدود وه اماکله چې نظامي تکنالوژۍ پیشرفت وکړ جنګونه هم ورسره پراخه شول .

همدارنګه د نړۍ د مختلفو هېوادونو اړیکې پخپل مینځ کې هم ددې باعث شو چې جنګ د محدود حالت څخه راوباسي او پراخه شي هماغه ؤ چې دغې حالت دځان سره ډیر بد عواقب درلودل لکه دانسانانو ډلیزوژل کیدل (Genocidc)مالي خسارات ، فرهنګي خسارات ، دمحیط خرابوالي اوداسې نور زیات تخریبات یې دځان سره درلودل نوهماغه ؤچې نړیوال دیته مجبور ه شول چې خپل اختلافات د صلحې دلارې حل وفصل کړي نه دجنګ او زورزیاتي دلارې چې په نړیواله سطحه یې هم داخبره مطرح کړه چې د اختلافاتو د حل یوائنۍ لاره سوله دهنه جنګ چې داکارد نړیوالو اړیکو نه پرته صورت نه نیسي نو هماغه ؤ چې د هېوادونو ترمنځ اړیکو ډیر پیشرفت وکړ .

**لومړی مبحث :-**

دسوله ایزې لارې داختلافاتو حل دشلم قرن تراوائلو پورې :-

لکه څرنګه چې مخکې ذکرشول چې دجنګ او جګړې له امله نړیوالو ته خاني او مالي زیانونه او خسارات ورواوښتل نو نړیوال پدې فکر کې شول

چې بایددا اختلافات دسولې له لارې حل وفصل کړي نه دجنګ اوجګړې له لارې ځکه جنګ اوجګړه دارام او هوسا ژوند دحل لاره نده بلکه دحل یواځنۍ لاره سوله وګڼل شوه چې پدې هکله مختلفو علمانو نظریات ورکړي دي چې مورېترینه په لاندې یادونه کوو :

- ❖ ویلیام پن ۱۷۱۸-۱۶۴۴ م کال پورې یې ژوند درلود نوموړی د انګلستان دکویکرد فرقې مذهبي عضوه ؤ هغه پدې عقیده ؤ چې کله د دولتونو ترمینځ اختلافات رامینځته کیږي ددغې اختلافاتو دحل وفصل لپاره باید یوه داسې مرجع موجوده وي چې ددې ترمینځ د سولې او منځګړیتوب پوره اوتام اختیارات ولري چې ددې کار لپاره باید ټول دولتونه سره متحد شي او په متجاوزهېوادباید هغه غرامات (تاوان) (Compensations)ومني او ورېې کړي.
- ❖ ژان ژاک روسو چې د ۱۷۱۲-۱۸۰۲ م کال پورې یې ژوند درلوده په ۱۷۶۱ م کې یو پیشنهاد و کړ او په پیشنهاد کې ویلې ؤ چې باید یو بین المللي فدراسیون تشکیل شي ترڅو د جنګ مخه ونیس او د نړیو الو اختلافاتو په حل وفصل کې کومک وکړي.
- ❖ امانویل کانت چې د ۱۸۰۴-۱۷۲۴ مېورې ژوند درلودده پخپلو وینا و کې ددایمي سولې په هکله ویل چې (ټول ملتونه او اقوام باید سره متحداو یو شي ترڅو سوله او امنیت رامنځته شي)

سره له دې نه چې دسولې په هکله مختلفو علماونظریات ورکړي وه مګر متاسفانه یو هم عملي جنبه غوره نکړه آمادې ضرورت احساسیده چې باید دجنګ اوجګړې دمخنیو پخاطر باید هلې ځلې وشي او نړیوال اختلافات دسولې له لارې حل وفصل شي هماغه ؤ چې ددغه کار لپاره

زیاتې هلې ځلې وشوې چې شلمه پېړۍ دهمدې له امله د یادونې وړدې چې هغه عبارت دي د لاهې د سولې د کنفرانس څخه چې په لاندې ډول ورڅخه یادونه کوو .

**لومړی : دلاهې د سولې کنفرانس : -**

داچې د نولسمې پېړۍ دویمه نیمایي تقریباً د اروپاد سولې او ارامۍ دوره شمېرل کیږي ځکه کوم جنګونه چې پدغه وخت کې رامینځته شولنډ وو مګر په همدغه وخت کې صنعتې پرمختګ ، تخنیک اوجنګي صنایعو هم ډېروده کړې وه او یوخطرناک حالت ته رسیدلي ؤ نو په همدې دلیل دسولې لپاره فکر کولو هم ډېر قدوت حاصل کړ چې بالاخره د ۱۸۹۹ م کال په اخر کې تزاري روسيي ددې توان نه درلوده چې خپله اسلحه او فوځي عسکرد فرانسې او المان په مقابل کې برابر کړي هماغه وه چې دلومړي ځل لپاره د لاهې دسولې نړیوال کنفرانس چې ۲۲ هېوادونو یکې برخه درلوده پدې خاطر تشکیل شو چې منازعات د جنګ او جګړې له لارې نه بلکه دسولېله لارې حل وفصل کړي .

خو شلمې پیړۍ د سیاست په نړۍ کې دخاصې توجه لرونکې وه ځکه دا پېړۍ د سیاستمدارانو په لیدو کتو سره پیل کیږي پدې مانا چې (دوم نیکولائي) دتزاري روسې صدر په کال ۱۸۹۹ م داروپایې دولتونو په ګډون د یو کنفرانس دجوړیدو غوښتنه وکړه چې نوموړي کنفرانس دهاګ (لاهې) په ښار کې جوړاو په لاندې مهمو موضوعاتو یېپرېکړه صادره کړه .

- ❖ نړیوال اختلافات باید د سولې او امن دلارې حل وفصل شي.
- ❖ په خمکنۍ جګړو کې به دبشري حقوقو دقواعدو او نورمونو رعایت کیږي

هغه صداقت چې په دې کنفرانس کې د ګډون کوونکو په احساساتو کې لیدل کیده هغه د دې صداقت او دسولې څخه پلوي وه چېنړیوال اعتماد یې ترلاسه کړي ؤ همدا دلیل وو چې نوموړي کنفرانس زیات بری ترلاسه کړل.

لدینه وروسته فرانسې اوچېند نړیوالې سولې او امنیت د غونډې دجوړیدو غوښتنه وکړه لدې نه وروسته امریکاپه کال ۱۹۰۴ م کې دیو نوي کنفرانس دجوړیدو غوښتنه وکړه امریکاپه کال ۱۹۰۴ م کې دنوي کنفرانسدجوړیدو غوښتنه وکړه مګر متاسفانه چې دروس او جاپان جګړو دپورته غوښتنو عملي کولو د څنډسره مخ کړه .

لینن په کال (۱۹۰۷ م کې د لاهې د سولې دوهم کنفرانس چې د تزاري روسیې په غوښتنه چې تقریباً (۲۰) هېوادونو پکې اشتراک کړیوو چې جوړشو چې زیاترهیې پرته له اروپائي هېوادونو څخه وو . د کنفرانس ګډون کوونکو دولتونو دیارلس عهدنامې لاسلیک کړي او په اخرکې یې داجباري قضاوت په اړوند یوه بیا نیه هم صادره کړه .

د لاهیې دصلحې د کنفرانسونو نتایج دومره ښه نه وه مګر بیا هم ویلای شو چې د سولې غوښتنې ارمان یې دځان سره درلود چې دلومړي ځل لپاره یې دنظامي سلاح ګانو کنترول او دورانونکو اتومي (شیمائي)سلاح ګانو د مسابقې دمخنیو موضوع یې د نړیوالو افکارو په وړاندې په سیاسي مستوي مطرح کړه او بل هغه څه چې پدې کنفرانسکې په حقوقیقواعدوته د احترام مسله وه چې جګړه ماردولتونه یې هغې ته متوجې کړل آماددې دومره هلو ځلو سره سره نړیوال پدې ونه توانیدل چې دلومړي نړیوال جنګ مخه ونیسي خو دلومړي نړیوال جنګ څخه وروسته د سولې او آرامی لپاره یوه بله

پروسه شروع شوه چې هغه دجامعه ملل دسازمان تشکیل ؤ چې داموضوع به په راتلونکي بحث کې ترمطالعې لاندې نیسو .

**دویم :- دجامعه ملل د سازمانتشکیل :-**

لومړی نړیوال جنګ چې په ۱۹۱۴ م کال کې شروع شو او دنړۍ اکثره برخې جنګ نیولي وې ورروسته دڅلور کلوجنګ نه د ډیرو مادي او ځاني تاوانونو او خساراتو سره په کال (۱۹۱۸) م پای ته ورسید.

د لومړي نړیوال جنګ نه ورروسته د لویو قدرتونو مشران د یو بین المللي نظام درامنځته کیدو په فکر کې شول ترڅو دجنګ اوجګړې مخنیوی وکړي پدې منظور ټول دپاریس د ورسایي ماڼۍ ته راټول شول ترڅو په اثبات ورسوي چې دهغې جبران تلافې وکړې او په اینده کې دداسې ناوړه پیښو مخنیوی وشي او نړیوال اختلافات د سولې له لارې حل وفصل شي دجامعه مللدسازمان د تحقیق لپاره دسولې کنفرانس په پاریس کې تشکیل شو چې دغې کنفرانس وظیفه درلوده چې دجامعه ملل دسازمان شکل او طرزالعمل جوړکړي دغه کمیسون ورروسته د څلور میاشتو هڅهونونه پدې توانیده چې د (۱۹۱۹) م کال د اپریل په (۲۸) نوموړی کنفرانس په تصویب ورسوي .

دجامعه ملل سازمان درامنځته کیدو یو مهم دلیل داهم ؤ چې په نړیواله سطحه دهېوادونو ترمینځ جنګونه رامینځته شول چې دغې جنګونو صرف د یو هېواد یادوو هېوادونو نظم ته صدمه نه رسوله بلکه د ټولې نړۍ نظم او امنیت یې دګواښ سره مخامخ کړی وو سره له دې چې دجامعه ملل سازمان ته داطمعه وه چې دجنګ مخنیوی به

وکړي او اختلافات به دسولې له لارې حل وفصل کړي خو په دې کارونه توانیده صرف دومره کاروشو چې کوم جنګ جریان درلود هغه دلږ وخت لپاره بند شو .
په دغه وخت کې هم دتیرپه شان جنګ دحل یولاره شمیرل کیده دجامعه ملل سازمان دجنګ بندی، لپاره یو قاطع او اجباري صلاحیت نه درلوده سره ددې نه چې دجامعه ملل سازمان په داخل کې ډیرې خالیګاوې درلودې خو بیا یې دې وتوانیده چې دلومړي نړیوال جنګ بدوعواقبو ته تریو حده خاتمهورکړي هماغه وو چې په ۱۹۲۰ م کال کې جامعه ملل سازمان د یونړیوال سازمان په حیث رامنځته شو او عملاً یې پخپل کارشروع وکړه چې په نړیواله سوله او امنیت کې ترینه یادونه کوو .
دریم :- دنړیوالو اختلافاتو په هکله دسوله ایز حل پروتو کول (دژنیو پوتو کول ):
کله چې د متقابلې همکاری، قرارداد شکست وخوړ او له منځه لاړه نو لدې سره دجامعه ملل سازمان دضعف نقطه هم رامنځته شوه .
په ۱۹۲۴ م کال کې د امریکایي لیکوالانو یوې ډلې د سولې یو قرارداد د جامعه ملل سازمان ته وړاندې کړ چې پدغه قرارداد کې دجامعه ملل دسازمان څخه غوښتل شوي وو چې (نړیواله سوله او امنیت او داتومي سلاح ګانو جوړول) یانې ددوی هدف داؤ چې د نړیوالې سولې او امنیت دراوستلو لپاره باید اتومي سلاح ګانې جوړې نشي او په هغې بندیزولګول شي مګر دغه پیشنهاد دجامعه ملل سازمان کې په تصویب ونه رسیده او نیمګړی پاتې شو .

له دینه وروسته دانګلستان او فرانسې لخوا هم د نړیوالې سولې او امنیت پخاطر یو بل پشنهاد چې د «ژنیو دپروتوکول» پنوم یادیږي رامینځته شو چې دغه دواړه پشنهادونه سره یوځای شول او دژینو دپروتوکول پنوم یې دسولې یو قرارداد رامینځته کړ چې دغه قرارداد په کال ۱۹۲۴ م کې د اکتوبر په دوهم نیټه په تصویب ورسید چې ددغې قرارداد مهم هدف دنړیوالې سولې او امنیت راوستل او په نړیواله سطحه د اتومې سلاحګانو بندیزاو کموالی ؤ .

ددغې قرارداد څلور مې مادې نه تراومې مادې پورې داسې ذکر شوي ؤ چې نړیوال اختلافات باید دسولې له لارې حل وفصل شي اوهمدارنګه د دغې قرارداد په (۱۰) لسمه ماده کې متجاوز او تیري کوونکي تعریف شوي ؤ چې متجاوز او تیري کوونکي څوک دي اومتجاوز هېوادونه یې په نړیوالو جرایمو باندې مجرم ګڼلي ؤ .

دغه پروتوکول دجامعه ملل دسازمان دټولو عضوه هېوادونو لخوا لاسلیک شو آما خپل هغه قانوني حیثیت یې غوره نکړه علت یې داوه چې (۴۹)هېوادونو دغه پروتوکول تصویب کړ مګر وروسته بیا (۱۹) نولس عضو هېوادونو دغه پروتو کول امضانکړ چې مهمترینله هغې هېوادونو له جملې څخه انګلستان او فرانسه ؤ چې ددغه قراراداد طرحه یې هم رامنځته کړې وه هماغه وه چې دغه قراردادد اجراء مرحلې ته ونه رسیده او داهم متقابلې همکارۍ دقرارداد پشان یې اکثره پاتې شو او له منځه لاړه .

دا یوه ثابت حقیقت دې چې په طول د تاریخ کې لوی قدرتونو د یو قرار داد پیشنهاد او وړاندیز هم کړی و خوکله چې داجراء مرحله راشي او داقرارداد دهغوی ملي منافعو سره په ټکر کې وي اګرکه د ټولې نړۍ

په ګټه وي خو بیاهم د هغې نه پرشاکیږي چې ښه بېلګه یې د امریکا دجمهور ریس ولسون دي چې دجامعه ملل دسازمان پشنهاد او طرحه یې وړاندې کړه مګر کله چې ددوی په ګټه نه وو ترینه ووته او دهغې نه وروسته د نړیوالو سولې او امنیت په خاطر د ژینو پروتو کول کې ؤچې ددې پشنهاد او وړاندیز دانګلستان او فرانسي لخواشوي ؤ مګر کله چې داجرامرحلې ته ورسید دغې دواړو هېوادونو ددغه پروتوکول د امضاء کولو څخه ډډه وکړه او قرارداد نیمګړی پاتې شواو له مینځه ولاړه.

**دملګرو ملتونو دسازمان تشکیل:**

په ۱۹۳۹ م کال کې د المان دجارحانه سیاست پیل کیدل او ددوهم نړیوال جنګ لپاره مقدمه کیښوده او دلږوخت په تیریدو سره یې د ټولې اروپا په شمول آسیاء ته هم سرایت وکړ.

دوهم نړیوال جنګ د لومړي نړیوال جنګ په څیر عالم انسانیت ته لا محدوده مشکلات او پرابلمونه رامینځته کړه او دهمدغه نړیوال جنګ په پای کې انسانان دډلیزه وژنکو سلاحګانو سره اشنا شول پدغه وخت کې د نړۍ سیاستمداران او مفکورې چې د یو نړیوال سازمان تجربه ورسره وه دیویل داسې بین المللي سازمان دجوړیدو په هڅه کې شول کوم چې دجامعه ملل په څیر نیمګړتیاوې ونلري دهمدغه مقصد دلاسته راوړلو پخاطر ددوهم نړیوال جنګ په دوران کې د یو موثر بین المللي سازمان دجوړیدو هڅې په چالاکۍ سره رواني وې چې په نتیجه کې دغه هڅې دکامیابۍ پړاوته ورسیدې او دملګرو ملتونو د سازمان اساس او بنیاد یې کیښود.

دلته باید یوې مهمې خبرې ته اشاره وکړواو هغه داچې دملګرو ملتونو سازمان لکه دجامعه ملل دسازمان په څیر د کوم مشخص فرد دذهن اختراع نه وه بلکه دملګرو ملتونو سازمان د څو بین المللي کنفرانسونو په نتیجه کې رامینځته شو.
نوویلای شو چې ددغه سازمان دجوړیدو پخاطر لاندې کنفرانسونه په مختلفووختونو کې منعقد شوي دي چې هر یو مطالعې او څیړنې لاندې نیسو.

**الف : دلندن اعلان :-**

په کال ۱۹۴۱م کې دجنون دمیاشتې په دولسمه نیټه د انګستان، استرلیا، نیوزلینډ،جنوبي افریقا، کاناډا او دڅو جلا وطنو حکومتونو مشران لخوا د سولې اوثبات درامنځته کولو غوښتنه وشوه او ورسره یې د نړیوال سازمان دجوړیدو غوښتنه هم وکړه ترڅو په نړیواله سطحه راپیښ شوي مشکلات د سولې له لارې حل وفصل شي.

**ب :-اوقیانوس تړون**

په کال (۱۹۴۱) م کې داګست دمیاشتې په پنځلسمه (۱۵) نیټه د امریکاد جمهور رئیس فرانکلن روزویلټ) او د انګستان د صدراعظم (ونستون چرچل) لخواد اوقیانوس په بحر کې په یوه کشتۍ کې یودبل سره ولیدل او ددواړو هېوادونو ترمنځ یوه معاهده لاسلیک شوه په معاهده کې دجنګ دمخنیوي او د نړیوال اقتصاد دبهتر کولو تعاهد وشو او همدارنګه دې موافقې ته ورسیدل چې نړیوال مسائل باید دسولیزې لارې حل وفصل شي نه دجنګ اوجګړې له لارې.

**ج:-دعضوه هېوادونو تعاهد :-**

دامریکالخوا د واشنګټن په ښارکې په کال ۱۹۴۲ م کې د ۲۲ هېوادونو نماینده ګانو دملګرو ملتونو د سازمان اعلامیه لاسلیک کړه او ټولو عضوه هېوادونو دا تعاهد وکړ چې تر آخروخت پورې به دهټلر دقواؤ په مقابل کې جنګ کوي .

**د:- دمسکو کنفرانس**

په کال ۱۹۴۳ کې داکتوبر په میاشت کې دمسکو په کنفرانس کې د څلوروسترو هېوادونو نماینده ګانو ګډون کړی ؤ چې عبارت دي له انګلستان ،روسیه امریکااوچین څخه پدغه کنفرانس کې هم دیو نړیوال سازمان دجوړیدو پشتیباني اوحمایت اعلان شو او دملګرو ملتونو دسازمان حمایت وکړ .

**ه :- دتهران کنفرانس**

په کال ۱۹۴۳ م ددسمبرپه میاشت کې د امریکا جمهور رئیس (فرانکن روزویلټ) او د انګلستان صدراعظم (ونستن چرچل) او دروسي جمهور رئیس (ستالین) په تهران کې سره غونډه شول او دیقین څرګندونه یې وکړه چې دوی به د نړیوالې سولې په راوستلو کې زرکامیابه شي او نړیوال مسائل به دسولې او مذاکراتو له لارې حل وفصل کوي .

**و:- د ډبارټن او کس کنفرانس**

په ۱۹۴۴ م کال کې د د سمبر په میاشت کې دمتحده ایالاتو ،انګلستان ،روسیي او دچین نماینده ګان دواشنګټن په ښارد ډمبارټن اوکس په ماڼۍ کې سره راجمع شول او په دغه کنفرانس کې دملګرو ملتونو دسازمان

ابتدائي شکل او خاکه یې جوړه کړه او په همدې توګه دویمو موضوع هم پدغه کنفرانس کې ترغور لاندې ونیول شوه .

**ز.- دیالتاکنفرانس**

د ۱۹۴۵ م کال د فیبروري په میاشت کې دروسي دکریما په ایالت د یالتا په سیمه کې دامریکا دمتحده ایالاتو جمهور رئیس فرانکلن روزو ویلټ ، دروسي جمهوررئیس ستالین او انګلستان صدراعظم ونستون چرچل سره ولیدل او داپرېکړه یې وکړه چې په ۲۵ داپریل د ۱۹۴۵ م کال به د امریکا دمتحده ایالاتوسان فرانسسکو په ښار کې یو غونډه جوړوي چې په هغه کې به ددغه سازمان منشوریه تصویب رسیږي .

**ح:- دسان فرانسسکو کنفرانس :-**

د ۱۹۴۵ م اپریل دمیاشت د ۲۵ څخه دجنون تر ۲۶ نیټې پوري داوږده مذاکراتو څخه وروسته ګډون کوونکو هېوادونو دملګرو ملتونو د سازمان دمنشور په ترتیب کولو باندې کامیاب شو او همدارنګه پدغه کنفرانس کې دعدالت دنړیوالي محکمې تګلاره هم تصویب شوله دسان فرانسسکو په کنفرانس کې ۵۰ هېوادونو برخه درلوده او په ۲۴ د اکتوبر کال ۱۹۴۵ م کې نوموړي نړیوال سازمان رامنځته شو دنوموړي سازمان عمومي اسمبلي دجنوري دمیاشتي په لسمه نیټه په کال ۱۹۴۶ م کې دنوموړي سازمان رسمي افتاحیه غونډه وکړه او ددغه سازمان مرکزد امریکا دمتحده ایالاتو دنیویارک ښارو ټاکل شو .

**د دوستانه اړیکو اعلامیه :**

د یو مهمو اعلامیونه چې دملګروملتونو سازمان د غړودولتونو ترمنځ یې ددوستانه اړیکو فضاء رامنځته کړه هغه دبین المللي حقوقو په مورد ګې

دهېــواد نــو تــرمینځ د دوســتانه روابطــو اوهمکــاري کــول دي دملګرو ملتونو منشور په اساس
دملګرو ملتونو دمنشور (چارټر) ددوستانه روابطو په هکله داسې وايي :
(دولتونه باید نړیوالو اړیکو په ساحه کې یو دبل سره زور او تهدید څخه کار وانخلي او یوهېواد باید دبل هېواد د ارضي تمامیت ته احترام ولریاو هغه اعمال اجراء نکړي چې دملګرو ملتونو د سازمان دمنشور خلاف وي.)
همدارنګه دملګرو ملتونو دسازمان دمنشور په همدې اصل کې راغلي دي چې زور او تهدیدباید دنړیوالو اختلافاتو دحل وفصل په حیث استعمال نشي.
نړیوال اختلافات باید د ملګرو ملتونودسازمان د منشور په دوهم اصل چې عبارت دي له دي څخه (ټول دولتونه مساوي حقوق او ازادي لري) دهمدې اصل په بناء نړیوال اختلافات باید حل وفصل شي څکه چې نړیوالي سولي او عدالت ته خطرمواجه نشي او کچېري احیاناً نړیوال اختلافات رامینځته شي بایــد دمــذاکراتو ، منځګړیتــوب ســولي، ســازش ، مفــاهمي او نوروو سائلو له لارې حل وفصل نه د زور او جنګ له لارې .

- دسوله ایزي لاري دنړیوالو اختلافاتو دحل وفصل روشونه (طریقې) په نړیوالـه سطحه چې دهېوادونوترمینځ کوم اختلافات رامینځته کیږي هغه یو دبل سره مخالفت او مغایرت لري کیدای شي چې ځینې اختلافات حقوقي جنبي ولري او ځینې کیداي شي چې سیاسي جنبي ولري چې حقوقي اختلافات دحقوقي روشونو له لارې حل وفصل کوؤ او سیاسي اختلافات ددیپلوماتیکو اصولو او روشونوله لارې حل او فصل کوؤ چې داهر یو بیل ، بیل ترڅیړني او مطالعي لاندې نیسو .

**د نړیوالو اختلافاتو حل وفصل دحقوقي روشونو پواسطه :**

څرنګه چې مخکې ذکرشو چې هر یو له دغه روشونو ته ځانته ځانګړې قواعداواصول لري چې حقوقي اختلافات هم ځانته خاص اصول او شرایط لري چې دهغې څخه په استفادې سره حقوقي نړیوال اختلافات حل وفصل کیږي چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو.

- دنړیوالو اختلافاتو دحل وفصل لپاره دواړو غاړو څخه تضمین اخیستل کیږي او یوه دریمګړې مرجع ټاکل کیږي چې قاعدتاعادلانه او بیطرفه وي
- دمنازعي طرفین باید پدې قانع کړل شي چې منځګړي پرېکړه به قبلوي.
- کله چې یو دریمګړی هېواد یا بله کومه مرجع ددوي ترمنځ پرېکړه وکړي اودغه طرفین دغه موضوع ونه مني نو اختلاف ددوي ترمنځ باقي پاتې کیږي څکه کیدای شي چېهېواد داخلي منافعو او یاعامه حقوقو ته ضروروي.

سره لدینه چې په حقوقي ډول داختلافاتو حل ډېرې مزایاوې لري ځینې نواقص او عیبونه هم لري چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو.

۱. په حقوقي ډول د اختلافاتو دحل لپاره د یو داسې روش څخه استفاده کیږي چې یو طرف کاملا حقدار ګڼل کیږي او ټول حق هغه ته اورول کیږي او بل طرف کاملا بې برخي ګڼل کیږي که په ټول مواردو کې داسې ونشي نو په اکثره موارد و کې داسې کیږي نو دهېوادونو لپاره داپرېکړه ډېره سخته او غیر قابل تحمل ګرځي..

۲. یا داچې حتي الامکان حقوقي روش ددي باعث ګرځي چې هېوادونه د عدالت د نړیوالې محکمې دآوامروڅخه سر غړونه وکړي په

عمــومي ډول پــه نړيوالــه ســطحه چــې کــوم اختلافــات وجــود لــري د هېوادونو ترمنځ هغه حقيقي جنبې لري چې يو دولت په بل دولت باندې دخپل حق ادعا کوي او ياداچې يو هېواد يې دخپل ځان لپاره حق ګڼي ولـې مقابـل لـوری يـې نـه منـي چـې دتـاريخ پـه اوږدو کـې دحقـوقي اختلافاتو دحل لپاره د لاندې دوه روشونوڅخه استفاده کيده .

- قضاء او محکمې ته مراجعه کول .
- قاضي ته مراجعه کول .

**ب : دنړيوالو اختلافـاتو حـل وفصل دسياسي او ديپلوماتيکو روشونو پواسطه .**

لکه څرنګه چې مخکې توضيع شو هغه اختلافات چې په بين المللي سطحه ددولتونو ترمنځ رامنځته کيږي او پراخوالی پيداکوي يو دبل سره متفاوت دي چې ځينې له هغې نه حقوقي او ځينې سياسي دي چې نړيوال اختلافـات دهغې پواسطه حل وفصل کيږي .

حقوقي روشونه په نړيواله سطحه اجباري جنبـه لـري مګـر سياسـي روشـونه دحقـوقي روشـونو بـرخلاف اجبـاري جنبـه نلـري بلکـه پـه متقـابلې همکـارۍ باندې استوار دي.

حقوقي روشونه چې کله د محکمې او يا قاضي لـه خـوا صادرشي او پـه يـوه موضـوع بانـدې پرېکـړه وکـړي نـو دهغـې پـه اجراء بانـدې هېـواد ملـزم ګڼـل کيږي مګر په سياسي روشـونو کـې چـې کلـه ديـودريمګړي هېواد ياسـازمان لخوا ترسره شي طرفين کولی شي چې متنازعه فيه مسئله چې حـل شـويده ومني او يا دهغي دمنلو څخـه انکـاروکړي چـې د اختلافـاتو دغـه قسـم حـل وفصـل (دسياسـي روشـونو پواسـطه ) دملګروملتونـو دسـازمان دمنشـور پـه (۳۳) مـاده کـې هـم ورتـه اشـاره شـويده او ذکـر شـويدي چـې هېوادونـه بايـد

خپلاختلافات د مذاکراتو شازش او سوله ایزي طریقې له لارې حل وفصل کړي نه دجنګ اوجګړې له لارې .
پدې ځای کې اوس موږ دامطالعه کوؤ چې په سیاسي او دیپلوماتیکو روشونو کې دکومو وسائلو او طریقو څخه استفاده کیږي چې دنړیوالو اختلافاتو دحل وفصل کیدو سبب ګرځي چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو.

**مذاکرات ( خبري اترې )( Negotiation):**

مذاکرات د سیاسي روشونو د وسایلو او طریقو څخه یودې چې هېوادونه یې نړیوالو اختلافاتو په حل وفصل کې ترینه استفاده کوي . مذاکرات معمولاد طرفینو ترمنځ مخامخ ترسره کیږي چې دیته مستقیم مذاکرات وایي او د مذاکراتو دغه طریقه په زیاتو هېوادونو کې د پخوازمانې راهیسې رواج لري دغه مذاکرات د نړیوالو اړیکو د تنګښت په هکله په مختلفو طریقو سره ترسره کیږي . د مذاکراتو کومه طریقه چې اوس یې ګورو د ډیرې زمانې راهیسې جریان لري او د هېوادونو ترمنځ دسولې اوجوړجاړي دیوې وسیلې په حیث استعمالیده .
بناپردې سره مستقیم مذاکرات معمولاً دمتنازعه فیه ډلو ترمنځ قدیمي ترین او په عین حل کې ساده ترینه وسیله ده د نړیوالو اختلافاتو دحل فصل لپاره د هېوادونوترمینځ مذاکرات هغه وخت رامینځته کیږي چې یو پر بل اعتماد ولري .
ترڅو ورپیښې شوي مسائل دمذاکراتو له لارې حل وفصل کړي .
مستقیم مذاکرات کیداي شي چې درئیس جمهور د دیپلوماتیکو نماینده ګانو لخوااو یا د یو نړیوال کنفرانس په موجودیت کې صورت ونیسي په نړیواله سطحه او نړیوالو حقوقو په چوکات کې ددولتونو ترمینځ مذاکرات

یو ه قانوني جنبه لري او د نړیوالو اختلافاتو دحل فصل کیدو بهترینه وسیله شمیرل کیږي.
چې هېوادونه د اختلافاتو درامنځته کیدو په وخت کې اول دهمدغې وسیلې نه چې مذاکرات او مفاهمه ده استفاده کوي همدغې خبرې ته دملګرو ملتونو دسازمان د مشور په (۳۳) ماده کې اشاره شویده اوویل شویدي چې (دولتونه باید خپل اختلافات دسوله ایزي طریقې او مذاکراتو له لارې حل وفصل کړي نه دجنګ له لارې) چې نړیوال معاهدات هم پدې اړه تاکید کوي چې دولتونه باید خپل اختلافات د مذاکراتو له لارې حل وفصل کړي دمذاکراتو مهم ترینې ګټې دادي چې شدید او سخت ترین اختلاف نرموي او دیته زمینه برابروي چې اختلافات حل وفصل شي.
د مذاکراتو لس عمده اصول:
لخوا طرح شوي چې په لاندې ډول ترینه ذکرکوو: Hernandez او Graham دا د

۱: فقط تخلیقي نتایج باید قبول شي.
۲: په کلتور پوهیدل ضروري دی په خاصه توګه خپل.
۳: د کلتوري اختلافاتو اصلاح کولو هڅه باید ونشي بلکه کار څخه واخیستل شي.
۴: استخبار یه راټوله شي او د مشکل د ساحي پلټنه وشي.
۵: د غونډې معلومات او عملیه طرح شي.
۶: سوالونه وکړای شي او معلومات جمع او ځان پرې پوه کړای شي.
۷: تر آخره پوري باید پرېښودنه او لحاظ ونشي.
۸: تخلیقي تخنیکونه استعمال کړای شي.
۹: اتمه طریقه باید تر آخره پوري دوام وکړي.

سازش ( Compromise)

سازش اوجوړجاړي او نړیوالو اختلافاتو دحل وفصل یوه سیاسي حل لاره ده چې دغه سازش د پلټنې او منځګړیتوب ښځه په لاس راځي دغه طریقه کیداي شي چې طرفین پخپلو کې موافقه وکړي او دنړیوالو اختلافاتو دحلو فصل لپاره یوه لاره راوباسي .

د اختلافاتو دحل وفصل کول دسازشله لارېپیدې روش او طریقه کې یو دریمګړي، هېواد حق نه لري چې پخپل سرمداخله وکړي او دهېوادونو په داخل مسائلو کې برخه واخلي ترڅو چې د طرفینو لخوا ورته اجازه نه وي شوي دبین المللي اختلافاتو په حل وفصل کې دسازش زیات بېلګې په سترګو کیږي خصوصاً دملګرو ملتونو دسازمان دتشکیل چې وروسته داضروري وګڼل شوه ترڅو دنړیوالو موضوعاتو دحل وفصل په طریقو کې دسازش نه هم کارواخستل شي دغه عمل ته دجامعه ملل دسازمان په منشورکې اشاره شوي وه چې دمنشور په (۱۱)او (۱۵) مادو کې راغلي وه چې دنړیوالو اختلافاتو دحل لپاره دولتونه باید پخپلو سره دمذاکراتو او جوړجاړي نه کارواخلي هماغه وو چې دلومړي نړیوال جنګ چې وروسته زیات قراردونه دسازش پواسطه رامنځته شویدې چې دسلو نه زیات کمیسوونه پدې رابطه تشکلیل شوي دي ددغي قراردادونو په نتیجه کې په کال (۱۹۲۰) م کې داجامعه ملل سازمان پخپل دریم اجلاس کې دسازش اوجوړجاړي یوه قطعنامه‌په تصویب ورسوله ددغه پریکړه لیک پواسطه دسازش اوجوړجاړي وظیفه د جامعه ملل دسازمان دامنیت شوراته وسپارل شو چې دغه وظیفه سپارل دجامعه ملل دسازمان دمنشورپه (۱۵۹ او (۱۷) مادوکې ذکر شویدي مګر متاسفانه هیڅ یو نړیوال کمیسون د سازش لپاره تشکلیل نشو مګر بیاهم دهېوادونو ترمنځ تقریباً (۲۰۰)

قراردادونه دوه جانبه او څو جانبه منعقدشو چې دا قراردادونه په همدغه رابطه وو .
ددویم نړیوال جنګ څخه وروسته مختلف کمیسونونهېدې رابطه رامنیځته شو تر څو نړیوال اختلافات چې دهېوادونو ترمېنځ رامینځه ته شویدي دسولې له لارې حل وفصل کړي چې دهغې له جملې څخه د (۱۹۴۸) م کال داپریل دمیاشتي په (۳۰) نیټه دامریکائي هېوادونو ترمینځ یو قرارداد منعقد شو چې د (بوګوټا قرارداد) په نوم سره یادیږي او دغه امریکائي هېوادونو داسې پرېکړه وکړه چې نړیوال اختلافات به دسازش اوسولې له لارې حل وفصل کوو .
همدارنګه په کال (۱۹۴۸) م دمارچ په (۱۷) نیټه د بروکسیل قرارداد چې دانګلستان فرانسي ، بلژیک ،، هالیند او لوګزامبورک ترمینځ منعقدشو او داسې پرېکړه یې وکړه چې نړیوال اختلافات به دسازش اوسولې له لارې حل وفصل کوو .
په نړیواله سطحه داسې نور زیات بېلګې لیدل کیږي چې دنړۍ هېوادونو خپل مسائل او منازعات دسازش له لارې حل اوفصل کړي وي .

## د منځګړیتوب په وسیله د جنګ مخنیوي طریقې

۱: د ګاونډي ملک سره خبرې اترې
۲: د دواړو طرفونو خبرول
۳: د دواړو تر مینځ فرقونه معلومول
۴: سنجونه (عادلانه)
۵: د هر یو نقاطو ته پاملرنه کول
۶: نوماندې او ریښتنولې څرګندونه

۷: افهام وتفهیم ساتل

۸: متقابل احترام او حسن تعبیر څرګندونه

منځګړیتوب څو مهم عناصر لري چې په لاندې ډول دي:

۱: هر یو طرف ته وخت ورکړای شي چې خپله قیصه بیان کړي.

۲: د بحران یا مسلې پیژندنه

۳: د دلچسپیو او اهدافو تفصیلي وضاحت او مشخصوالي

۴: موضوعي ارضیایي د ارزښتناکه اهدافو شکل ته اړول

۵: د رایو پیژندنه

۶: بحث او د مختلفو حلونو د ممکنه تاثیراتو تجزیه او تحلیل

۷: د پیشنهاد شوو حلونو اصلاح او شفافیت

۹: د توافقنامو یاداشت د لیکلي مسودې په شکل

دنړیوالو سازمانو پواسطه منځګړیتوب :-

د ډیري پخوا زماني څخه دسختو نړیوالو جنګونو اودانساني او مادي تلفاتو رامنځته کیدل او په اخرکې بیاداهر څه بې نتیجې پای ته رسیدل نړیوال دیته مجبوره کړل ترڅو پخپل مینځ کې یو د بل سره په سوله کې ژوند وکړي .

دیو دایمي سولې او استقرار رامینځته کیدل او دجنګ له مینځه وړل د ډیرپخوا زمانې څه د فلاسفوو ، علماؤ او روشن فکرانو دانظر درلوده چې باید عملي وي او یو نړیوال سازمان رامینځته شي ترڅو اختلافات ختم او دسولې او امنیت لپاره کار وکړي خو دعلماؤ دغه نظرته چندان استقبال ونشو چې وروسته د علماؤ دغه نظریاتو په (۱۹) قرن کې سیاستمدارنو توجه وکړه او دیو نړیوال سازمان د رامینځته کیدو په فکر کې شول .

دهمد غې هلو ، ځلو په نتيجه کې وو چې د (۱۸۹۹) نه تر (۱۹۰۷) کلنو په مينځ کې دلاهي دسولې‌کنفرانس جوړوي چې يوه دايمي سوله به رامينځته کړي مګر متأ سفانه چې دغه خوبونه او فکرونه د (۱۹۱۴) م کال په رارسيدو سره په بد حالت بدل شو چې هغه دلومړي نړيوال جنګ رامينځته کيدل وو دسولې او امنيت لپاره چې څومره هلې ، ځلې شوې وې هغه د خاور و سره خاورې شوې او نړۍ يو ځل بيا په بد حالت کې قرار وموند دغسې نړيوال جنګ چې لدينه مخکې يې هيڅ تاريخي سابقه نه درلوده د (۱۹۱۴) م نه شروع تر ۱۹۱۸م کال پورې يې ادامه پيدا کړه پدغو دوران کې د نړۍ سولې او امنيت ته لوې تاوان ورسيده .

هماغه وو چې د څلور کاله سخت جنګ او جګړې څخه وروسته د لويو قدرتونو لخواد يو نړيوال سازمان د رامينځته کيدو پشنهادوشو چې پدې هکله دامريکا جمهور رئيس ويلسون يو څلورلس فقريزه پلان طرحه کړ چې په څوار لسمه ماده کې يې دجامعه ملل سازمان دجوړيدو غوښتنه کړې وه هماغه وو چې د لويو قدرتونو لخوا داپشنهاد ومنل شو او په (۱۹۲۰) م کې دجامعه ملل سازمان عملاً رامينځته شو او پخپل کاريې شروع وکړه چې نسبتاً يې د نړيوالې سولې او امنيت لپاره زيات کاروکړې .

دا چې دجامعه ملل دسازمان تفصيل او رامينځته کيدل او په نړيوال امنيت او سوله کې دهغې رول مخکې په مفصل ډول سره ذکر شويدې بيا دهغې دذکر کولوڅخه صرف نظر کوو اوس به دلته دملګروملتونو دسازمان او نورو بين المللي او منطقوي سازمانونو رول او نقش په نړيواله سوله او امنيت کې ترڅيړنې او غور لاندې نيسو .

**لومړي : دملګرو ملتونو دسازمان منځکړیتوب**

دملګرو ملتونو دسازمان دعمده وظایفو څخه یو هم دسولې او امنیت ټینګول دي په نړیواله سطحه باندې او نړیوال موضوعات او مسائل دسولې اومسالمت آمیزې لارې حل وفصل کول دي چې دغه موضوع دملګرو ملتونو دسازمان د منشور په مقدمه هېوادونه کې ذکر شویدهاو پدې خبره باندې تاکید کړیدي .

دذکر وړه ده چې دملګرو ملتونو سازمان تقریباً (۳۲) نړیوال موضوعات د سولې او مذاکرې له لارې حل وفصل کړي دي چې دغه موضوعات صرف د ۱۹۴۵ م نه تر ۱۹۷۵ کاله پورې رامینځته شوي وو چې دغو موضوعاتو دوه جانبه ، او څو جانبه جنبي درلودې همداشان نور نړیوال منازعات او مناقشات هم دنوموړي سازمان پواسطه حل وفصل شوي چې پدې ځاې کې دهغې ټول دیادونو څخه صرف نظر کوو خودلته باید دیوې خبرې یادول ضروري ده او هغه داچې د ملګرو ملتونودسازمان پورې مربوط ځینې نوراورګانونه هم شته چې دنړیوالو سولې او امنیت دراو ستو لپاره پراخه صلاحیتونه لري او پدې هکله یې زیات اقدامات کړیدي چې ددغې ارګانونو څخه په لاندې ډول یاونه کوو .

❖ **دملګرو ملتونو دسازمان عمومي اسمبلي** : -

عمومي اسمبلي هم دملګروملتونو دسازمان پیشنها د وه نړیوالې سولې او امنیت په هکله پراخه صلاحیت او اختیارات لري چې دعمومي اسمبلۍ وظایف د نړیوالو سولې او امنیت په هکله د ملګرو ملتونو دسازمان د منشورپه (۱۱) ماده او بندکې داسې ذکر شویدي .

(عمومي اسمبلي کولای شي چې دوړو لورو څخه سلاح واخلي او خلع سلاح یې کړي او یاجانبینو ته توصیه وکړي ترڅو دجنګ څخه لاس واخلي)

همدارنګه دملګرو ملتونو سازمان د منشورپه (۱۴) ماده کې ذکرشويدي چې عمومي اسمبلي د (۱۲) مادي په اساس سره کولای شي چې دهرقسم وسايلو څخه چې احتمال لري د نړيوالې سولې او امنيت په راوستو کې ترينه استفاده وکړي دملګرو ملتونو دسازمان دمنشور (۱۲) مادي څخه داسې څرنګند يږي چې عمومي اسمبلۍ د نړيوالوالي سولې او امنيت په راوستو کې په دوهمه درجه کې قرارلري عمومي اسمبلۍ په نړيوالو مرضوعاتو کې رغنده رول لوبوي چې دنمونې په ډول يې يو څوبېلګې ذکر کوو .

په ۱۹۲۵ کال دنومبر په (۱۴) نيټه د شوروي اتحاد مداخله په مجارستان کې چې لدغي مداخلي سره سم دملګرو ملتونو عمومي اسمبلي دملګرو ملتونو دسرمنشي څخه وغوښتل چې دمجارستان په موضوع کې دې پوره تحقيقات وکړي او ديو منځګړي په صفت دي هغې ته يو دحل لاره پيداکړي همدارنګه کله چې شوروي اتحاد په افغانستان باندې حمله وکړه بياهم دملګرو ملتونو دسازمان عمومي اسمبلۍ ملګروملتونو دسرمنشي څه وغوښتل ترڅو د غي موضع ته يوه دحل لاره پيداکړي او دغه موضوعات دعمومي اسمبلۍ دهڅو پواسطه بيدون دجنګ او جګړې څخه حل شويدي

❖ دامنيت شورا .

لکه څرنګه چې مخکې ذکرشول دملګرو ملتونو دسازمان عمومي اسمبلي پخپل ځای کې دنړيوالي سولې او امنيت په هکله کافي اختيارات لري مګر ددغه اختياراتو سره ځينې محدوديتونه هم لري يانې په مجموع کې ټول اختيارات چې د نړيوالوالې سولې او امنيت په رابطه کافي او تام اختيارات لري د امنيت شورا يې د نړيوالې سولې او امنيت يواصلي ترين او مهمترين ارګان شميرل کيږي په نړيواله سطح چې د هېوادنو ترمينځ په

هره نقطه کې کوم مشکل رامینځته کیږي د امنیت شوراهغې ته رسید ګې کوي چې دغه اختیار دمنشور په (۲۴) ماده کې ذکر شویدي .
همدارنګه دملګروملتونو دسازمان دمنشور په شپږم فصل کې ذکرشویدي چې دامنیت شوري دنړیوالې سولې او امنیت په راوستو کې په لومړي قدم کې باید دتوصي ځخه کار واخلي که توصیه عملي نشوه نو دوهمه قدم د امنیت شورابايد پرې اقتصادي بندیزونه ولګوي که داکار هم موثر واقع نشو نو په دریم قدم کې دملل متحد د امنیت شوراصلاحیت لري چې د تیري کوونکي او تجاوزکوونکو هېواد په مقابل کې مسلحانه اقدام وکړي په طول دتاریخ کې دامنیت شوراپه نړیواله سوله او امنیت کې رغنده رول لوبولی دی چې بېلګې یې په لاندې ډول سره ذکر کوو .
کله چې داندونیزیا دهېواد او هالنډ د هېواد ترمینځ شخړه رامینځته شوه نو پدغه قضیه کې دامنیت شورا یوه کمیټه تعین کړه ترڅو د غي قضیي ته رسیده ګي وکړي او رامینځته شوي قضیه یې دسولې او مذاکراتو له لارې حل وفصل کړه .
همدارنګه کله چې دهنداوپاکستان ترمینځ دکشمیر لانجه رامینځته شوه نو پدغه قضیه کې هم د امنیت شورا دسولي یو کمیسون تعین کړي وو داسې نورزیات بېلګې شته چې د امنیت شورا دنړیوالوالي سولي او امنیت دراوستو پخاطر مختلف اقدامات ترسره کړیدي .

**دوهم : د نړیوالو منطقوي سازمان نونو منځګړیتوب :**

دنړیـوال جنـګ ځخـه وروسـته بیـا خـصوصاً دملګـرو ملتونـو دسـازمان دتـشکیل ځخـه وروسـته پـه منطقـوي سـطحه د بـین المللـي سـازمانونو دتشکیل لپاره ډیري ګړندی هلې ځلې رواني شوې ترڅو دمنطقي منـافع پـه نظر کې ونیسي او د سولې او امنیت په راوستو کې یودبل سره همکاري او

مرسته وکړي ملګرو ملتونودسازمان منشورهم دا قسم منطقوي سازمانونه جواز کړیدی چې د منشورد اتم فصل (۵۲) مادي په اول بند کې داسې تصریح او وضاحت شویدي :

(د ملګرو ملتونو سازمان د منطقوي بین المللي سازمانونو دجوړیدو مخالف ندی ترڅو چې دنړیوالې سولې او امنیت دراوستولپاره کار کوي او یاداچې د هغې فعالیتونه د ملګرو ملتونو دسازمان او یاد نړیوالې سولې او امنیت په خلاف نه وي )

بنا پدې دغه منطقوي نړیوال سازمانونو دنړیوالو سولې او امنیت په راوستو کې ډیر رول درلوده کله چې به ددولتونو ترمینځ کوم اختلافات رامینځته شو مخکې لدینه چې د ملګرو ملتونو سازمان ته حواله شي نودغه منطقوي سازمان به د هغې دجوړیدو هڅه کولو داهمیت په اړه ویلی شو چې منطقوي نړیوال سازمانونو دنړیوالوالې سولې او امنیت په راوستو کې په اوله درجه کې قرار لري دغه منطقوي نړیوال سازمانونه ډیر زیات دي د موضوع درو ښتنیالپاره صرف دیو څو څخه په لاندې ډول یادونه کوو.

**لومړی : د افریقا دمنځګړیتوب سازمان-**

د ۱۹۵۴ م کال څخه وروسته کله چې افریقایي هېوادونو یو دبل پسې د اروپائي هېوادونو څخه ازادي واخستې نو دافریقا دلویې وچې هېوادونو څخه ازادي واخسته نو دافریقا دلویې وچې دهېوادونو تعداد ورځ په ورځ اضافه کیده نو هماغه وچې دغه هېوادونو پخپل مینځ کې دافریقا دوحدت په نوم یو منطقوي نړیوال سازمان رامینځته کړ چې هدف یې دنړیوالولې سولې او امنیت رامینځته کول وه.

د افریقا دوحدت نړیوال منطقوي سازمان په (۱۹۶۳) م کال کې دګانا دجمهور رئیس لخوا پیشنهاد شو او ورسره (۷) نورو افریقایي

هېوادونو پدې کار موافقه وکړه بلاخره په ۱۹۶۳ م کال کې دحبشې په پلازمینه ادریس ابابا کې ټول افریقائي هېوادونو د افریقا دوحدت په منطقوي سازمان کې برخه واخسته په استثنا ء د مراکش او توګو څخه چې دغه دوه هېوادونهدې لوی کنفرانس ته حاضر نشو . د افریقا د واحد سازمان په ۱۹۶۳ م کال کې دسپتمبر په (۷) نیټه عملاً په کار شروع وکړه ددغه سازمان اساسي هدف داوه چې هېوادونو ترمینځ راپېښ شوي مسائل او منازعات دسولې او مذکراتو له لارې حل اوفصل کړي او دجنګ اوجګړي مخنیوي وکړي .

**دویم :– دامریکائي هېوادونو د منځګړیتوب سازمان :-**

دامریکالویه وچه د بین المللي حقوقو دنظره دفدرال سازمانونو دجوړېدو او تجربو یو ښه میدان وو ځکه چې امریکائي هېوادونو زیات وخت د اروپائي هېوادونو د استعمار لاندې پاتې شوې وه کله چې په (۱۹) قرن کې امریکائي هېوادونو د اروپا څخه استقلال ترلاسه کړنوپدې هڅه او هاند کې شول ترڅو پخپل مینځ کې یو منطقوي نړیوال سازمان رامنځته کړي چې ددغه سازمان هدف داوه چې دامریکا په لویه وچه کې چې کوم منازعات او قضایاوي رامینځته کیږي هغه باید دسولې او مذاکرتو له لارې حل وفصل شي نه دجنګ او زورزیاتي له لارې .

ددغه سازمان دجوړېدو لپاره اروپائي هېوادونو هم ډیرې هلې ځلې وکړي مګر کومه نتیجه یې ورنکړه بلا اخره کله چې په ۱۹۱۰ م کې دامریکا په لویه وچه کې تکمیل شوه نو دغه سازمان یې رامینځته کړ ددغه سازمان د جوړېدو لپاره په لومړي ځل ( ۱۸۹۰ ) م کال کې ځینې امریکائي هېوادونو شروع وکړه او دهغې نه وروسته یې په ۱۹۲۳ م کال د ګوند ارا په نوم معاهده رامینځته کړه آما له دې څخه وروسته یې په (۱۹۴۸ ) م کال کې یو

مرکزي سازمان دسولې تشکيل کړ چې دغې سازمان لاندې درې معاهدې تصويب کړې.

- ❖ دمتقابلې همکارۍ معاهده چې دامريکايي هېوادونو ترمينځ به کيږي دامعاهده په (۱۹۴۷) م کې تصويب شوه.
- ❖ دامريکائي هېوادونو دسازمان منشوريې په (۱۹۴۸) م کال کې تصويب کړ.
- ❖ بلاخره په (۱۹۴۸) م کال کې د نړيوالو اختلافاتو وحل دسولې او مذاکراتو له لارې يوه معاهده تصويب کړهچې د (بوګوټه پيمان ۹ په نوم سره يادېږي.

همداشان يوه بله معاهده چې د (۱۹۶۰ - ۱۹۷۰) م کلونو په مينځ کې وشوه ددې معاهدې هدف دهستوي سلاح ګانو کنترول او بندول وه تو په خلص ډول ويلای شو چې ددغه سازمان د رامينځته کيدو هدف نړيواله سوله او امنيت ؤ او بس.

**دريم : د سره صليب د نړيوال بشري سازمان منځکړيتوب :**

د سره صليب نړيوال سازمان يوه نړيواله مرستنديه موسسه ده چې عمومي همکارې او خدمتونه ترسره کوي دهغو خلکو سره چې درنګارنګ حوادثو ،خساراتو او دمالي اوبشري تلفاتو ښکارشوي وي.

د سره صليب دنړيوالې کميټې دجوړيدو اساسي هدف د ۱۹ سخت ترين جنګونه وو چې بلاخره په (۱۸۶۴ کال کې نوموړې کمېټه ايجاد شوه.

ددغې کميټې بنياد د لومړي خل لپاره ديو سويس لخوا (هانريدونان) نوميده کښيدل شو دغې کميټې دوه اساسي اهداف درلودل . چې يو له طبعي حوادثو لکه زلزله سيلاب او نور ... دقربانيانو سره مرسته او کومک

او بل دجنګ په دوران کې دزخمیانو سره مرسته او دهغوی علاج کول و دجنګي اسیرانو تبادله او نوربشري مرستي ورسره کول .
ددغې کمیټې د رامینځته کیدو هدف هم دنړیوالې سولې او امنیت راوستل وه .

**دسولې په وخت کې نړیوال روابط داسلام دنظره :**

اسلام په هر وخت او حالاتو کې خلک سولې او امنیت ته دعوت کوي .
جنګ اوجدل دشیطان دمکرونو او لارو څخه ګڼي او هر څوک چې د جنګ لاره نیسي په حقیقت کې دشیطان په قدم باندې قدم ږدي.هرې لارې چې مسلمانانو ته د سولې پیغم رارسیږي نو باید زرترزره هغه ومني او دجنګ څخه لاس واخلي .
چې دغې مطلب ته قرانکریم هم اشاره شوي ده او قرانکریم نړیوالو ته دسولي آمن پیغام ورکوي پداسې حال کې چې اسلام سوله دانساني روابطو دیو عمده اصل په حیث سره پیژني همدارنګه مسلمانانو ته هم اجازه نه ورکوي چې په نورو باندې تیري او تجاوز وکړي مګر پداسې حال کې چې دمسلمانانو عمومي ازادي سلبیږي او یاداچې مظلومان ترینه دکومک او مرستې غوښتنه وکړي او یا دمسلمانانو په کومک خاوره باندې دکفارو لخوا تیری اوتجاوز وشي نو دهغې څخه دفاع کول ضروري دي داسلام مبارک دین دهر دولت قلمروو ازادۍ ته احترام لري په اسلام کې متمدن او ورسته پاتې هېوادونه یو پربل فوقیت نلري . او ټول هېوادونه او افراد یو دبل سره په وړاندې مساوي حقوق لري. اسلام هیڅاته دجنګ شروع کولو اجازه نه ورکوي مګرپه هغه صورت کې چې دمسلمانانو په حقوقو باندې نور خلک تیری اوتجاوز وکړي .

دنبي کریم (صلی الله علیه وسلم) دبعثت او دقرانکریم دنزول څخه مخکې دنیا دیو ځنګل حیثیت درلوده او هر قوي به په ضعیف باندې حمله کوله او کله به چې ددوی ترمینځ کوم عهد اومعاهده رامینځته شوه نو ددغې معاهدې احترام به تر هغه وخت پورې کیده چې مقابل جانب به له دیو سره په قدرت کې برابر وو خو کله به یې چې قدرت کم شو نو فوراً به یې پرې حمله کوله او دهغې معاهدې اوعهد به یې هیڅ خیال نه ساته متاسفانه نن ورځ هم په نړۍ کې هماغه معمول دي لکه څرنګه چې دجهالت په دور کې معمول وو یانې لوي قدرتونه پورته کیږي او کمزوري هېوادونه او اقوام ترپښو لاندې کوي او دهغوی شتمني لوټ کوي نن هم دتیري په شان هیڅ یو عهد او پیمان ته دقدرت په سترګو نه لیدل کیږي مګر په هغه صورت کې چې دمقابل جانب دقدرت موازنه ورسره یو شان وي مګر ددې په مقابل کې اسلام خلک دهدایت ، نجات ، سعادت ،سولې او امنیت خواته رابولي او اسلام خلکو ته په سوله او ارامۍ کې دژوندتیرولو حکم کوي .

اسلام یواځې په هغه وخت کې خپلوپیروانو ته دجنګ جګړې او دسلاح داوچتولو حکم کوي چې ددوی حقوقو ترپښو لاندې کیږي او یا د دین فرایضو د اداء کول څخه ددوي مخنیو کیږیقرانکریم جنګ ته د یونا قبول شوي عمل په حیث ګوري مګر په عین حال کې جنګ یو ضروري عمل هم دی او داځکه چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) په جنګ ددوه اهدافو دترلاسه کول لپاره کولو چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو .

**لومړي : دتجاوز په مقابل کې دفاع :-**

لکه څرنګه چې تاریخ ګواه دی چې رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) په مکه مکرمه کې د ډیر تیري اوتجاوز لاندې وو حتی تردې پورې چې

آنحضرت (صلى الله عليه وسلم) يې ديته مجبوره کړ چې دمکې ځخه هجرت وکړي خپل کور کلي پريږدي او لاړشي.
خوکله چې يې مديني منوري ته هجرت وکړ هلته يې هم په ارامه پرينښوداو د نبی کريمﷺ او اصحابو کرامو رضي الله عنهم په اذيت او تکليف ورکولو يې شروع وکړه نو رسول الله ﷺ ديته مجبور شو چې دخپل ځان ځخه دفاع وکړي دتيري په مقابل کې دځان ځخه دفاع وکړي.

**دويم : داسلامي دعوت مخنيوی :**

ددويمې ډلې چې دهغې لهاملهپه اسلام کې جنګ جائز شويدی هغه د اسلامي دعوت مخنيوي دی يانې کله چې اسلامي دعوتګران ديته پري نښودل شو چې خلک د الله جل جلاله لوري ته راوبلينو پدې وخت کې جنګ جائز شويدي اومسلمانانو ته يې دهغي په مقابل کې دقتال (جهاد في سبيل الله) امر کړيدی
کله چې هر قتل خپلو پيروانو ته دادستور ورکړ چې په شام کې چې کوم مسلمانان دي هغه ووژني او دلته نور اسلامي دعوتګران پري نښودل شي چې خلک د اسلام لوري ته دعوت کړي کله چې نبی کريم ﷺ پدې پوه شو چې دهدايت دنور کومې کومې پلوشې چې په شام کې بلې شوی هغه هر قتل مړې کول غواړي نو نبی کريم ﷺ دابو بکر صديق رضي الله عنه اوعمر رضي الله عنه په مشوره دهغې دمقابلې لپاره يو لښکر د اسامه رضي الله عنه په مشري ورولیږه ترڅو دهغوی مقابله وکړي.
په حقيقت کې دمسلمانانو اوغير مسلمانانو ترمينځ په نړيوالو روابطو کې سوله ده مګر کله کله داسې موارد رامينځته شي چې هغه دجنګ جګړې باعث ګرځي لکه مخکې مو چې ورته اشاره وکړه.

داسلام فقهي اکثره مجتهديناوعلما پدې نظر دي چې دمسلمانانو اوغير مسلمانانو ترمينځ په نړيواله سطحه سوله ده مګر يو کم تعداد فقهاء اوعلماپدې نظر دي چې دهغوي چې سره په هر حال کې جنګ او جګړه کول رواء دي اودمسلمانانو او غير مسلمانانو ترمينځ سوله وجود نلري.

دا وه د نړيوالې سولې او امنيت په رابطه د اسلام دنظره معلومات چې نظرد نړۍ ټولو قوانينو اومعاهداتو ته مکمل او جامع وو.

## یوولسم څپرکی

## سیاست کړنلاره Policy

دا اصطلاح د پروګرام دنظر او سیاسي عمل په مانا ده په اساسي توګه په هره چاره کې دولتونه سازمانونه او اشخاص د ځانګړي آند پروګرام او عملي چلن درلودونکي وي چې همدا ځانګړی اند او یا پروګرام د کړنلارې او یا سیاست په نوم یادېږي.

د ویکیپیډیا وړیا دایرة المعارف پالیسي داسې تعریفوي:پالیسي داساسي خواصو ښوونکي په توګه هغه پرنسیپ او قاعده ده چې د تصامیمو رهنمایي کوي او معقول نتیاج منځ ته راوړي.

Glyn Davis اوPeter Brigdgman, Catherine Althaus وايي چې پالیسي دحکومت دهوډبیانیې ته وایي او د پالیسي د آلاتو په استعمال سره تطبیق کیږي.

### تاثیرات Impacts

۱ ارادي تاثیرات IntendedEffects

د پالیسي ارادي تاثیرات په مطآبق دسازمان سره د هر فرق لري او د سازمان متن سره هم فرق لري کوم چې هغوی طرح کړي اوسي.په پراخه ډول پالیسي د دې لپاره جوړېږي چې د منفي تاثیراتو مخنیوی وشي کوم چې په سازمان کښنظر لاندې نیول شوی وياویا د دې لپاره چې مثبتې برياوې تر لاسه شي.

۲ غیر ارادي تاثیرات Unintended effects

پالیسي کله کله چانبي اغیزې او غیر ارادي نتیاج لري ځکه چې پالیسي کومو محیطونو ته درسیدګي کوښښ کوي چې هغه تاثیر لاندې راولي اویا یې په مهارت سره اداره او سمبال کړي عموماً هغه مرکب ساز شي

سیستمونه وي لکه (حکومتونه، ټولنې او لوی شرکتونه). پالیسي کې تغیر راوستل د وجداني درک خلاف نتایج درلودلای شي.

**د مضمون او محتوا تحلیل Content analysis**

پالیسي د رسمي لیکلو سندونو په واسطه رسماً اعلامیږي. د پالیسي اسناد اکثره وخت د سازمان داجرایوي قدرت لخوا مضاء شوی او تصویب شوی وي په دې خاطر چې پالیسي قانوني شکل غوره کړي.

داسې اسناد اکثره معیاري شکل لري او په هغه ځانګړي سازمان کې چې جوړ شوی وي پورې اړه لري.

د پالیسي دا اشکال په ترییون کې هم فرق لري ، د پالیسي اسناد عموماً خاص عناصر لري چې په لاندې ډول ذکر شوي دي:

۱.د مقصود بیانیه (څرګندونه) **A purposestatement**

د مقصد څرګندونه دا مطرح کوي چې سازمان ولې پالیسي صادروي او دپالیسي مطلوب تاثیر او نتیجه به څه وي.

۲.د کاریدنې وړتیا او مصداق **An applicability and scope**

د کاریدنې وړتیا او مصداق بیانیه دا څرګندونې چې پالیسي به څوک او کوم فعالیتونه متاثره کوي.

د کارېدنې وړتیا او مصداق کیدای شي په ښکاره ډول خاص خلک تنظیموي او فعالیتونه د پالیسي د اړتیا او خه ځنګ ته کړي. د کارېدنې وړتیا او مصداق فقط د پالیسي مطلوب اهداف په نظر کې نیسي او د غیر ارادي نتایجو مخنیوی کوي.

۳.داجراء کیدو نیټه او څرګندوي چې پالیسي کله تر کار لاندې راځي.

۴:مسؤلیتونه Responsibilities

دا څرګندوي چې کوم ګوندونه او سازمانونه د دې مسؤلدی چې د پالیسي ځانګړې څرګندونې تر سره کړي.زیاتره پالیسیو ته دا اړتیا ده چې جاري عمل یا کار تاسیس کړي.مسؤلیتونو کې عموماً د مربوطه نظارتیپیژندګلوینه اود حکومتداري ساختمان موجود وي.

**۵: د پالیسي بیانیې Policy Statements**

دا په اصل کې د پالیسي جوړونې مشخص قواعد و مقررات اړتیاوې یا بدلونونه د سازماني طرز په وړاندې څرګندوي او دپالیسي بیانیې بې شانې متعدې ویاوپه سازمان او هوډ باندې متکي ویاو تقریباً هر شکل نیولی شي.

ځنې پالیسیو کې اضافي مواد موجود وي چې په لاندې ډول دي .

۶:پس منظر.یا سابقه Background

دا هغه سببونه ،سابقه او هوډ څرګندوي کوم چې د پالیسی د جوړېدو لامل کیږي او دا ټول د انګیزه یې عواملو په لست کې نیول کیږي. دا ټول معلومات هغه وخت د ډېر ارزښت وړ تمامیږي چې پالیسي ارزیابي کیږي اوهم یا په مهم حالاتوکې استعمالیږي،بالکل لکه دقانون هوډ چې د قضاء لپاره ضروري وي کله چې دیوې قضیې پرېکړه کوي کومکې چې قانون خپلوي.

**۷: تعریفونه : Definitions**

دا د پالیسی په اسنادوکې موجود و اصطلاحاتو او نظریاتو لپاره واضحاو روښانه تعریفونه تیاروي.

پالیسي جوړونکی Policy Maker

پالیسي جوړونکې په هغه سازمان او یا شخص اطلاق کوي چې هم سیاست طرحه کولو کې ګډون لري او هم د هغې په پلي کولو کې ونډه لري.

پالیسي جوړونکی هغه چاته وایي چې پلان جوړوي چې د حکومت یا شرکت لخوا تعقیب کیږي. پالسي جوړونکي اکثره د غلط علت لپاره درست تصمیم نیسي.

یا هغه شص ته ویل کیږي چې اندونه او کارونه یې په کلکه سره د ښه پرمختګ باندې تاثیر ښندي.

د پالیسي جوړونکو لپار لارښود Guidance for policymakers

د فکر له مخې پالیسي جوړونکي د مهمو پرنیسپونو لخوا رهبري کیږي.

د بېلګه په ډول لکه چې په لاندې ډول ذکر شوی دی:

سیاستوال او دولتي کارکوونکي عام وګړو ته مسؤل او ځواب ورکوونکي دي

نخبګانپه سیاسي او خصوصي برخه کې دا حق نه لري چې بغیر د اجبار د هغوی حقوق تعقیب کړي.

د حکومت بیوروکراتیکاو د تصامیمو عملیې باید ځرګنده ،شفاف د لاس رسي وي او هم عامه مسالو اوچاروته باید ځوابورکوونکي اوسي.

هغه ټولنې او افراد چې د پروژو او طرحو نه متاثره شوي وي د دې حق لري چې د پیشنهاد شوو انکشافاتو د طرحو او پروژو د ضرورت او تصویر په هکله د پلانګذاري او تصمیم نیونېعملیو په هکله معلومات ولري.

پالیسي جوړونکي د بین المللي عرف وعادات قوانین بین المللي روابط د دیپلوماسي نړیوالوسازمانونو د هېوادونو قوانینو او هرهغه نوروقواعد او

مقرراتو سره بلد اوسي چې په آسانه سره پالیسي جوړونکی وکولای شي چې پالیسي طرح کړي.
د پالیسي دوران بیانولو ضرورت ځکه پیښ شو چې دا یوه ګټوره اومفیده ځکهده چې نظم رامنځته کوي او د موضوع د حل کولو یولړ قوتونه لري.
د پالیسي دوران په دې تائید کوي او دې ته لاس رسي کوي چې حکومت یوه عملیه ده نه چې د مقتداسازمانونو مجموعه دا دوران د نظریو او منابعو فعالیت او تحریک ،د پالیسي جوړونې تکرر او یو بهیر چې په یو تصمیم نه ختمیږي خو د تطبیق او ارزیابي په واسطه یې پرمخ بیایي رامنځ ته کوي.
دا مرکبې پدیدې د سمون وړ مرحلو کې سره بیلوي او مونږ ته وخت راکوي چې مختلفو مسایلو او د دوراندهرې مرحلې ضرورتونو ته متوجه شو.
د پالیسي دوران د داخلي او خارجي پالیسي په هکله د موجود علم ترکیب رعایتوي.
دوراني لاس رسي د دې تصدیق کوي چې پالیسي منظمه اوسي او د عملیې سیلان پیژندنه آسانه کوي.
دا د پالسي جوړونې د تشریح وظیفه سرته رسوي،چې یو په دې پوه شي چې د پالیسي انکشاف ماضي او آینده څه ده ؟

**د پالیسي جوړونې د دوران برخې**

د پالیسي جوړونې د دوران اته اساسي برخې دي چې په لاندې ډول دي:

- مسئله پیژندنه ( Idenfying issue)
- د پالیسي تجزیه او تحلیل (Policy analysis )
- د پالیسي آلات( Policy Instruments)
- سلا مشوره ( Consultation )

- همغږي( Coordination)
- تصميم نيونه(Decision)
- تطبيق( Implementation )
- ارزيابي (Evaluation )

پالسي د لاندينيو موضوعاتو استباط لري:

- واک Authority
- تجربه او ازمينښت کوي (Expertise)
- نظم او ترتيب ورکول(Order)

**ژمن يا مسؤل حکومت ( Responsible Government )**

د يوې موثرې پاليسي د طرح کولو لپاره ضروري دهچې لومړی بايد د يو مسؤل حکومت پيژندنه ضروري ده .په دستوري ډول يوژمن حکومت د لاندې درې فعاليتونو څخه څرګند ېږي.

**مقننه قوه( Legislative )**

د دې دنده د قوانينو جوړول، نوي کول او منسوخولاو په پخوانيو قوانينو کې سمون او اصلاح راوستل دي.دا دپارلمان لخوا په عمل کېپياده کيږي.

**اجرائيه قوه(Executive )**

اجرائيهقوه تصاميم او قوانين پلي کوي د هېواد دچارو اداره کول او دکورنياو بهرني سياسيت پلي کول يې په غاړه وي دا کارونه د دولتي ادارو وزيرانو رياستونو اوقانوني چارواکو لخوا تطبيق کيږي.

**قضائيه قوه ( Judicial )**

د دې دنده په خاصو قضياؤ کې د قانون عملي کول او تعبيرول دي.

دا وظیفه محاکمو پورې اړه لري.
په دې درې واړو کې دا جرائیه قوې څخه بحث کوو چې په دې کې وزیران شامل دي چې د حکومتي سازمانونو دپالیسي رهنمایي کوي او دهغوی نظارت هم تر سره کوي چې کابینه د (Patrick weller )(۳۳: ۱۹۹۰ )په قول شپږ بنیادي دندې تر سره کوي.

**کابینه دځرګندوالي کمیسیون Cabinet as a Clearing house**

د حکومت نورفعالتونه یعنې کمیسونونه سره ملاقات کوي او دیو کار لپاره یوې موافقې ته رسیږي چې د دې لپاره تصویب ته اړتیا ده کابینه د دې کارونو لپاره صفاییوړاندې کوي.
د کابینه په موادو کې موجوده مسئله وزیران په دې اګاه کوي چې دا کار د کوچني کمیسیون لخوا تر سره شوي او یوواکدارهتصمیم ته اړتیا لري.

**کابینه دمعلومات تبادله Cabinet as an information exchange**

حکومت ډېر مرکب وي او وزیراند وزارت مقام اووظیفه په نظر کې نیولو سره د حکومت مشکلات په نظر کې نیسي او نیز مجلسونه چې وزیران یې دایروي د هغوی لپاره دمشکلاتو واضح عکسمخې ته راوړي اوهغوی په دې پوهیږي چې نورد کار ملګري یې څه کوي.

**کابینه د قاضي یا منځګړیپه توګه Cabinet as arbiter**

کله چې د حکومت سازمانونه ناخوښوالی ځرګندوي کابینه دهغوی لپاره دمشکلاتو دحل په خاطر یوتربیون وړاندې کوي.
کومې ذرایع او د ړومبي توب کارونه چې حکومت تر سره کویپه هغې کشمکشونه موجود وي چې کابینه په کې منځګړتوب کوي.

دا منځګړتوب هغه وخت ډېر مؤثر وي کله چې د سالانه بودیجې پروسه روانه وي او حکومتي سازمانونو ترمنځ د محدودو ذرایعو د استعمال پر سر سیالي روانې وي.

**کابینه دسیاسي تصمیم نیوونکي په توګه Cabinet as political decision maker**

زیاتره وړاندیزونه چې د دولتي کارمندانو لخوا لیکل شوي وي د وزیرانو لخوا امضا کېږي. کابینه باید دپالیسي په پیشنهاد (Proposal) نظر ولري د دې پخاطر چې د یو کار منتخبه نتایج معلوم شي.

**کابینه دهمغږي په توګه Cabinet as coordinator**

کله چې د دولتي سازمانونو مسؤلیتونه یو پربل تیرېږي پالیسیانېد کاري نوښت څخه انکار کوي چې په حکومت کې را پورته کېږي کابینه یوازینې سازمان دی چې د پالیسي د همغږي د اطمینانلپاره یوه عمومي نښتې رهنما په حکومت باندې واردوي.

**کابینه دنخچې د ساتندوی په توګه Cabinet as guardian of strategy**

حکومت ته په کار ده چې خپل عمومي موضوع ګانې او اهداف په خپل دفتر کې ځای پرځای وساتي دې سره وزیران په یووزارتي پس منظر کې رانغاړي او په نژدې سره ټولېموضوع ګانې او د پالیسي مسایلکتلی شي کابینه یو تر بیون دی چې مشخص او عمومي ټول سهرمساوي ساتیاو وزیران دې ته تشویقوي چې حکومت ته به طور کل د یوه لید ګوټ څخه وګوري.

**د حکومت د وظیفې نقشه A functional map of Government**

وظیفوي لاس رسي د مراتبو دسلسلې یو لړ رامنځته کویاو حکومت د درې نسجو دندوله مخې پاملرنې لاندې نیسي.

**سیاست Politics**

په کارونو او چارو کې د موجوده وسایلو په مرسته دیو مشخصهدف لپاره په پوهې او تدبیر سره چلیدل دي چې په دې سیاست فقط یو واحد ګوند کړنلارې نه پیاده کیږي .سیلست حکومت د خلکو د ارایه په واسطه برقرار ساتي چې د دې لپاره اند او فلسفه ضروري او ریښتین پالیز سیاست دی چې د حکومت تصامیم د ښو نتایجو لاستهراوړلو لپاره نفوذ لاندې راولي.

**پالیسي Policy**

د یو حکومت کامیابي او ناکامي دواړهپه پالیسي باندې انحصار کوي. نو په کار ده چې پالیسي داسې کړنې تر سره کړي چې ناکامیر امنځته نه شي او دپالیسي مواد باید په کافي او موثره اندازهتر کتنې لاندې ونیول شي حکومت باید پالیسي ته انکشاف ورکړي او هم یې نظارت وکړي.

**اداره Administration**

پالیسي هیڅ مفهومنه لري که چېرې تطبیق نه شي.د دې نه دا مانا ده چې دولتي مامورین او کارکوونکي باید دیانتدار او ریښتیني اوسي.وزیران موثري باکفایته او دیانت دارهاداره لپارهباید مسؤل وي او هر سوالته باید خپل د وزارت دمقام له حیثه ځوابورکړي.

**د پالیسي دوران A policy cycle**

د پالیسي د بیانولو بهیرونه تقریباً د درې مراحلو څخه تیریږي چې هلته د پالیسي اند ته انکشاف ورکول کیږي ،عمل پرې کیږي او نتیجه یې کتل کیږي.دا مراحل په رسمي ډول داسې ښودلای شو.

تمثل ideation

تحقق Realization

ارزیابي Evaluation

او په کم رسمي دول داسې ښودلای شو
فکر کول Thinking
عمل کول Doing
امتحانول Testing

**د پالیسي ځانګړتیاوې Characteristicsof Policy**

دوه مهمې پالیسیانېیعنېداخلي او خارجي پالیسي په نظر کې نیولو سره مونږ د پالیسي لاندې خواص بیانوو:

پالیسي:

۱: ارادي اوسي ، او د دې لپاره طرح شوي وي چې یو څرګند شوی هدف تر سره کړي.

۲: نتایج لري چې د تصامیمو په بنیاد ولاړ وي.

۳: منتظمه وي.

۴: فطرتاً سیاسي وي.

۵: خغاسته یا متحرکه وي.

۶: د یوهېواد د ملي ګټو ساتندوی وي.

۷: د نړیوالو اړیکو په واسطه په نړیواله کچه تولید ګرې کوي چې هېوادونه یو د بل سره متقابل راوابط لاپیاوړي کړي.

**۱ : مسئله پېژندنه identifying issue**

د سیاست مفصل پړېن د دولت د بطن څخه راپورته کیږي.

د سیاست، پالیسي او ادراي ساحې یو بل سره تعامل کوي اود حکومت لپاره کارید پلان مواد رامنځته کوي. د لارو چارو د مرام کولو مسئولیت ور په غاړه کوي او د وزیرانو دشورا لپاره دپروګرام تنظیم او کاري مهالویش رامنځته کوي چې ورته پاملرنه وشي اوتطبیق شي.

مسائل دمراجعینو د مدافع ډلو دناوړین یا بحران اویادرسنیو دکره کتنې له کبله رامنځ ته کیږي پالیسي « د مسئلې د محرقه قواو» ( Issue Drivers)چې دا خارجي او داخلي عوامل دي چې موضوعاتداحل لپاره وړاندې کوي.

د سیاسي محرقه قواو بېلګې په لاندې ډول دي:

- د ګوند سیاسي تریبون
- دحکومت تیرې مهمې کارنامې
- وزارتي اوحکومتي تغیرات
- وزیرانډ پالیسي د دورانواکمنان اوماهرین دي او د دې پرېکړه کوي چې یوه موضوعتر کومه اندازه توجه لاندې نیول شوی.
- د پالیسید کاري پلان مواد مشکلاتو یو لست دی چې دحکومت چارواکي اودحکومت څخه بیرون خلکوپورې اړه لري.
- (Kingdon)پیشنهاد کوي چې ځنې خاصحالات دي چې د حکومت توجهمشکلاتو تهرا اړوي اوپه لاندې ډول دي.
- په موجوده پروګرامونو کې موجوده مشکلات د نوو مشکلاتو څخه د ترجیح وړ دی.
- سیاست مداران هغه مسائلوته ور وړاندې کیږي چېډېر د ارزښت وړوي.
- هغه مشکلات چې دهېواد نورو برخو اونورو هېوادونو سره ناخوښې رامنځته ته کوي زیات د پاملرنې وړ دي.
- یو مشکل دیو مهم قانوني پرنسیپ سره تړل شاید نوي د لچسپي هم رامنځ ته کړي.

وزیران هغه نړۍ نشي ادراه کولی چې په حکومت کې د بیروني خوا نه لاس او ښې وهیدلته قوي خارجي قوتونهشته چې د کار مواد تشکیلوي او د بې ډپله توجه مطالبه کوي.داقواوې د پالیسي عکسل العملونه محدود وي، کوم چې د حکومت پر وړاندې موجود وي.د خارجي محرقهقواو بېلګې په لاندې ډول دي.

اقتصادي قـواوې : ((لکـه د روزګـار کچـه ،د تجـارت او کاروبـار مواقعـد مشترکه بازارنوسان

د مطبوعاتو او رسنیو توجه

قانوني بدلون( لکهد مهاجرینو راستنېدنه،دحقوق بشر د مسئلو لپاره دیپلوماتیک هیئت )دهېوادونو ترمنځ جګړې)

تخنیکـــــي انکـــــشاف ( لکـــــه د internet اســـــتعمالول د مختلفوکاروبارونولپاره.؛

دیموګرافیک بدلونونه ( د نفوذ زیاتوالی او دحکومت څخه مطالباتو کې زیاتوالی چې هغوی خدمات زیات کړي.

**مسئله پیژندل Identifying issue**

اوس دې ته راځو چې یوه مسئله څرنګه پیژندل کیږي. د مسئلې د پیژندل ډېر مراحل دي خو د پالیسي د کاري مواد برابرولو لپاره چې حکومت وکولای شي چې تر نظر لاندې یې ونسي نو بیا یوه مسئله د څلوروحالاتو سره مخامخشي:

**د یومشکل لپاره موافق(Agreement on a problem)**

مشکل هغه وخت وجود درلودلای شي کله چې مهم اشخاصپه دې موافقه وکړي چې فعلي حالت د قبولیدو وړ نه د ي.اکثره مسئلې چې حکومتته وړاندې کیږي ملا تړې نه لري.

دې لپاره د حکومت نه بیرون او په داخل کې ائتلاف او یو غږ ته اړتیا وې ترڅو یوشکل په شکلي ډول وپیژندل شي اوهغه ته یو حل پیدا شي.

**حل ته کتنه (ایسید نه)(** The prospect of a solution)

یومشکل په توافق رسیدو پرته هم پالیسي جوړونکي هغه مسائلوته ترجیح ورکوي کوم چې د منني او باور وړ حلونه ولري. د ځنې نه ایلیدونکي مشکلاتومخه نه شي نیول کیدای خو دا اسانه کار دی چې موضوع کابینې ته راجع چېرته چې مشکل پهاسانۍ سره حل کیدلی شي.د هر کم سیاستمدارانهغه مسائلوته ور وړاندې کیږي چې د ناکامي زیری ورکوي.

**یوه مناسبه مسئله** (An appropriate issue)

کله چې پالیسي جوړونکي موافقه وکړي چې مسئله قرار لري یا حل کیدلای شي، نو په دې وخت کې سیاسي پاملرنې هم د حل برخه ګرځي. هغه مصارف چې په موجود شکل تر سره کیږي د بل مشکل لپاره نه دی او کابینه باید د مسئلې په حل کې مصارف او وخت په نظر کې ونیسي او په مشخصې مسئلې باندې په صرف ورسوي.

مشکل د چا لپاره دی ؟ A problem for whom?

د واکداره او حکومت کوونکي ګوند اندي شکل په وزیرانو باندې تاثیر ښندلیشي چې هغوی کولای شي چې په کلي ډول مسئله حل کړي.دلته د واک مسئله مطرح بحث ده چېحکومت کوونکی حزب مشکل چاته راجع کوي.

**د مسئلې پیژندنې مهارتونه** Issue identification skills

- سیستماتیک نظارت
- شبکې جوړونه
- د مسئلې شعوري نظارت

- د لوړو چارواکو سره جاري شوری ساتل
- رسنیو او انتشاراتو نظارت
- بین السازماني ( دمعلوماتو تبادله)
- د مسئلې ثبت

**۲: د پالیسي تجزیه او تحلیل Policy analysis**

د مرکبو مسالو لپاره ښه تصمیم نیوونښته د تجز یې او تحلیل اړتیا ده.دا د پالیسي د دوران بنیادي مرحله ده .دتصمیم نیونې او د فعالیتونو د لارو چارودانکشاف لپاره بنیاد تحقیق او منطق دی. د پالیسي دمشکل تجزیه اوتحلیل د دې لپاره تر سره کیږي چې مشکل درک کړای شي او د مسایلو سره د مخامخ کیدلو لپاره لارې پیدا کړای شي د حکومت د عمل تجزیه اوتحلیلدی لپاره طرحه کیږي چې د دې حکومت په وړاندې پرتې پالیسي تشخیص کړای شي.

له دې نه مخکې چې مونږ تحلیلتشریح کړو لومړی داخلي او خارجي پالیسي تعریفوو:

**داخلي پالیسي (Public Policy)**

داخلي سیاست دهغه کړنلارې یا طرز العمل څخه عبارت دی چې دولتونه یې دخپلو سرحداتو او قلمرو په داخل کې سرته رسوي اویا یې عملي کوي.د داخلي سیسات نه مقصد د دولت ترقي او پرمختګ وي چې مونږ دداخلي سیاست یا پالیسي هدف او مقصد په لاند ټکو کې بیانولی شو.

- د ژوند کولو دمعیار لوړوالی
- دخپلووګړو د اساسي او بنیادي حقوقو تحفظ او ساتنه.
- پوهنې ته انکشاف ورکول
- اجتماعي او ټولنیز عدل اوانصاف.

- د خپلو افرادو لپاره اصلاحي او پرمختيايي پروګرامونه جوړول
- د شغل او صنعت پرمختګ
- د لږکيو د حقوقو ساتنه او رعايت
- منصفانه اقتصادي نظام
- په خپلو ؛ګړو کې د حب الوطني د جذبې احساس پيدا کول.
- د حکومت د فعاليتونو شروع او پايلې ارزيابي کول.
- د حکومتي سياست تحقق کول.

**بهرنۍ پاليسي (Foreign Policy)**

خارجي پاليسي عبارت دی د يو دولت له سياست څخه د نورو دولتونو يا خلکو د عمل دغبرګون په وړاندې خارجي پاليسي د هر هېواد د کورنۍ سياست په ځانګړې توګه د ټولنيز اقتصادي او فرهنګي نظام تابع دی خارجي پاليسي د نړيوال سياست يوه فرعي برخه شميرل کيږي يا په بل عبارت :

دولتونه دخپلو تاريخي او کلتوري واقعاتو په نظر کې نيولو سره خپل خارجي سياست تاکيچې دهغې مقصد او هدف د ملت مضبوطوالی او دولت منظم کول دي خارجي پاليسي دځانګړو ملي ګټو د تر لاسه ولو لپاره دنورو دولتونو سره يو ځای د روابطو دجوړېدو لپاره مدد ګار ثابتيږي بلکه د دواړو دولتونو د وګړو يا افرادو د فلاحاو بهبود لپاره اسانتياوې برابروي چې مونږ خارجه پاليسيپه لاندې توګه تعريفولی شو.

دولتونه چې په مخصوص اوځانګړي حالاتو کې د خپلو ملي ګټواو منافعو دلاسته راوړلو لپاره دنورو دولتونوسره د روابطو جوړېدو پخاطر کوم طرز العمل يا کړنلاره غوره کوي د دولت د خارجه پاليسي څخه عبارت دی.

**د خارجه پالیسي تجزیه او تحلیل** **Foreign Policy analysis (FPA)**

د خارجه پالیسید عملیو او نتایجو د نظري تکامل او تجربوي مطالعې سره اړه لري.

د خارجه پالیسي تحلیل او تجزیه د دې بحث کوي چې یو دولت خارجه پالیسي څنګه جوړوي او دتصمیم نونې عملیه هم تحلیل کوي. (FPA)د بین المللي او داخلي سیاست دواړو څخه بحث کوي

(FPA)ته د بین المللي روابطو فرعي څانګه هم وویل کیږي. کومه چې دخارجه پالیسي په وړاندې موجود و عملیو تشخیص او پوهیدنګتر لاسه کوي دا د خارجه پالیسي دعملیېتاثیراتو علتونو او ظاهرېدنې مطالعه تر سره کوي.

**د تصمیم نیونې مراحل** **Stages in decision Making**

دخارجه پالیسي جوړونې کې یو شمیر مراحل دي چې په لاندې ډول سره یې بیانوو:

**۱: د بین المللي او کورنی سیاسي محیط براورد**

**Assessment of international and domestic political environment**

خارجه پالیسي د بین المللي او کورني سیاستپه ساحه کې جوړېږي او تطبیق کېږي او د دې پوهیدل د دولت لپاره ضروري ده څکه چې د خارجه پالیسي د غوره لارو چارو په هکله پرېکړه وکړي.

د بېلګه په ډول یو دولت ته کیدای شي ضرورت پیښشي چې یو بین المللي بحران ته ځواب ورکړي.

**۲:هدف ټاکنه Goal Setting**

یو دولت دخارجي پالیسي څو ګونې اهداف لري یو دولت باید پرېکړه وکړي چې کوم هدف د بین المللي او کورني سیاسي محیط په واسطه په هر وختکې متاثره کیږي له دې علاوه کیدای شي چې پهاهدافو کې مجادله وي خو دولت باید په دې کې غوره او ګټور هدف ته ترجیح وکړي.

**۳:د پالیسۍ د ارایه پرېکړه Determination of policy options**

بیا باید یو دولت پرېکړه وکړي چې کومې لارې چارې موجودې چې داهدافو سره سمون خوري او د سیاسي محیط په رڼا کې رامنځ ته شوي دي دا به د دولت د ظرفیت براورد د پالیسي دلارو د تطبیق او دپالیسي د اراؤ او لارو چارو پحقله رابرسیره کړي.

**۴:د رسمي تصمیم نیونې عمل Formal decision making action**

د یوې رسمي پالیسي تصمیم به په یوه سطح د حکومت په حدودو کې نیول کیږي د خارجه پالیسي تصامیم د حکومت د اجرائیوي څواک له خوا نیول کیږي.عام حکومتي سازمانونه او لوبغاړي کوم چې د خارجه پالیسۍ تصمیمنیسي په لاندې ډول دي:

**۱:ولسمشر President**

په جمهوري هېواد کې د اجرائیه څواک رئیس یا تر ټولو لوړ دولتي مقام د جمهور رئیس اختیارات په ټولو جمهوري هېوادونو کې یو شان نه دي په ځینو هېوادونو کې دجمهور رئیس اختیارات تر تشریفاتي کچې پورې محدود دي لکه په هند کې اوپه ځینو هېوادونوکې پراخ اختیارات لري لکه امریکا ـ

۲: صدراعظم Prime minister

هغه څوک چې د وزیرانو د کابینې د ریاست او د هېواد د چارو د اداره کولو مسؤلیت په غاړه لري او د اجرائیه خواک د رئیس په توګه د مقننه قوې او د استازو د اعتماد د رایو په نتیجه کې منځته راځي.

۳: وزیر Minister

د لوړ منصب خاوند او د اجرائیه قوې غړی چې د عمومي چارو د یوې برخې ریاست په غاړه لري وزیر د یو وزارت په سر کې قرار لري

**۴: کابینه یا د وزیرانو شورا Cabinet**

د حکومت د وزیرانو ډله چې په سر کې یې ولسمشر او یا لومړی وزیر وي د کابینې څرنګوالی په مختلفو هېوادو کې یو تر بله سره توپیر لري.

**۵: د پالیسي د منتخبه لارو چارو تطبیق Implementation of chosen Policy options**

کله چې د خارجي پالیسۍ لارې چارې انتخاب شي او رسمي تصمیم نیول شوي وي بیا باید پالیسي تطبیق شي.

خارجه پالیسي زیاتره وخت د خارجه پالیسي متخصصاداري ماشین لخوا تطبیق کیږي چې په لاندې ډول دي:

**د بهرنیو چارو وزارت State Department or ministry of foreign affairs**

هر دولت د خپل هېواد د چارو د اداره کولو لپاره په خپلو تشکیلاتو کې یوه برخه له نورو هېوادونو سره د بهرنیو اړیکو د اداره کولو لپاره ځانګړې کوي نژدې په ټولو هېوادونو کې د غه اداري واحد د بهرنیو چارو د وزارت په نوم یادېږي له نورو هېوادونو سره خبرې او غونډې ترونونه ژمنې او په نورو هېوادونو کې د خپلو اتباعو ملاتړ او خوندي ساتنه له دولتونو سره د لیک تبادله د ډیپلوماتانو لیږل او منل د دې وزارت د ندو څخه شمېرل کیږي.

## ماخذونه


۱. Social problems : - A down –to-Earth Approach James M.Henslin , Prof- Emeritus Department of sociology South llanios university, Edwardsville (۲۰۱۰)

۲. Microbiology. پوهاند دوست محمد خان دوست

۳. Dictionary of sociology, Nicholas Abercombie, Stephan Hill, Bryan S. Turner. (۲۰۰۷)

۴. محمد نادر ایوبی ، سیاسي نظریات ،۲۰۰۹

۵. محمد نادر ایوبی ، فلسفه۲۰۰۶

۶. محمد ابوزهره ، روابط بین المللی دراسلام۱۳۸۵

۷. Internet , Encyclopedia Britanica

۸. Internet , Wikipedia free encyclopedia

۹. Internet free encyclopedia

۱۰. Dynamics of diplomacy , Jean Robert Leguey Feilleux. ۲۰۱۰

۱۱. The Australian policy HandbookCatherine Althaus, Peter Bridgman, Glen Davis ۲۰۰۷

۱۲. Globalization , UTAS, Malcolm Waters, ۲۰۰۱

۱۳. ډاکتر عبدالمجید بهیج، سیاسي قاموس۱۹۸۴

۱۴. International law and politics. Key documents sherley V. Scott. ۲۰۰۸

۱۵. Diplomacy in ancient Greece ,Thomes and Hudson ۱۹۷۵

۱۶. and Mediation in international Relations Bercovitch Rubin ۱۹۹۲

The work of policy, an international survey lanham! ۱۷
Lexington , ۲۰۰۵
Islam And terrorism , Dr. Zakir Naik ۱۳۸۸.۱۸
۱۹.بین الاقوامي تعلقات.S. M shahid
۲۰.علامه یوسف (قرضاوي) اسلام او نړیوال کیدل
The international relations dictionary, ۴th edition Jack.۲۱
C. Plano, Roy Olthon. (۱۹۸۲)
۲۲.شاهدمختار ، سقراط۱۳۸۹
۲۳.پوهنمل منګل شیرزاد د نړی سیاسي مسایل لیکچر نوټ
۲۴.پوهیالی نصیرت نبی خانبین المللی روابط لکچرنوټ.
Internet , ww.ariaye.com.۲۵
Brookfield International Organizations and civil wars.۲۶
VT: Dartmouth ۱۹۹۵
Apractical Guide for policy and analysis New York:.۲۷
Chatham house , Barclach (۲۰۰۶-۲۰۰۷)